بُت‌شِکن

د فاتح سلطان محمود غزنوي رحمه الله په یاد کې

جوزا، 1405 هـ.ش - ذوالحجه، 1447 هـ.ق



لکه حاجیان؛

راځئ د شیطان ترڅنګ، شیطاني خواص او اشخاص هم په کاڼو وولو!

جاده ز خون رهروان تختهٔ لاله در بهار...

خیز و نقاب بر گشا پردگیان ساز را
نغمهٔ تازه یاد ده مرغ نوا طراز را

جاده ز خون رهروان تختهٔ لاله در بهار
ناز که راه میزند قافله نیاز را

دیدهٔ خوابناک او گر به چمن گشوده ئی
رخصت یک نظر بده نرگس نیم باز را

حرف نگفتهٔ شما بر لب کودکان رسید
از من بی زبان بگو خلوتیان راز را

سجدهٔ تو بر آورد از دل کافران خروش
ایکه دراز تر کنی پیش کسان نماز را

گرچه متاع عشق را عقل بهای کم نهد
من ندهم به تخت جم آه جگر گداز را

برهمنی به غزنوی گفت کرامتم نگر
تو که صنم شکسته ئی بنده شدی ایاز را

اقبال لاهوری، پیام مشرق، ۲۲۱



بسم الله الرحمن الرحيم

مهم موضوعات

زمونږ سره رابطه

ایمېل آدرس:

tamas@butshikan.com

ټلګرام رابطه:

tamas_butshikan

وېب سایټ:

butshikan.com

مونږ په ټولنیزو رسنیو وڅارئ:

ButShikan1404

اداري پلاوی

مسؤول مدیر:

حسن ابراهیم زی

غړي:

بشیر قریشي

مولوي سعد طارق

حافظ خالد سعید درانی

ډاکټر محمد طنین

اول ګل زاهد

لړلیک

لکه حاجیان؛

راځئ د شیطان ترڅنګ، شیطاني خواص او اشخاص هم په کاڼو وولو!

د حق او باطل له معرکې پرته نورې ټولې شخړې او جګړې ډېرې وروسته شروع شوې دي، یوازینۍ هغه معرکه چې حتی دنیا ته د انسان له را ښکته کېدو مخکې پیل شوې ده، د حق او باطل تر منځ معرکه ده. هغه وخت چې شیطان تکبر وکړ او د الله تعالی په واسطه ورټل شو نو د باطل سنګر یې جوړ او په هره ممکنه لاره یې د انسان سره دښمنۍ ته مخه کړه. الله تعالی هم خپلو بنده ګانو ته خپل دغه ابدي دښمن ور وپېژانده، له هغه سره یې د دښمنۍ توصیه ورته وکړه، د خپل نصرت وعده او د ملګرتیا ډاډ یې ورکړ.

د رحمت له دره شړل شوی شیطان له آسمانونو بند کړل شوی دی، په دنیا کې هم ورته د هر مسلمان کور سنګر او د هر مؤمن نفس ورته زندان دی!

د ذوالحجې میاشت په شیطان او شیطان صفته کسانو باندې لا زیاته سخته وي، ځکه په دې میاشت کې د حج فریضه اداء کیږي. حج هم لکه د جهاد سنګر داسې خصوصیات لري او دواړه یو له بل سره ډېر ورته والي لري، له خپل کور او کلي څخه مسافر کېدل، د خپل مال مصرفول، ستړیاوې او تکلیفونه ګالل او په لسګونه نور ورته والي شته، نو ځکه خو په یو حدیث شریف کې چې ابن ماجه او أحمد روایت دی کړی دی، راځي چې زمونږ ګران پیغمبر صلی الله علیه وسلم زموږ مور حضرت عایشې رضي الله عنها ته وفرمایل چې د ښځو لپاره داسې جهاد دی چې په هغه کې قتال نشته او هغه حج او عمره دي.

څرنګه چې ټول پوهیږو چې د مسلمان امت په زرګونو کسان د کفر او فتنې د دفع لپاره په سنګرونو او د جهاد په ګرمو میدانونو کې شپې او ورځې تیروي، همدا شان په میلیونونو مسلمانان د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د حج د مبارکې فریضې د اداء کولو لپاره د حجاز په لور سفر کوي، اجر او ثوابونه ترلاسه کوي او د خپل نفس او شیطان، کفر او فتنو په وړاندې له خپل ځان او امت څخه دفاع کوي، نو موږ ته هم لازمه ده چې نه یوازې دوی ته دعاوې وکړو، مرستې ورسره وکړو او په کورنیو یې پام وکړو، بلکې تر ټولو مهمه دا چې د دوی څخه د پاتې خلکو، کورنیو، افرادو او تر ټولو مهم دا چې د خپل ځان اصلاح ته ځانګړې توجه وکړو.

لکه څنګه چې د حج د لویې فریضې په شپو او ورځو کې په میلیونونه کسان د شیطان په طرف کاڼي ولي، مونږ ته هم لازمه ده چې د شیطانانو، شیطاني خواصو (خویونو او عادتونو) او اشخاصو پر وړاندې کاڼي وار کړو، دوی ورټو، ذلیله یې کړو او خپله ټولنه ترې وساتو. په دې لاره کې باید چې له هېڅ ډول قربانۍ څخه شاته نشو او څنګه چې په سنګرونو کې ناست مجاهدین قرباني ورکوي مونږ هم باید چې هماغه ډول قرباني ورکړو.

په یقین سره ویلای شو چې صهیونیزم د دې وخت تر ټولو ستر شیطان دی، اسرائیل د دې شیطان ځاله او امریکا یې تر ټولو لویه ملاتړ کوونکې او ساتونکې ده، نو باید اسلامي امت ورته متوجې او تر ټولو وړاندې د دې ستر شر او شیطان پر وړاندې سنګر جوړ کړي. نه یوازې صهیونیزم بلکې نورو ډېرو بدو صفاتو هم زمونږ د اسلامي ټولنې په لوري هجوم راوړی دی، د هر مسلمان وجیبه جوړیږي څو پر وړاندې یې راپورته شي.

د دې بدو صفاتو څخه ځینې خو یې ډېر زیات عام شوي هم دي، د مثال په ډول کولای شو چې د بې حجابۍ، چل، دوکې، ناحق قتلونو، دښمنیو، حسد، غیبت، دوه مخۍ، غلاوو، د مسلمان ورور له ملاتړ شاته کیدو او نورو په سلګونو هغه بدو، ناخوښو، ناروا او رذیله صفاتو او اعمالو ته اشاره وکړو چې زمونږ په ټولنه کې یې هره ورځ وینو. نو باید چې د دې هرڅه په وړاندې راپورته شو، په ټولنه کې یې بد معرفي کړو او هغه کسان چې دا ډول او دې ته ورته نور ناروا کارونه کوي، هماغه ډول په کاڼو وولو لکه څنګه چې شیطان په کاڼو ویشتل کیږي، او په هماغه ډول یې پر وړاندې سنګر جوړ کړو لکه مجاهدین چې سنګر جوړوي.

په آخر کې له الله تعالی څخه هیله لرو چې مونږ ټولو ته د خپل دین د خدمت توفیق راکړي. آمین یا رب العالمین!



پر عمل د دوام برکتونه

حضرت مفتي پير سيد مختارالدين شاه نوّر الله مرقده

نحمده و نصلی علی رسوله الکريم اما بعد:

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د يوه حديث مفهوم دی:

«ښه عمل هغه دی، چې دوام ورباندې وشي.»

دا مضمون نبي کريم صلی الله عليه وسلم په بېلابېلو طريقو او مختلفو اندازونو بيان کړی دی. کله يې فرمايل:

«إِنَّ أَحَبَّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللّٰهِ أَدْوَمُهَا وَإِنْ قَل[1]»

کله يې فرمايل: «خير الأُمُور أدومها[2]»

کله يې فرمايل: «خير الأعمال ما ديم عليها[3]»

همدا راز څو ځايه موږ ته نبي کريم صلی الله عليه وسلم دا ترغيب راکړی دی، چې کوم اعمال موږ کوو، نو دائمي يې وکړو. (داسې نه چې کله يې وکړو او کله يې نه وکړو، بلکې هره ورځ يې په پابندي سره وکړو.)

پر ځينو اعمالو د نبي ﷺ د دوام نه کولو حکمت

نبي کريم ﷺ ځينې اعمال په خپله په دوام سره نه دي ترسره کړي، د دې لوی سبب دا دی چې که چېرې نبي کريم ﷺ پر دغو اعمالو دوام کړی وای، نو دا به د امت لپاره يو قانون ګرځېدلی وای، چې پر هغه عمل کول به پر امت واجب شوي وای او له دې سره به پر امت مشقت راغلی وای. له همدې امله نبي کريم ﷺ درې ورځې تراويح ادا کړې دي او امت ته يې دا ترغيب ورکړی دی، چې دا د کولو شی دي، خو پخپله يې مداومت نه دی ورباندې کړی. ځکه هغه صلی الله عليه وسلم امت له سختي څخه ژغوری، چې هسې نه دا عمل پر امت واجب شي. همدارنګه ډېر داسې اعمال دي چې نبي کريم ﷺ يو ځل ترسره کړي دي او امت ته يې دا ترغيب ورکړی چې دا د کولو کارونه دي، خو خپله يې پر هغو دوام نه دی کړی، ځکه چې نبي کريم ﷺ غوښتل امت له سختۍ او مشقت څخه وساتي، تر څو دا اعمال پر امت واجب نه شي.

نو له دې څخه دا نتيجه اخيستل نه دي پکار چې ګواکې پر يو عمل د نبي ﷺ دوام نه دی ثابت، نو پر هغه عمل دوام کول ښه کار نه دی. (دا نتيجه اخيستل غلط دي)، ځکه که نبي کريم ﷺ پر دغو اعمالو هم دوام کړی وای، نو دا ټول اعمال به پر امت واجب شوي وای.

پر عمل دوام کول ډېر ستر برکتونه لري.

(د حضرت والا دا بيان د سهار له لمانځه وروسته شوی و، ځکه چې په سهار کې عموما د خوب غلبه وي، نو کله چې حضرت والا ځينې ملګري ويده وليدل، نو په لوړ آواز يې وفرمايل: راويښ شئ! او

[1] اخرجه مسلم ج ١ صـ٢٦٦ کتاب صلوة المسافرين. باب فضيلة العمل الدائم. و بخاري ج ٢ صـ ٩٧٥ باب القصد والمداومة على العمل.

[2] اخرجه البخاري ج ٢ صـ ٩٥٧ باب القصد والمداومة على العمل (همدا راز په يوه بل روايت کې له حضرت عائشې رضی الله عنها څخه پوښتنه وشوه، چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم عمل څنګه و آيا تر کومو خاصو ورځو پورې مخصوص و؟ نو ويې فرمايل:«لا كان عمله ديمة وايكم يستطيع ما كان النبي صلى الله عليه وسلم يستطيع.»

[3] اخرجه اتحاف ج ٨ صـ٥٨٠

ورسره یې یو لطیفه هم بیان کړه، چې له امله یې مجلس خوشحاله شو او سستي له منځه ولاړه. لاندې هماغه لطیفه را نقل کېږي، چې د هغه وخت له حالاتو سره مناسب مزاح هم پکې شته، او یو مهم سبق هم پکې دی، چې عموما د کار په وخت کې ویده کېدونکي تاوان ویني. دا لطیفه غالبا د پښتو د یوه متل شالید دی، چې لنډ مطلب یې دا دی: ویدو خلکو ته نر کټې رسېږي.)[4]

لطیفه: «ویده خلکو ته نر کټې رسېږي»

دوې ښځې وې، دواړو یوه یوه مېښه لرله، او د الله شان دا و، چې دواړې مېښې د بچي زېږولو په حال کې وې. اوس د مېښو د خاوندانو ترمنځ دا دود دی چې ماده (ښځینه) تر نر کټي ډېره خوښوي، ځکه له مادې څخه نور بچیان هم کېږي او هم شیدې ورکوي. له همدې امله (د دې ګټو په نظر کې نیولو سره) کټې یعني ماده زیات خوښوي.

بهر حال له دغو دواړو ښځو څخه یوه ویده وه. د الله شان دا شو چې د هغې ویدې ښځې مېښې ماده یعني کټې وزېږوله او د هغې ویښې ښځې مېښې نر کټی وزېږاوه، ځکه چې د مېښو خاوندان ماده خوښوي، نو هغې ویښې ښځې ژر خپل نر کټی د ویدې ښځې د مېښې خواته کړ او کټې یعني ماد یې خپل ځان ته واړوله. کله چې سهار شو، ویده ښځه هم راویښه شوه. کله چې راپاڅېده، ویې کتل چې د هغې د مېښې ترڅنګ نر کټی ولاړ دی، یعنې نر بچی. هغه ډېره خواشینې شوه. نو هغې بلې ښځې ته ولاړه، ویې کتل چې له هغې سره ماده بچی ولاړ دی. په افسوس یې ورته وویل: «هې خورې! ستا خو کټې شوې ده، زما خو نر کټی دی!» نو هغې ښځې ورته وویل: «هو خورې! ویده خلکو ته نر کټی رسېږي.» (مطلب دا دی چې که هغه په هغه وخت کې ویده نه وای، نو ماده به یې ترلاسه کړې وای، ځکه د هغې مېښې خو ماده زېږولې وه، خو د ویده کېدو له امله یې تاوان وکړ او بلې ښځې چل ورسره وکړ، نو ویده کېدل په هر حال کې تاوان لري.)

بیا حضرت والا وفرمایل: خوب یوازې د آرام او تازه‌ګۍ لپاره وي، تر څو په عبادت کې قوت پیدا شي. خوب د خوب لپاره نه وي. په هر حال، پر عمل د دوام ډېر برکتونه دي.

پر عمل دوام کول نتیجې لري

پر عمل دوام کول پایلې لري. که کله عمل وي او کله نه وي، نو له هغه څخه نتیجه نه ترلاسه کېږي. ما خپل حالات حضرت شیخ(مراد قطب الاقطاب، ریحانة الدهر شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا مهاجر مدني نور الله مرقده دی) ته په لیک کې ولیکل. ما څو لیکونه حضرت ته استولي وو. ټول لیکونه ما هغه وخت ولیکل چې ما ته د (خلافت) اجازه راکړل شوې وه. له دې وړاندې ما لیک نه و لیکلی، ځکه حضرت شیخ ما ته ژر اجازه راکړې وه، نو د لومړي لیک موقعه نه وه برابره شوې.

حضرت به ما ته په وار وار د لیک په ځواب کې دا لیکل چې:

«د معمولاتو پر پابندۍ خوښي راته حاصله شوه او پر معمولاتو پابندي کول د پرمختګ زینه ده.»

ما بیا بیا غوښتنه هم وکړه چې نور ذکر راکړل شي. حضرت شیخ وفرمایل: نه، همدا بس دی (یعني یوازې همدا څلور مسنون تسبیحات). حضرت شیخ رحمه الله تعالی د ډېرو اوږدو اذکارو قائل نه وو، چې انسان زیاتې وظیفې او زیات ذکرونه وکړي، بلکې د حضرت شیخ رحمه الله تعالی هیله دا وه چې انسان سم پر لار روان وي، همدا بس دی؛ دا نه چې خامخا اوږدې اوږدې وظیفې وکړي.

ما ته یې مسنون تسبیحات راښودلي وو. ما به هغه ۳۰۰ ځله (هره تسبیح ۳۰۰ ځله) ویله. حضرت شیخ رحمه الله تعالی به فرمایل چې همدا بس دي. په هر حال، زه دا عرض کوم چې حضرت به ما ته بیا بیا لیکل چې:

«پر معمولاتو پابندي د پرمختګ زینه ده.»

یاد ولرئ! دلته (کربوغه شریف، خانقاه دارالایمان والتقویٰ او جامعه زکریا کې) چې کوم اعمال د رمضان په مبارکه میاشت کې کېږي، له رمضان وروسته هم همدا اعمال دلته ترسره کېږي. همدا صلوة

[4] دا اضافه د پیر صاحب د شاګرد لخوا شوې ده، چا چې دا مجالس راټول کړي دي. (بت شکن اداره)

التسبیح (او نور اعمال لکه د اشراق،څاښت، تهجد او اوابین لمونځونه همدارنګه د سورة یاسین او سورة ملک تلاوت، د درود شریف حلقه، د اسماء الحسنی ذکر، د دولسو تسبیحاتو تفصیلي او انفرادي ذکر او اجتماعي تعلیمات) له رمضان څخه پرته په نورو میاشتو کې هم کېږي. په خانقاه کې صلوة التسبیح لازم ده. لازم په دې معنی نه، چې شرعي واجب ده، بلکې مطلب یې اداري پابندي ده، تر څو د نېکو او ښو کارونو عادت پیدا شي. دلته په خانقاه کې پر دې اعمالو د پابندي کولو هدف دا دی چې (عموما) کله چې انسان څلوېښت ورځې پر یوه عمل دوام وکړي، نو وروسته هغه کس په خپل چاپېریال کې هم دا عمل کولی شي. له همدې امله دلته داسې اعمال ورباندې ترسره کېږي چې (په عام ډول) یې انسان هر ځای کولی شي.

پر عمل په دوام کولو باندې استقامت نصیب کېږي

همېشه د یوه عمل په کولو سره په انسان کې استقامت پیدا کېږي. ځکه پر انسان بېلابېل حالتونه راځي؛ کله زړه غواړي چې نېک عمل وکړي او کله زړه نه غواړي. نو که پر عمل دوام وي، انسان به په هر حال کې عمل کوي، که زړه یې وغواړي او که یې نه وغواړي، دې ته استقامت ویل کېږي. استقامت ډېره لویه شتمني ده او کرامت د استقامت تر پښو لاندې پروت دی. مشایخ فرمایي:

الإِسْتِقَامَةُ فَوقَ الْکَرَامَةِ

«استقامت (د قدر، قیمت او ګټو له مخې) له کرامت څخه لوړ ده.»

پر عمل د دوام کولو له فائدو دوه ژوندي مثالونه

که استقامت حاصل شي، نو لوی هدف ترلاسه شو، آیا تاسې نه دي لیدلي چې مثلا یوه سیمه ده، چې هره ورځ لږ لږ شبنم ورباندې اوري، کله کله باران هم ورباندې کېږي، نو په دې سیمه کې فصل ښه شین کېږي (ددې برعکس)که په یوه سیمه کې په ناڅاپه ډول بېخي زیات باران وشي او بیا له هغه وروسته ټول کال بلکل باران ونشي، نو په داسې حال کې فصل د آماده کېدو پر ځای خرابېږي.

یوه عامه غلط فهمي او د هغې لرې کول

په همدې ډول، که یو چا په یوه ورځ کې په لکونو ځله ذکر وکړ، یعني د ټول کال ذکر یې په یوه ورځ کې ترسره کړ او بیا ټول کال غافل پاتې شو، نو داسې کس به هماغسې غافل پاتې شي. د دې پر ځای که هغه کس دا ذکر پر ټول کال ووېشي او هره ورځ (مثلاً) یوازې څو ځله د «الله» د لفظ ذکر وکړي یا د «لا اله الا الله» ورد وکړي، نو د دې ګټه به له مخکې څخه زیاته وي. لنډه دا چې په دې ډول کولو کې ګټه زیاته ده. په دې کې کله کله انسان ته غلط فهمي پیدا کېږي (چې مثلاً هره ورځ په عمل کې هغه خوند نه وي، نو فکر کوي ښایي ګټه هم ونه لري، حال دا چې خبره داسې نه ده). زما یو ملګري راته وویل چې زه هره شپه تهجد نه کوم، همدارنګه ذکر هم هره ورځ نه کوم او نور نوافل هم همداسې دي چې هره ورځ نه بلکې کله کله یې کوم او دا یې هم راته وویل چې دا ځکه کوم چې کله کله چې کوم خوند وي، هغه هره ورځ نه وي. (په اصل کې که څه هم دا خبره غلطه ده، خو په ظاهره) دا خبره سمه ښکاري چې کله کله خوند وي، لکه غوښه چې کله کله وخوړل شي خوند کوي، خو که هره ورځ وخوړل شي نو خوند خو پرېږده، سړی ترې سترې کېږي. زموږ ملګري ته دا غلط فهمي وه چې دا اعمال کله کله کول شاید ښه وي، حال دا چې دا غلطه ده. مثلا تا به لیدلي وي چې بشپړه تیاره وي، بیا ناڅاپه رڼا شي، نو انسان ته یو ډول خوشالي پیدا کېږي. خو که دا رڼا همداسې پاتې شي، نو ایا دا خوشالي به بیا بیا کېږي؟ نه، بلکې یوازې په لومړي ځل کېږي. دا خبره په ډېرو شیانو کې لیدل کېږي چې لومړی ځل خو خوشالي وي، خو بیا نه وي (بلکې هماغه حالت پاتې وي، خو احساس یې د لومړي په شان نه وي). عطر ته وګوره، هر څومره ښه عطر وي، کله چې انسان یې ولګوي، په پیل کې یې بوی ډېر احساسېږي، خو وروسته ورو ورو دا احساس کمېږي، تر دې چې داسې ښکاري لکه بوی چې نه وي، حال دا چې بوی موجود وي، خو احساس یې ختم شوی وي. د دې وجه دا ده چې انسان له هغه شي سره عادت شوی وي. نو د دې خوند احساس نه کوي. له همدې امله د تهجد او نورو اعمالو چې په کله کله کولو کې خوند وي، هماغه خوند که دا اعمال تل ترسره

شي هم وي، خو د دوام له امله هغه خوند نه احساسېږي.

پر عمل دوام په نا محسوس ډول اثر کوي

پر عمل باندې مداومت په نا محسوس ډول اثر کوي. لکه یو نل چې لاندې یې یوه ډبره وي، او له هغه نل څخه تل یو یو څاڅکی پرې څاڅي؛ د دې څاڅکو اثر په نا محسوس ډول وي چې په ظاهره نه ښکاري، خو له یو وخت وروسته په هغه ډبره کې نښه پیدا کېږي. که دا ټول څاڅکي راټول شي او په یو ځل پر هغه ډبره واچول شي، نو هېڅ نښه به پرې ونه شي. همداسې پر عمل د دوام اثر ډېر ژور وي. نو په هر حال! تاسې باید پر عمل د دوام اهتمام وکړئ.

پر عمل د دوام د ترلاسه کولو طریقه

تاسې به دا اهتمام څنګه کوئ؟ دا تاسې د شریعت له اصولو څخه زده کولی شئ. مثلا په شریعت کې کوم شی فرض وي (لکه لمونځ، روژه، حج، زکات او نور)، که هغه پاتې شي نو څه کېږي؟ قضا کېږي (مثلا که لمونځ پاتې شي، په بل وخت کې یې قضا راوړل کېږي). همدارنګه، تاسې چې کوم اعمال کوئ که څه هم فرض نه وي (لکه تسبیحات، تهجد او نور نفلي اعمال)، که تاسې غواړئ چې پر دغو اعمالو باندې په اهتمام سره دوام وساتئ، نو بیا چې کله دغه اعمال پاتې شي، د هغوی قضا وکړئ. مثلا که تاسې د قضای حاجت لپاره بیت الخلا ته داخل شئ، او د داخلېدو وروسته درته یاد شي چې تاسې دعا ونه ویله او د سنت طریقې سره سم داخل نه شوئ، نو (په دې وخت کې دا مه وایاست چې بل ځل به پام وکړم) بلکې پر عمل د دوام حاصلولو لپاره سمدستي بېرته راووځئ او بیا په صحیح طریقې سره داخل شئ.

د یوه پښتو متل کیسه

(د پورته خبرې په مناسبت، حضرت یو پښتو متل او د هغه شالید کیسه بیان کړه. لاندې هم متل او هم کیسه را نقل کېږي)

په پښتو ژبه کې (په یوه ځانګړې سیمه کې) دا متل دی: «دانګلي نه دانګلي» د دې مانا دا ده: دا ټوپ وهل د نه ټوپ وهلو په شان دي (نو یو ځل به بیا ټوپ ووهم). د دې متل کیسه دا ده چې د یوه ځای یو سړي غوښتل له ویالې څخه واوړي، نو ټوپ یې وواهه، خو د الله شان دا شو چې بلې غاړې ته و نه رسېد، بلکې اوبو ته ولوېد (ټوپ یې لنډ شو). نو کله چې له اوبو راووت، بیا یې له هماغه ځایه د ټوپ وهلو اراده وکړه او ویې ویل: «دانګلي نه دانګلي» یعنې دا لومړی ټوپ وهل بالکل داسې دی، لکه هیڅ ټوپ چې نه وي وهل شوی، نو ځکه بیا ټوپ وهم. همداسې، تاسې هم هغه عمل چې د سنت خلاف وي، اصلا عمل مه شمېرئ، بلکې له سره یې د سنت مطابق ترسره کړئ. همدارنګه که تاسې مسجد ته د سنت خلاف طریقه داخل شوي یاست، نو (چې درته یاد شي) بېرته راوځئ او په سمه طریقه جومات ته داخل شئ. په دې کار سره به تاسې ته (استقامت نصیب شي) او د عمل اهمیت به پیدا شي او په تاسې کې به پخوالي (پختګي) رامنځته شي. او یاد ولرئ پخې مېوې ګټورې وي، نه خامې. (همدارنګه، پاخه انسانان خوښ وي، نه خام، چې نن یو څه وي، سبا بل څه). پاخه خلک هغه دي چې استقامت لري. الله تعالی پر حق باندې د استقامت ستاینه کړې ده. د الله تعالی ارشاد دی:

إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ (البقرة: ١٥٣)

بېشکه الله تعالی له صبر کوونکو سره دی.


او بل ځای فرمايي:

وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ (آل عمران: ١٣٦)

او الله تعالی له صبر کوونکو سره مینه لري.

صابرین یعنې هغه کسان چې ټینګ ولاړ وي. نو هغه خوک چې پر اعمالو نه ټینګېږي، هغوی به په میدان کې څنګه ټینګېږي؟ هغه خوک چې پر لمانځه، ذکر او نورو اعمالو ټینګ نه وي، نو په داسې انسان کې د ټینګ درېدو صفت نشته، ځکه نو هڅه وکړئ چې کوم اعمال کوئ، پر هغو دوام وکړئ. ان شاء الله یو وخت به یې ګټه حتما احساس کړئ او د عمل اصلي ګټه خو په آخرت کې ښکاره کېږي، پر اعمالو دغه دوام ستاسې پر اخلاقو هم اغېز کوي او هغه خلک چې پر اعمالو دوام نه لري، د هغوی په اخلاقو کې هم خاموالی وي. په یاد ولرئ! هغه خوک چې پر عمل دوام کوي، تل به باکرداره وي.

****



د حج او عمرې
د مشروعیت حکمتونه

د بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع له کتاب الحج څخه استفاده شوې

مولوي سعد طارق

د انسانانو عادت داسې دی، چې یوازې هغو شیانو ته غاړه ږدي چې معقول حکمت او معلومه ګټه ولري او اسلامي شریعت هم له هغو شریعتونو څخه دی چې احکام یې له حکمت او مصلحت څخه ډک دي، خو ځینې داسې احکام هم پکې شته چې الله تعالی یې حکمت له موږ پټ ساتلی او د تشریع راز یې موږ ته نه دی څرګند کړی او فقهاء دې ته «تعبدي احکام» وايي.

الله تعالی چې بندګان په دغو تعبدي احکامو مکلف کړي، مقصد یې دا دی چې د هغوی بشپړ انقیاد، عاجزي او د الله تعالی د ارادې پر وړاندې تسلیمېدل څرګند شي، تر څو د الله تعالی د رضا او مغفرت مستحقین وګرځي او دا څه لږې خبره نه ده، ځکه موږ هره ورځ د خلکو تر منځ د دې مثالونه وینو؛ مثلا که یو رئیس وغواړي د خپلو مامورینو اخلاص او مینه وازمايي، نو هغوی ته داسې کارونه سپاري چې مقصد یې نه معلومېږي او حقیقت یې هم نه وي روښانه، نو مخلص انسان ړوند اطاعت کوي، خو بل سړی بیا ورڅخه تنګېږي او زړه تنګون ښيي.

کله چې دا حالت څرګند شي، نو مشر هماغه لومړی کس د خپلې پاملرنې، مهربانۍ او شفقت وړ ګرځوي او د دوهم کس نیولو او رټلو فرصت ته ګوري. همداسې (پرته له تشبیه او مثال ورکولو) الله تعالی ځینې داسې احکام مشروع کړي چې ګټه یې له موږ پټه ده، تر څو د ځینو بندګانو بشپړ اطاعت، عاجزي او تسلیمېدل څرګند شي او هم د نورو خلکو ناخوښي، تنګون او اعتراض ښکاره شي.

له دغو تعبدي اعمالو څخه حج او عمره هم دي، چې حکمت یې تر ډېره زموږ له نظره پټ دی، که څه هم په حقیقت کې له حکمت څخه خالي نه دي؛ ځکه الله تعالی عبث کار نه کوي، بلکې عبث پرې محال دی. خو هغه عقل چې دین نه دی بند کړی او نه یې د فکر او استنباط مخه نیولې، ځینو داسې شیانو ته رسېدلی چې ګومان کېږي د دغو اعمالو حکمتونه دي.

نو له هغو حکمتونو څخه چې عقل ور رسېدلی دی، ځینې یې په لاندې ډول دي:

لومړی: د نفس دې ته هڅول چې الله تعالی یاد کړي او د هغه د عظمت او جلال پر وړاندې عاجزي اختیار کړي؛ ځکه د الله تعالی د شعائرو لیدل، د تعظیم د نښو لرونکو اعمالو ترسره کول او د الله تعالی د حرمتونو درناوی کول، نفس ته لویه تنبیه ورکوي او د الله تعالی ذکر، د هغه له قدرت څخه وېرې او د هغه د عظمت پر وړاندې خضوع ته یې رابولي او په دې کې سترې ګټې او لوی خیرونه دي.

دوهم: مؤمنانو ته د قیامت د ورځې، د ستر حشر او لوی وحشت یادول؛ ځکه دوی خپل اهل، مال او استوګنځایونه پرېږدي، په یوه میدان کې راټولېږي، د دنیا له تعلقاتو پرې کېږي، په خپلو ګناهونو پښېمانه وي، او د الله تعالی له رحمته هیله او د هغه له عذابه وېره لري. په دې کې شتمن او غریب، عزتمند او ذلیل، نېک او ګناهکار ټول برابر وي، د هر چا یوازینۍ هیله مغفرت وي او مقصد یې یوازې د الرحمن ذات رحمت وي.

دریم: د الله تعالی د رحمت د ترلاسه کولو تر ټولو قوي اسباب برابرول؛ ځکه کله چې د نړۍ له هر ګوټ څخه خلک په یوه میدان کې راټول شي، زړونه یې په اخلاص سره الله تعالی ته متوجه وي، مخونه یې زارۍ سره شرمنده وي، لاسونه یې د امید لپاره اوچت وي، ژبې یې په تضرع بوختې وي، په ارحم الراحمین ښه ګومان کوي او په هغوی کې نېکان، غوره او مقرب بندګان هم موجود وي، نو الله تعالی د هغوی هیلې نه ضائع کوي، له خپل فضل څخه یې نه محروموي او داسې رحمت ورباندې نازلوي چې ټول پکې رانغاړل کېږي او همداسې فضل ورباندې کوي، چې ټولو ته شامل وي.

څلورم: موحدینو ته د هغه رهبانیت بدله ورکول چې د پخوانیو امتونو ځینو خلکو د

الله تعالی د رضا لپاره خپله ایجاد کړی و؛ هغوی له خوندونو او خواهشاتو ځان ساته، له خلکو څخه لرې کېدل او د خالق د محبت لپاره یې د مخلوق له انس څخه لاس اخیست. همداسې د الله تعالی د کور حاجي هم له خوندونو او شهوتونو ځان ساتي، وطن، خپلوان، ښځه او اولاد پرېږدي، د خپل رب د حرم قصد کوي او د هغه عفوې او رضا ته هیله من وي. له همدې امله کله چې له رسول الله ﷺ څخه د رهبانیت او سیاحت په اړه وپوښتل شول، ویې فرمایل:

«الله تعالی موږ ته د دې پر ځای جهاد او پر هر لوړ ځای تکبیر ویل راکړي دي.» مقصد یې حج و.

پنځم: د نفس ظلم کمول او د هغه سرکشي مهارول؛ ځکه ظلم د نفس له خویونو څخه دی او له ظلم څخه تل منع کول پر نفس سخت وي، خو که نفس په ظلم کې ازاد پرېښودل شي، نو دا د بشري ټولنې لپاره داسې تباهي ده، چې ټولنه یې نه شي برداشت کولای، له همدې امله د الله تعالی له حکمت څخه دا وه چې د حج وختونه او ځایونه یې ډېر محترم وګرځول، څو ثواب پکې زیات او عذاب پکې سخت وي، تر څو انسان په دغو وختونو او ځایونو کې له ظلم او سرغړونې څخه ځان وساتي او عدالت او احسان غوره کړي، چې په نتیجه کې ظلم کم او نفس مهار شي، بلکې کله کله همدا سبب شي چې ځینې خلک، چې الله تعالی توفیق ورکړی وي، په بشپړه توګه له ګناهونو لاس واخلي، او دا د دوو علتونو له امله وي:

لومړی علت: انسان چې کله یو کار په وار وار وکړي، نو هغه یې عادت ګرځي؛ نو که څوک په ځینو وختونو یا ځایونو کې د سخت عذاب له ویرې له جرمونو څخه ځان وساتي، وروسته دا د هغه عادت او طبیعت شي.

دوهم علت: هوښیار انسان خپل عمل نه خرابوي او هغه څه کوي چې له فساد څخه یې وساتي؛ او مؤمن په دې پوهېږي، چې ګناه نېکي له منځه وړي، او الله تعالی له دې څخه منعه کړې ده، په دې قول سره:

«اې مؤمنانو! خپلې صدقې په منت او اذیت سره مه باطلوئ.»

نو کله چې انسان په کوم وخت یا ځای کې د زیات ثواب په نیت عبادت وکړي، بیا هڅه کوي هغه په ګناه خراب نه کړي او له بدیو ځان وساتي. دا کار د انسان د ګناهونو د پرېښودو او له معصیتونو څخه د لرې پاتې کېدو لامل ګرځي.

شپږم: د سفر سختۍ، له وطنه لرې والی او د راحتونو پرېښودل انسان ته د الله تعالی نعمتونه ور په یادوي؛ لکه د کور آرام، له وطن سره انس، او د اهل و عیال محبت، نو په دې توګه انسان د الله تعالی د شکر ادا کولو ته متوجه کېږي.

اووم: په زړونو کې د شفقت او رحم پیدا کول؛ ځکه حاجیان د سفر په مهال د سختیو، غربت او ستړیاوو تجربه کوي، نو د لارې پر مسافرو او غریبو خلکو زړه سواندي پیدا کوي، د هغوی مرسته کوي او د هغوی اړتیاوې پوره کوي، چې په دې سره د مسلمانانو تر منځ مینه، الفت او متقابل ملاتړ ټینګېږي او په اسانۍ او سختۍ کې ورونه سره جوړېږي.

اتم: د ټولو مسلمانانو تر منځ د یووالي او مرستې فضا رامنځته کول؛ ځکه په دغه حرم شریف کې د نړۍ له هرې خوا مسلمانان په یوه وخت راټولېږي، دین، مقصد او فکر یې یو وي، یو د بل ورونه وي او یو پر بل مهربان وي. دوی که و غواړي او یا الله تعالی وغواړي، کولی شي د نړۍ د هر کونج د مسلمانانو له حالاتو څخه ځانونه خبرولای شي او یو بل ته ګټورې مشورې ورکولای شي، مرسته او همکاري سره تبادله کولای شي او یو د بل ملاتړ کولای شي. په دې توګه د هغوی کلمه سره یوه کېږي، ځواک یې قوي کېږي او د هر هغه چا پر وړاندې یو موټی کېږي چې د هغوی د ضرر اراده ولري.

پر دې سربېره، د حج سفر انسان ته نوې پېژندګلوۍ، مادي او معنوي ګټې هم ور په برخه کوي. ځینې خلک د تجارت له لارې داسې ګټې ترلاسه کوي چې په خپل وطن کې یې نه شي موندلی او شریعت تجارت نه دی منع کړی، تر څو چې اصلي نیت حج وي او تجارت تبعا ورسره راشي. همدارنګه کېدای شي یو ناروغ د هوا د بدلون، د نویو سیمو او دریابونو د لیدلو له امله روغ شي او سفر د هغه غم او وحشت هم کم کړي چې د خپلوانو، مېرمنې یا اولاد د مرګ له امله ورباندې راغلی وي.

****



له کفارو څخه د برائت
قرآني عقیده

حکیم الاسلام حضرت مولانا قاري محمد طیب رحمه الله

قرآن... یو فرقان کتاب

قرآن کریم خپل نوم په خپله "فرقان" غوره کړی دی، چې د حق او باطل تر منځ د تفریق باعث کیدونکی دی. د تشریعاتو په لړ کې دې فارق او فاصل کلام په خپلو نازلېدولو سره اسلام له کفر څخه، امانت له خیانت څخه او حق دین له ټولو باطلو دینونو څخه بالکل ښکاره جلا کړ. پر امتونو د خالق او مخلوق تر منځ توپیر مبهم شوی و. چا د الله ﷻ ځانګړې صفتونه د بنده ګانو لپاره غوره کړي وو، ځینو بیا د مخلوق ناقص صفتونه د الله ﷻ لپاره ګڼلي وو. دې فاصل کتاب ټول شرکي پیوندونه وشکول، توحید یې له شرک څخه داسې بېل کړ، چې تر منځ یې هیڅ اشتباه او ګډوډي پاتې نه شوه. د معروف او منکر حدود یې معلوم کړل. امتونو پر معروف د منکر او پر منکر د معروف ګمان کړی و، دې فرقان او فیصل کتاب د معروف حدود په ټاکلو سره له منکره جلا کړل. پر معروف یې د عمل کولو امر وکړ او له منکر څخه یې منع وکړه. د طیب او خبیث تر منځ فرق د امتونو هېر شوی و. دې فاصل کلام یې تر منځ فرق روښانه کړ، طیبات یې حلال او خبیثات یې حرام کړل.

د مسلمان او کافر تر منځ د قرآن ټاکلی برید

څېرې چې دې فرقان او فاصل قول د اسلام او کفر، معروف او منکر، طیب او خبیث، حلال او حرام، حق او باطل په منځ کې بېلتون راووست، هلته یې د نړۍ په قومونو کې د دنیوي او هم د اخروي ژوند له پلوه امتیاز او تفاوت رامینځ ته کړ، چې په پایله کې یې ټول بشریت په دوو ډلو وویشل شو، ترڅو د سعید او سخت زړي، نیک عمله او بد عمله، منونکي او سرکښه، مسلمان او کافر، اولیاء الرحمن او اولیاء الشیطان په منځ کې هیڅ تلبیس او ګډوډي پاتې نه شي. یو ځای دا مبین کتاب فرمایي:

أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ كَالْمُجْرِمِينَ
(القلم:۳۵)

آیا موږ به د امر منونکو حال
د مجرمانو په څېر کړو؟

بل ځای فرمایي، چې مؤمن او مفسد دوه بېلابېل ډولونه دي، چې هیڅ کاذب ورته والی او شباهت نه لري:

أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ
(ص:۲۸)

آیا موږ هغه خلک چې ایمان راوړي او نیک عملونه کوي او هغه کسان چې په ځمکه کې فساد کوونکي دي، یو شانته کړو؟ آیا موږ پرهېزګاران د بدکارانو په څېر وګرځوو؟

بل ځای د نیکانو او بدو خلکو تر منځ توپیر بیانوي، چې د دوی مرګ او ژوند او هر څه باید یو له بل سره متفاوت وي.

أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَنْ نَجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَاءً مَحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ (الجاثية:۲۱)

آیا هغه خلک چې بد کارونه کوي، داسې انګېري، چې موږ به دوی له هغو خلکو سره برابر کړو، چې ایمان یې راوړی دی او نیک اعمال کوي، چې د ټولو مرګ او ژوند سره یو شانته شي؟ ډېره ناوړه فیصله ده، چې دوی یې کوي.

بل ځای فرمایي، چې ښه او بد په خپل منځ کې داسې

توپیر لري، لکه بینا او ړوند، دا دواړه به هیڅکله هم سره برابر نه شي.

وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَلَا الْمُسِيءُ ۚ قَلِيلًا مَّا تَتَذَكَّرُونَ (غافر:۵۸)

او دا نه شي کېدای، چې ړوند او سترګې لرونکی یو شانته شي او ایمان لرونکي صالح خلک او بد کاره سره برابر شي، خو تاسې ډېر لږ پوهېږئ!

بل ځای فرمایي، چې کله مشرک له مؤمن څخه بالکل جلا دی، بیا نو دواړه کله یو کېدای شي؟

ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيهِ شُرَكَاءُ مُتَشَاكِسُونَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ۚ الْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (الزمر:۲۹)

الله ﷻ یو مثال بیانوي، یو خو هغه سړی (غلام) دی، چې په ملکیت کې یې څو بد خویه باداران سره شریکان دي، چې هر یو یې خپل لوري ته راکاږي او بل سړی دی، چې ټول د یوه سړي (غلام) دی، آیا د دواړو حال یو له بل سره یو شانته کېدای شي؟

بل ځای فرمایي، چې د غلامۍ په ځنځیرونو تړلی انسان څنګه له آزاد سړي سره برابر شي؟

ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوكًا لَّا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَيْءٍ وَمَن رَّزَقْنَاهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنفِقُ مِنْهُ سِرًّا وَجَهْرًا ۖ هَلْ يَسْتَوُونَ ۚ الْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (النحل:۷۵)

الله ﷻ یو مثال راوړي چې یو غلام دی، د بل چا مملوک دی، په خپله څه واک نه لري او بل څوک داسې دی، چې هغه ته موږ له خپل لوري ښه غوره روزي ورکړې ده او هغه ورڅخه په ښکاره او پټه نفقه کوي، آیا دغه دواړه سره برابر دي؟

بل ځای فرمایي، چې شل شوی سړی او د سالم وجود خاوند څنګه سره برابر شي؟

وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا أَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَيْءٍ وَهُوَ كَلٌّ عَلَىٰ مَوْلَاهُ أَيْنَمَا يُوَجِّههُّ لَا يَأْتِ بِخَيْرٍ ۖ هَلْ يَسْتَوِي هُوَ وَمَن يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ ۙ وَهُوَ عَلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ (النحل:۷۶)

الله ﷻ یو بل مثال راوړي: دوه سړي دي، یو ګونګ کوڼ دی، هیڅ کار نه شي کولای، پر خپل بادار باندې پېټی دی، چې هر چېرته یې ولېږي، ښه کار نه ورڅخه صادرېږي، دوهم سړی داسې دی، چې پر عدالت حکم کوي او په خپله پر سمه لاره برابر دی، وواياست، آیا دغه دواړه سره یو شان دي؟

نو د الله ﷻ بابرکته کلام دا خبره روښانه کړه، چې کله په تکویني او فطري اعتبار سره په دوو ضد او نقیض شیانو یعني حق او باطل کې یو والی، اتفاق، اتحاد او ګډ ژوند ممکن نه دی، نو بیا تشریعي حکم همدا دی، چې تاسې په خپل اختیار سره هم حق او باطل سره جلا کړئ او په دوی کې وژونکی اختلاط او ګډوډی مه راولئ!

وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ (البقرة:۴۲)

او باطل ته د حق جامه مه ور اغوندئ او له پوهېدو سره د حق د پټولو هڅه مه کوئ!

هغه یو والی چې د قرآن کریم هدف دی

قرآن کریم سره له دې چې د یووالي بلنه ورکوي، د ادیانو او د هغو د پیروانو په منځ کې د بیلتون او امتیاز ملاتړی دی. هو! د قرآن کریم د یووالی هدف همدا دی، چې ټول ملتونه ختم شي، پر اسلام سره را ټول شي او داسې څو امتونه پاتې نه شي بلکې یو امت جوړ شي، څو ادیان پاتې نه شي او فقط یو دین شي. د "لیکون الدین کله لله" معنی همدا ده. قرآن کریم داسې یووالی نه غواړي، چې بدي پر خپل ښه پاتې شي او له نیکۍ سره ګډه شي، چې نه تیاره پاتې شي او نه رڼا، بلکې یو دریم شی ورڅخه جوړ شي! که قرآن کریم ته دا د منلو وړ وای نو خامخا به یې دا هم خوښ کړي وو، چې نه قرآن کریم پاتې شي او نه هم قرآني امت، نه د اسلام رښتینی دعوت پاتې شي او نه اسلامي امت. ځکه التباس هغه تیاره ده،

چې د هر شي اصلي وجود په لومړي سر کې په کې پټېږي او وروسته بالآخره باطل ګرځي.

له کفارو سره د مشابهت او اختلاط پایله

په دې اړه بې احتیاطي او د نورو قومونو ځنې خپل قومي هویت متفاوت نه ساتل د دې لامل کېږي چې لومړی قوم خپل وجود له لاسه ورکوي او بالآخره فنا او په هغه بل قوم کې جذبیږي، د کوم قوم سره چې دې قوم خپل عملي او عملي مراسم ګډ کړي وو. ددې حدیث ("من تشبه بقوم فهو منهم" چا چې له کوم قوم سره مشابهت اختیار کړ، هغه له هغوی څخه دی) همدا مفهوم دی.

نو د هر صداقت د له منځه تللو لومړی پړاو التباس، اختلاط او شباهت دی......ځکه نو قرآن کریم له یوه اړخه په متعددو مثالونو سره د اسلام او کفر تر منځ تلبیس او د حق او باطل د برابر ګڼلو په اړه خپله نارضایتي څرګنده کړه. بیا یې په یو مستقیم او جدي امر صادرولو سره د تلبیس څخه منع وکړه. وروسته یې پر دې هم بسنه ونکړه بلکې په متعددو آیاتونو کې یې د تلبیس د ربښو پرې کولو یوه عملي لائحه وړاندې کړه، چې په هغې کې یې یوازې له کفارو سره له مشابهت څخه نه بلکې د هغو لارو چارو د مخنیوي لپاره یې هم له هر هغه عمله منع کړې ده، چې د شباهت علت کیدی شي، تر څو د مسلمان او کافر تر منځ هیڅ ظاهري یا معنوي شراکت، هیڅ مناسبات او هیڅ مماثلت رامینځ ته نه شي.

له کفارو څخه د برائت بېلابېلې مرتبې

له کفارو سره د زړه د رابطې خاتمه

قرآن کریم حکم کړی دی، چې هیڅ مسلمان به هیڅ یو کافر ته د رفاقت، صمیمانه دوستۍ او د زړه له کومې د اړیکو لاس نه ور اوږدوي، ځکه زړه د وجود د اقلیم پاچا دی، نو ځکه یې اړیکې هم بالآخره د انسان پر نیت، اراده او ټولو کړنو باندې اغیزه کوي. په نتیجه کې قلباً او قالباً (په ظاهر او باطن دواړو کې) له کفارو سره مشابه کېږي، په داسې حال کې چې له کفارو سره مشابهت له قرآني تعلیماتو سره په ښکاره ټکر کې دی. نو ځکه یو ځای قرآن کریم له یهودو او نصاراوو سره د دوستۍ پرېښودلو حکم کړی دی:

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُوْدَ وَالنَّصٰرٰٓى اَوْلِيَاۤءَ (المائده:۵۱)

اې مؤمنانو! یهود او نصارا خپل ملګري مه نیسئ!

بیا یې له اهل کتابو او عامو کفارو او حتی له هغو خلکو سره هم د دوستانه ارتباط د پرې کولو حکم وکړ، چې په دیني موضوعاتو او قضیاوو باندې تمسخر او استهزاء کوي:

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ هُزُوًا وَّلَعِبًا مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ اَوْلِيَاۤءَ وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ (المائدة:۵۷)

اې مؤمنانو! له تاسې څخه د مخکنیو اهل کتابو کومو خلکو چې ستاسې دین د ټوکو او ساعت تیرې مورد ګرځولی دی، هغه او نور کافران خپل دوستان او ملګري مه نیسئ. له الله ﷻ څخه ووېرېږئ، که مؤمنان یاست.

بیا یو ځای فرمایي، چې کافر خو کافر دی، یو مسلمان له داسې چا سره هم د زړې په اندازه د زړه مینه نه شي پاللی، چې هغه د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ مخالف وي، برابره خبره ده، که هغه کفر کړی وي یا یې په ښکاره فسق یا بدعت کړی وي:

لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ يُوَاۤدُّوْنَ مَنْ حَاۤدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْٓا اٰبَاۤءَهُمْ اَوْ اَبْنَاۤءَهُمْ اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ اُولٰۤىِٕكَ كَتَبَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ وَاَيَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ (المجادلة:۲۲)

ته به هیڅکله دا ونه مومې چې کوم خلک پر الله او آخرت باندې ایمان لرونکي دي، هغوی دې له هغو خلکو سره مینه کوونکي واووسي چې د الله او د هغه د پیغمبر مخالفت یې کړی دی، که څه هم د هغوی پلرونه وي، یا د هغوی زامن وي، یا د هغوی ورونه وي، یا د هغوی ټبر او کورنۍ وي. دا هغه کسان دي، چې الله ﷻ یې په زړونو کې ایمان ثبت کړی دی او له خپل لوري د یو روح په ورکولو سره یې دوی تقویه کړي دي.

حقیقت دا دی، چې که د مسلمان په زړه کې له کفارو سره د محبت او له منکرینو سره مینه د یوې ذرې په اندازه وي نو په هغه

اندازه يې په زړه کې د اسلام د عظمت او محبت کمی هم ځای لري، که داسې نه وي نو بیا د اسلام او کفر تر منځ تضاد نه شي پاتې کېدای. د دې حقیقت په پېژندلو سره بابصیرته او د حقیقت درک لرونکو دا دعوه کړې ده، چې له کفارو سره په مینه لرلو سره په ایمان کې فساد راځي، بلکې سهل بن عبدالله تستري رحمه الله داسې فرمايي، چې د چا ایمان او توحید سوچه وي، هغه له یو بدعتي سره هم علاقه نه شي ساتلای، څه معنی له کفارو سره! او هغه هم د محبت او مینې په شکل کې! که د مسلمانو د زړونو څخه د کفارو پر وړاندې شدت او سختي ووځي نو خالي ځای به يې خامخا د هغوی مینه او محبت نیسي او له کفارو سره د زړه د مینې له جوړولو وروسته هغه ورځ لیرې نه وي، چې دا مسلمان سړی له هغې کافرې ډلې سره یو ځای شي او په وضع قطع او په خوی بوی د هغوی په څېر شي.

قرآن کریم د موالات د دې پایلې څرګنده یادونه کړې ده:

وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَاِنَّهٗ مِنْهُمْ
(المائدة:٥١)

او څوک چې په تاسې کې
له دوی سره دوستي کوي،
هغه پرته له شکه له دوی
څخه دی.

نو د محبت د پرېښودلو او د موالات د قطعه کولو په لړ کې د یو مسلمان لومړنی فرض دا دی، چې تر هرڅه وړاندې د ذکر شوي آیت په رڼا کې له کفارو سره خپل صمیمانه روابط او د زړه تعلقات دې په بشپړه توګه له منځه یوسي. بالکل داسې لکه څنګه چې د دغه آیت په پیروۍ کولو سره ابو عبیده بن الجراح رضی الله عنه له خپل پلار سره قلبي تعلقات پرې کړي وو او بالآخره يې د بدر په غزا کې په خپله قاتل هم شو او لکه څنګه چې د دې تعلیم "أشداء علی الکفار" په اتباع کې مصعب بن عمیر رضی الله عنه له خپل وړور عبید بن عمیر سره د زړه مینه پای ته ورسوله او په خپله يې د احد په غزا کې وواژه. حضرت عمر رضی الله عنه خپل ماما عاص بن هشام په بدر کې وواژه، حضرت علي، حمزه او عبیده بن الحارث رضی الله عنهم عتبه، ولید بن عتبه او شیبه بن ربیعه په بدر کې ووژل، چې د دوی نژدې قریبان هم وو، خو نوموړو په دغسې کولو سره د اسلامي غیرت او پر دین د منګولو ښخولو یو داسې بې ساری مثال وړاندې کړ، چې تل به امت ننګ او غیرت ته رابولي.

په ژبه سره له کفارو څخه د نفرت او برائت اعلان

بیا قرآن کریم پر دې کفایت ونکړ، بلکې حکم يې وکړ، چې د هر راز دوستۍ پرېښودلو، بیزاري او د زړه د کرکې خپل دغه اعلان په زغرده بیان کړئ، چې کافر ستا له قلب او قالب څخه د هیڅ شي هیله ونه لري، لکه څنګه چې الله ﷻ له کفارو څخه د خپل رسول ﷺ د برائت اعلان په ښکاره سره کړی و:

اِنَّ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا
شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِيْ شَيْءٍ
(الانعام:١٥٩)

کومو خلکو چې خپل دین ټوټه ټوټه کړ او ډلې ډلې شول، په یقیني توګه له هغوی سره ستا هیڅ اړیکه نشته.

دا بېلتون ښه روښانه کړی شو، چې "لست منهم" (ته له دوی څخه نه يې) یعني ستا او د دوی خبره سره یوه نه ده. ستا او د دوی معامله یوه نه ده. ته او دوی بېیخي سره جلا یاست. ته د هیڅ شي په اعتبار له کفارو څخه نه يې، د هغوی شریک نه يې او له دوی سره متحد نه يې. د همدې لپاره يې په سورة الکافرون کې د همدې بیزارۍ او بېلتون لا زیات وضاحت وکړ:

قُلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ۝ لَآ اَعْبُدُ مَا
تَعْبُدُوْنَ ۝ وَلَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ
اَعْبُدُ ۝ وَلَآ اَنَا عَابِدٌ مَّا
عَبَدْتُّمْ ۝ وَلَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ
اَعْبُدُ ۝ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ۝
(الکافرون)

ووایه چې اې کافرانو! نه زه
(همدا اوس) د هغو خدایانو
عبادت کوم، چې تاسې يې
عبادت کوئ اونه تاسې
(همدا اوس) د هغه ذات
عبادت کوونکي یاست،
چې زه يې عبادت کوم او نه
زه (وروسته) د هغو خدایانو
عبادت کوونکی یم، چې
تاسې يې عبادت کړی دی
او نه تاسې وروسته د هغه
ذات عبادت کوونکي
یاست، چې زه يې عبادت
کوم. ستاسې لپاره ستاسې
(د شرک) دین دی او زما
لپاره زما (د اسلام) دین دی.

له کفارو څخه د رسول الله ﷺ دا برائت او بېزاري داسې ده لکه د کفارو او خپل کافر پلار څخه د ابراهیم علیه السلام برائت:

وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦٓ إِنَّنِى بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ (الزخرف:۲۶)

هغه وخت (یاد کړه) چې کله ابراهیم (علیه السلام) خپل پلار او خپل قوم ته وویل: تاسې چې د کومو شیانو بندګي کوئ، زما له هغو سره هیڅ اړیکه نشته.

او همدا راز چې کله د ابراهیم علیه السلام قوم دا وویل او له مشرکینو څخه یې د برائت اظهار وکړ:

إِنَّا بُرَءَٰٓؤُا۟ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ (الممتحنة:۴)

موږ له تاسې او ستاسې له دغو معبودانو څخه چې د الله ﷻ پر ځای یې بندګي کوئ، بېزار یو.

کله چې د انبیاء علیهم السلام طریقه له کفارو څخه د کرکې او بېزارۍ اعلان کول دي، نو بیا د هغوی پیروان او خادمان به څنګه پر همدې لار رهي کولو ته اړ نه کړل شي؟ هغوی خو ټول د رسول الله ﷺ د طریقې د پیروۍ ادعا کوي! په هر حال د یوه مؤمن د زړه او ژبې دواړو تعلق له کفارو څخه پرې کړل شو او همدا دواړه غړي د انسان اصل دی.

لسان الفتی نصف ونصف فؤاده
فلم یبق الا صرد اللحم والـــدم

د سړي نیم وجود ژبه او نیم یې زړه دی، که دا ترې لیرې شي، نو د غوښې او وینې یخ ډنډ به پاتې شي.

په ټولو اعمالو کې د کفارو له پیروي څخه ځان ژغورنه

بیا یې پر دې هم بس نکړه، بلکې د زړه او ژبې سره یې د عادي ژوند چارو او کړه وړو کې هم مسلمانانو ته له کفارو څخه بیل او جلا تشخص ورکړ. د دې لپاره چې مسلمان نه د دوی کومې لائحې او طریقې ته ژمن پاتې شي او نه د دوی په کوم شعار پسې لاړ شي. څکه حضرت موسی او هارون علیهما السلام ته وفرمایل شول، چې کله تاسې ته علم او هدایت در په برخه شو، نو بیا په بې لارو او جاهلانو پسې مه کېږئ. الله جل جلاله حضرت موسی او هارون علیهما السلام ته وفرمایل:

فَٱسْتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَآنِّ سَبِيلَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ (یونس:۸۹)

ثابت قدم اوسئ او د هغو خلکو د کړنچاري پیروي هیڅکله مه کوئ چې علم نه لري.

همدا وصیت موسی علیه السلام کوه طور ته د تګ په وخت کې هارون علیه السلام ته کړی و، چې ته د خپلې اصلاح او نورو ته د اصلاح پر لاره ثابت اوسېږه او د مفسدینو پیروي مه کوه:

وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَٰرُونَ ٱخْلُفْنِى فِى قَوْمِى وَأَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيلَ ٱلْمُفْسِدِينَ (الاعراف:۱۴۲)

موسی (علیه السلام) د تلو په وخت کې خپل ورور هارون (علیه السلام) ته وویل: "له ما څخه وروسته ته زما په قوم کې زما ځای ناستی اوسه؛ او د اصلاح فعالیت کوه او د ورانکارو په لاره مه ځه."

نو کله چې د انبیاء علیهم السلام لاره صراط مستقیم ده، چې هغوی له علم، تقوی او استقامت سره ورباندې قائم دي، نو بیا د کفارو د جهل او فساد پر مختلفو لارو تګ ته څه حاجت دی؟ مسلمانانو ته خو دا زرین اصول ورکړل شوي دي، چې:

وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِى مُسْتَقِيمًا فَٱتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا۟ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِۦ (الانعام:۱۵۳)

دغه راز د هغه لارښوونه دا ده چې همدا زما سمه لاره ده، نو تاسې پر همدې لاړ شئ او په نورو لارو مه ځئ، چې هغه به تاسې له هغې لارې واړوي، تیت او پرک به مو کړي.

د کفارو سره د هر راز معاملاتو قطع کول

بیا الهي شریعت یوازې پر همدومره جدایی او بیلتانه اکتفاء ونکړه، بلکې د دې امتیاز او تفریق په لا زیات واضحولو سره یې له کفارو سره د ټولو معاملاتو د پریکون حکم وکړ. نو که چېرته د اسلام برم او پرتم حاکم و، د حکومت بیرغ یې رپېدی او شرعي

عدالتونه خلاص وو، نو د راشده خلافت او ديني حکومت د دستور مطابق به مسلمانان له کفارو څخه مرسته نه اخلي، په سياسي مسائلو کې به هغوی نه شريکوي او له هغوی سره له ګډ کار کولو څخه به د امکان تر حده ځان ساتي، ځکه د معاملاتو دا ظاهري شراکت هم بالآخره هماغه موالات او مينه و محبت پيدا کوي. د سيدنا فاروق اعظم رضی الله عنه ژور سياست پر دې اصولو خورا ښه رڼا اچولې ده.د خلافت تر واک لاندې سيمو کې يې دا فرمان صادر شوی و:

... أن لا تكاتبوا أهل الذمة فتجري بينكم و بينهم المودة، ولا تكنوهم و أذلوهم، ولا تظلموهم.

له ذميانو سره د مکاتبت تعلق مه ساتئ، کنه ستاسې او د دوی تر منځ به محبت پيدا شي. هغوی ته پناه مه ورکوئ او هغوی ذليل کړئ خو ظلم مه ورباندې کوئ .

همداراز د سيدنا عمر فاروق او سيدنا ابو موسی اشعري رضی الله عنهما د ښکته ذکر شوو خبرو اترو څخه په دې تعلق قطع کولو کې د پروت حکمت په بشپړ ډول اندازه لګېدلی شي. امام احمد بن حنبل رحمه الله په خپل مسند کې په صحيح سند سره روايت کوي:

أبو موسى (رضى الله عنه) : قلت لعمر رضى الله عنه: أن لي كاتبا نصرانيا.

ابو موسی (رضی الله عنه): ما حضرت عمر رضی الله عنه ته وويل، چې له ما سره يو نصراني کاتب دی.

عمر (رضى الله عنه) : مالك! قاتلك الله! أما سمعت الله يقول: (يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلۡيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوۡلِيَآءَۘ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍ) ألا اتخذت حنيفا؟

حضرت عمر (رضی الله عنه) وفرمايل: په تا څه شوي دي! الله دې مړ کړه! آيا تا د الله ﷻ دا حکم نه دی اورېدلی، چې: اې مؤمنانو! يهوديان او عيسويان خپل ملګري مه نيسئ، دوی په خپلو منځو کې سره ملګري دي. ولې دې مسلمان سړی نه دی درسره مقرر کړی؟

أبو موسى(رضى الله عنه): يا امير المؤمنين! ان لي كتابته وله دينه .

حضرت ابو موسی (رضی الله عنه): اې امير المؤمنينه! زما خو يې له کتابت سره کار دی او دين د هغه خپل کار دی (يعني زما يې د هغه له دين سره څه؟)

په يو بل ځای کې راځي چې حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي:

لا اكرمهم اذا أهانهم الله و لا أعزهم اذا أذلهم الله ولا أدنيهم اذا أقصاهم الله (جل جلاله).

زه هغه چاته عزت نه ورکوم، چې الله ﷻ يې توهين کړی وي، نه يې درناوی کوم، چې الله ﷻ ذليل کړی وي او نه يې را نژدې کوم، چې الله ﷻ ليرې کړی وي .

نو چې د کوم مخلوق الله ﷻ اکرام نه وي کړی او نه يې د هغوی لپاره يوه ذره عزت خوښ کړی وي، د هغه خالق د عبادت کوونکو له غيرت او حميت سره دا مخالفه ده، چې د هغه د دښمنانو درناوی وکړي او هغه چې څوک شړلی وي دوی محبت ورسره وکړي، کنه نو بيا خو دا د اسلام تر نامه لاندې د الهي مقرراتو سپکاوی دی او په خپله د الله ﷻ د افعالو له صريح تکذيب کولو سره يو شان ته دی. نعوذ بالله منه.

له کفارو سره له ناستې ولاړې ځان ساتنه

بيا د دين او ملت د خونديتوب په موخه شريعت يو بل ګام هم واخيست او له کفارو سره يې له ناستې ولاړې هم ممانعت وکړ. که له هغوی سره ناسته ولاړه او تګ راتګ عام شي، نو کرار کرار له هغوی سره د مينې او موالاتو پيدا کېدلو قوي انديښنه شته، چې له امله به يې د مسلمانانو ځانګړې ملي او مذهبي شعائر به له منځه تلل پيل شي او دين به ضائع شي. ځکه د کفر او نفاق د مجلسونو عمومي چاپيريال همدا وي، چې د دين سپکاوی په کې کېږي او په قول او فعل سره د الله ﷻ د آياتونو توهين کېږي، نو ځکه په دې غونډو کې د ګډون په پايله کې د مسلمانانو له خپل دين

څخه له لیري والي پرته بل څه کېدای شي؟ څکه نو قرآن کریم وفرمایل:

وَقَدۡ نَزَّلَ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ أَنۡ إِذَا سَمِعۡتُمۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ يُكۡفَرُ بِهَا وَيُسۡتَهۡزَأُ بِهَا فَلَا تَقۡعُدُواْ مَعَهُمۡ حَتَّىٰ يَخُوضُواْ فِي حَدِيثٍ غَيۡرِهِۦٓۚ (سورة النساء:۱۴۰)

الله په دې کتاب کې، تاسې ته پخوا امر کړی دی چې په هر ځای کې واورئ، چې د الله د ایتونو پر خلاف اواز پورته کېږي او مسخرې ور پورې کېږي، هلته مه کښېنئ، تر هغه چې خلک په کومه بله خبره کې مصروف شي.

همداراز چې کله یوه منافق ته د هغه د ظاهري ناستې پاستې او تش د خولې په خبرو مسلمان ویل کېدای شي نو آیا پر یوه سوچه مسلمان به له کفارو سره د مجلسونو او ناستو له امله د کفر او نفاق احکام نه شي جاري کېدای؟ قرآن کریم په خپله فیصله کړې ده:

إِنَّكُمۡ إِذٗا مِّثۡلُهُمۡ (النساء:۱۴۰)

اوس که تاسې داسې کوئ، نو تاسې هم د هغو په څېر یاست.

د کفارو له خواهشاتو سره مخالفت

له دې ټولو پړاونو وروسته شریعت نور هم مخته لاړ او له کفارو سره یې د رابطې دا تار هم پرې کړ، چې مسلمانان دې د کفارو د نفس په غوښتنو او جاهلانه خواهشاتو غوږ وګروي یا د هغوی د نفساني احساساتو یوه ذره احترام وکړي، څکه که د دوی له لوېدلو خواهشاتو څخه دې یوه ته لبیک وواېه، نو دا یوه پیروي به ستا لپاره د نورو وسیله هم شي او د هغو لپاره به بیا د نورو خواهشاتو وړاندې کولو او د هغو د منلو قوي سبب او حجت شي او بیا نو عاقبت یې په تیاره کې دی چې بالآخره به د دې خواهشاتو او غوښتنو لړۍ څني د اسلام څومره شتمني قربانول شي، اګر که په رضایت سره وي او که په نارضایتۍ سره. نو قرآن کریم را وښودله، چې د دې جاهلانو پیروي کول په حقیقت کې له حق څخه د اوښتلو په معنی دی. الله ﷻ خپل رسول ﷺ ته خطاب کوي او ورته فرمایي:

ثُمَّ جَعَلۡنَٰكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِ فَٱتَّبِعۡهَا وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ (الجاثية:۱۸)

بیا موږ ته د خپل دین پر یوه ځانګړې طریقه برابر کړې، نو ته پر هغه لاره لاړ شه او د دې جاهلانو پر خواهشاتو مه ځه.

یو بل ځای فرمایي:

وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡحَقِّ (المائدة:۴۸)

او کوم حق کتاب چې تاته راغلی دی، له هغه څخه په مخ اړولو سره د هغوی د غوښتنو پیروي مه کوه.

وَأَنِ ٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ وَٱحۡذَرۡهُمۡ أَن يَفۡتِنُوكَ عَنۢ بَعۡضِ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ (المائدة:۴۹)

نو (اې محمده ﷺ) ته د الله ﷻ له نازل کړي قانون سره سمه ددې خلکو د چارو فیصله وکړه او د هغوی د خواهشاتو پیروي مه کوه. پام کوه چې دا خلک تا په فتنه کې وانه چوي، یوه ذره قدري دې هم له هدایت څخه وانه ړوي چې خدای تاته درلېږلی دی.

یو بل ځای فرمایي:

وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم بَعۡدَمَا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا وَاقٖ (الرعد:۳۷)

اوس که ته له دې علم سره چې تا ته راغلی دی، د خلکو د غوښتنو پیروي وکړې؛ نو د الله په مقابل کې نه څوک ستا ملاتړ او مرستندوی دی او نه څوک د هغه له نیونې څخه تا ژغورلای شي.

په هر حال په آیت کې د کفارو د خواهشاتو له پیروي څخه په ډېرې بلاغت سره ممانعت راغلی دی او ورسره یو ځای د "علم" بل ځای د "حق" بل ځای د "شریعت" او بل ځای د "ما انزل الله" په کلماتو دې لورې ته هم رهنمایي شوې ده، چې د اتباع لپاره دا شیان هم بسنه کوي. بیا آیا له دې وروسته هم د کوم دوهم شي او هغه هم د کفارو د خواهشاتو د پیروي اړتیا پاتې کېږي؟ هیڅکله نه! بلکې د دې

خواهشاتو که پیروي وکړې نو ته به د علم پر ځای د جهالت، د حق پر ځای د باطل او د شریعت پر ځای د باطلو لارو او د "ما انزل الله" پر ځای د "القاءالشیطان" په خړو اوبو کې را ایسار شې. أتستبدلون الذي هو أدنی بالذي هو خیر؟

له کفارو سره عملاً دښمني...

جهاد في سبیل الله

د زړه او وجود ددې ټولو تړاوونو له پرې کولو وروسته اوس شریعت یو بل ګام واخیست چې د الله ﷻ دوستان "مسلمانان" که د الله ﷻ له دښمنانو سره کوم تړاو ساتي نو هغه باید د عداوت او البغض في الله تړاو وي، نه د مینې او محبت. ځکه دوی د الله ﷻ دښمنان دي، دوی او د دوی ستر مشر "شیطان" د خپلې بې اندازې زیاتې دښمنۍ له امله غواړي ټول مسلمانان د جهنم په لور تېل وهي:

إِنَّ الشَّيْطَٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا إِنَّمَا يَدْعُوا حِزْبَهُۥ لِيَكُونُوا مِنْ أَصْحَٰبِ السَّعِيرِ (فاطر:٦)

په حقیقت کې شیطان ستاسې دښمن دی، نو تاسې هم هغه خپل دښمن وګڼئ. هغه خپل پیروان خپلې لارې ته د دې لپاره رابولي چې هغوی د دوزخیانو له جملې څخه شي.

همداراز چې کله دغه عداوت د یوې نفساني غوښتنې پایله نه وي، بلکې یوازې د دې لپاره وي، چې هغوی د حق پر وړاندې د بغاوت بیرغ پورته کړی دی، نو د دې اساس بیا یوازې پر رښتینولۍ شو. له دې امله نو بې له وېرې دغه اعلان هم وکړه، تر څو د الله ﷻ دښمنان خپل لوري ته ستا له ور مائل کېدلو څخه مایوسه شي، لکه ابراهیم علیه السلام چې څنګه اعلان کړی و او ښکاره یې فرمایلي وو:

كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَٰوَةُ وَالْبَغْضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُۥ (الممتحنة:۴)

موږ له تاسې او ستاسې له دغو معبودانو څخه چې د خدای پر ځای یې بندګي کوئ، په ټینګه بېزار یوو. موږ له تاسې څخه منکر شوي یو او زموږ او ستاسې تر منځ د تل لپاره دښمني او کینه ولویدله، تر څو پورې چې پر یوه الله ایمان رانه وړئ.

بیا یې وفرمایل، چې د دښمنۍ له اعلان وروسته آرام مه کښېنه، د خپل توان په اندازه د جنګ د اسبابو لپاره هم په امادګۍ بوخت شه، تر څو دا دښمني مو تر هغه وخته ټینګه وي، تر څو چې هغوی له خپل کفر څخه توبه نه وي ایستلې:

وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمْ (الانفال:٦٠)

او تاسې د خپل توان مطابق ډېر زیات طاقت او تیار زین کړي آسونه، د هغوی د مقابلې لپاره برابر کړئ، تر څو چې په دې وسیله د الله پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو هیبت راولئ!

د خبرو خلاصه

خلاصه دا چې له کفارو سره دښمنۍ ته د ځان چمتو کولو، د هغې د اعلانولو او بیا وړاندې د دوام کولو په وجه دوی ته د الله ﷻ دا خطاب نازل شو: "أشداء علی الکفار" او دوی د الله ﷻ د هغه لښکر سرتیري شول، کوم چې الله ﷻ د خپل دښمن سره د مقابلې لپاره غوره کړ. مسلمان او کافر دوه لښکرې دي، چې تل یو د بل پر وړاندې صفونه تیاروي او په دوامداره توګه جنګیږي. تل د یوه لښکر مرسته د جنود الملئکة (د ملائکو د لښکرو) او د بل مرسته د جنود الشیطن (د شیطان د لښکرو) له لوري کېږي او تل د لومړي لښکر لپاره د بریا او کامیابۍ دروازې پرانیستل شوې او د وروستي لپاره عواقب له ذلت او رسوایي پرته بل څه نه دي پاتې.

****

مشهور تابعي حضرت قتادة رحمه الله فرمایي: ته به د باطل د خلکو خبرې او شاهدي بیلابیلې ومومې، غوښتنې او خواهشات یې مختلف وي، عملونه یې سره جلا او مختلف وي، خو د حق د خلکو په دښمنۍ کې سره یوځای وي.

تفسیر الطبري، سورة الحشر

عرفه؛ له اور څخه د خلاصون ورځ

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: هېڅ داسې ورځ نشته چې الله تعالی پکې د عرفې د ورځې څخه زيات بنده ګان د دوزخ له اور څخه خلاص کړي، په همدغه ورځ الله جل جلاله خپلو بنده ګانو ته نژدې کيږي، بيا په هغوی د فرښتو پر وړاندې فخر کوي او فرمايي: دا کسان څه غواړي؟!

رواه مسلم



دښمن پېژندنه

صهیونیزم او ماسونیت

أسامه أمجد



د أقصی مسجد په یوه غره او غونډۍ باندې جوړ شوی ده، چې دې غره یوه برخه صهیون (یا Zion) نومیږي، او د صهیونیزم کلیمې نسبت هم همدې غره ته کیږي، یهود ځکه دې غره ته په تقدس قایل دي چې ددوی په وینا: هغه زمان چې داوود"علیه السلام" له حبرون ښار څخه راغی نو یې همدلته د صهیون پر غره باندې د ځان لپاره یو قصر او عبادت خونه جوړه کړه؛ د صهیونیزم کلیمه ډېره ستر او پخوانی تاریخي پس منظر لري چې یادونه یې په انجیل کې د داوود "علیه السلام" د حکمرانۍ ترڅنګ شوې.

اوسني یا معاصر صهیونیت Zionism یو سیاسي، نشنلستي، افراطي او دین ته منسوب حرکت او فکر دی چې د یهودي خلکو لپاره د یو مستقل او ځانګړي هېواد او خاورې جوړولو ملاتړ کوي چې له نیله تر فراته د اوږدوالی په لرلو چې مرکز به یې فلسطین وي دعوه داران دي.

د دې حرکت مؤسس تیودر هرتزل دی، د ۱۹م پیړۍ په آخرو کې یې د صهیونیزم بنسټ په اروپا کې کېښوده، ۱۹۴۸م کال کې د فلسطین په مقدسه خاوره کې ددوی د ناولو قدمونو له ایښودلو را وروسته خپلو لورو پوړیو ته ورسېده.

صهیونیت یا صهیونیزم بیلابیلې برخې او ډولونه لري چې یو بل سره د اعانت او مرستې په تکل په ګډه په کار بوختې دي، سیاسي صهیونیزم د یهودو د تحکیم ټولې چارې په غاړه لري، نظام یې چلوي، طرحې ورکوي او داخلي او خارجي پالیسي کنترولوي؛ مذهبي صهیونیزم خپلو وګړو ته د سیاسي صهیونیزم د مشروعیت ورکولو مسؤلیت په غاړه لري او کلتوري صهیونیزم د یهودي اثارو، ژبې او کلتور د تحفظ په پار ګرندۍ هڅې کوي.

د صهیونیزم اساسي هدف د ټولې نړۍ څخه د یهودو راټولول، فلسطین ته انتقالول، یو یهودي دولت جوړول او بیا له همدې ځایه په ټوله نړۍ حکمراني کول او نړۍ تسخیرول دي. همدا صهیونیزم دی چې اسرائیلي غاصب رژیم چلوي، پلانونه او طرحې ورته چمتو کوي، د لوی اسرائیل دعوه پر مخ وړي، د بیرغ په منځ کې یې دوه آبي لیکې یو د فرات او بل د نیل سیندونو په معنی دي، چې له فرات تر نیل ددې اسلامي جغرافیې د ملکیت تر لاسه کولو لپاره خپل ټول قوت په کار اچوي.

صهیونیت او صهیوني فکر د نړۍ په حکومتونو کې لوی لاس لري، په نړۍ کې په مختلفو او زړه راښکونکو نومونو په سلګونو سترې سترې ټولنې لري خو هدف یې همدا یو صهونیت ته کار کول او د خپل هدف د تر لاسه کولو لپاره ددوی استعمال او واک ته رسول دي. د نړۍ ستر مفکرین، سرمایه دار، د غټو کمپنیو مالکین، د وزارتونو، جمهور ریاستونو او نړیوالو سترو موقفونو لرونکي د صهیونیزم د فکر د تأثیر لاندې دي او هم یې تر تأثیر لاندې راولي؛ دوی په نړۍ باندې د یو داسې یهودي دولت د حاکمیت دعوه داران دي چې مرکز یې فلسطین وي او د دې هدف د تحقق لپاره شپه او ورځ په هڅو او زیار بوخت دي. صهیونیزم د نړۍ مفکرین، رهبران او ستر تجاران په خپل دام کې په داسې ډول ښکیلوي چې، لومړۍ خپل ټارګیټ شوی شخص په مختلفو بهانو په خپل جال کې راښکیلوي، او بیا په ډول ډول لارو له نوموړي شخص د خپلو ګټو د تحقق په پار استفاده کوي، د تجارت، سیاست، صنعت او عسکرۍ په برخه کې بیا د خپل ځان په نفع تړونونه پرې لاسلیکوي، چې د جفري اپستین دجالي جال یې ښه مثال ده؛ نوموړي به خپلې دجالي جزیرې ته د نړۍ ستر مفکرین، میلیونران، بیلیونران، د غټو کمپنیو مالکین، مشاورین، ساینس پوهان، د وزارتونو، جمهور ریاستونو او نړیوالو سترو موقفونو لرونکي اشخاص را دعوتول چې له جملې څخه یې د فرانسې شهزاده، ستر او مشهور ساینس پوه Stephen Hawking، کامیډینه Chris Tucker، ایلن ماسک، بیل ګیټس، د اسرائیلو پخوانی

لومړی وزیر او د شاباک پخواني مشر تر ځنګ جوبایډن، بارک اوباما، هیلري کلنټن، میشل اوباما د بریټانیا اوسني او پخواني چارواکي، د عربي نړۍ طواغیت چې په سر کې يې MBS چې محمد بن سلمان يې بولي، د اماراتو حاکم، او نور په لسګونو او سلګونو مخ کښان هم د دې وحشت له کلیدي لوبغاړو څخه وه؛ چې د انسانیت ټولې پولې يې ونړولې حتی چې د حیوانیت تر سرحد هم اوښتي وه. د صهیونیزم افکار او عقاید چې له خپل تحریف شوي تلمود څخه يې را خیستي په لاندې ډول دي:

1. ټول افراد يې اسرائیل دي: غیر یهود خپل حرکت ته د خپلې استفادې لپاره استخداموي تر ګټې اخیستنې بعد يې په یوه نه یو بهانه وژني.
2. پدې باور دي چې په نړۍ به زموږ واک رازي، یهود خپل ماشومان له کوچنې والي پدې فکر روزي چې زموږ یو ژغورونکی را روان دی، پر ټوله نړۍ به واکمن یو او پر موږ واجب دی چې په مخ کې يې پراته ټول خنډونه له منځه یوسو او خپل دا ژغورونکی دجال ګڼي.
3. یهود غوره نسل دی او نور ټول د دوی غلامان دي.
4. خلکو کې باید خپله ویره خپره کړو چې د دې ویرې له امله زموږ په پټو سترګو اطاعت وکړي.
5. د ولسونو تر منځ اقتصادي بحران راپیدا کړئ، کله چې کمزوري شي قرضونه ورکړئ په دې طریقه به خپل اهداف پرې ټپو.
6. د ازادۍ ټکی په خلکو کې ډیر عام او ورتلقین کړئ څکه د ازادۍ ټکی خلک له الله جل جلاله سره جګړې ته هڅوي.
7. موږ یو داسې پټ ځواک لرو چې هیڅوک يې ماتولای نشي، په پټه لګیا دي، په سختی سره کار او فعالیت کوي او ددې ځواک غړي وخت په وخت بدلیږي.
8. خلک په لوبو ګیمونو داسې مصروف کړئ چې خپلو ګریوانونو ته په سرښکته کولو وخت پیدانکړي.

د صهیونیستي حرکت خطرناک او وژونکي افکار او اهداف د دوی په کتاب "د یهودي مشرانو پروتوکولونه" کې لیدلای شئ، دا یو داسې کتاب دی چې دوی پټ ساتلی وه، کله چې برملا شو ترې انکاري شول، خو د همدوی کتاب ده چې دوی خپلې طرحې او اهداف پکې درج کړي.

ویې لولئ! په انګلیسي، عربي او دري ژبو په اسانۍ سره موندل کیږي

دوهم ماسونیت

دا کلیمه او اصطلاح له صهیونیزم سره ژور ربط لري، تر دې چې یو د بل تکمیلونکي دي. د ماسونیت کلمه په انګلیسي کې د فریمیسن او په پښتو کې د ازادو ګِل کارانو په معنی سره ده. د دې نوم تاریخي شالید داسې دی:

یهود په دې دروغ او باطل فکر او عقیده باندې دي چې سلیمان "علیه السلام" د خپلې پاچاهۍ په دوران کې په مسجد اقصی کې یو معبد جوړ کړی وه د سلیماني هیکل په نوم، چې وروسته پر یهودو د بخت نصر د یرغل په نتیجه کې چې په لسګونه زره یهود يې ژوندي وسوځول، په اوبو کې واچول او د فلسطین ښارونو ته يې اور ورکړ نو يې سلیماني هیکل هم ونړاوه، چې په دې سره دا هیکل یوازې د تاریخ د پاڼو یوه برخه وګرزیده، ماسونیت یو پټ، پیچلی، خطرناک، تروریستي او ویجاړونکی یهودي تنظیم دی. دا تنظیم ډیره تاریخي مخینه لري چې له اسلام مخکې همدې تنظیم د نصرانیت د له منځه وړلو لپاره کار کاوه.

ښنسټ ایښودونکی يې هیروډیس بلل کیږي، د حرکت د تاریخ په اوږدو کې مختلف نومونه او رمزونه درلودل. ددې تنظیم غړي له ځانه سره د هندسي اشکالو له جملې پرکال او قایمه زاویه تل ساتي چې د هیکل د جوړولو په معنی ده او پخپلو نښو کې يې هم همدا دوه اشکال وجود لري. یهود خصوصا ماسونیان خپلو نسلونو او خلکو ته دا ور تلقینوي دا هیکل به موږ بیرته جوړوو، یوه ورځ به خامخا مسجد الاقصی نړوو او پر ځای به يې سلیماني هیکل جوړوو، هرکله مو چې اقصی ونړوله او پر ځای مو سلیماني هیکل جوړ کړ، یو ځل به بیا پر نړۍ زموږ واکمني او حاکمیت پیلیږي!

ځینې محققین پدې باور دي چې د هیکل سلیماني تر نامه لاندې دوی خپلو ولسونو ته دوکه ورکوي بلکې په اصل کې دوی د نمرود د هیکل جوړونې پلان لري. د دې هدف د تحقق لپاره دوی شپه او ورځ په کار بوخت دي، د مسجد الاقصی لاندې يې ستر ستر تونلونه ویستلي چې ګواکې یوه ورځ به د زلزلو له امله نړیږي، د بیا جوړولو

اجازه به یې مسلمانانو ته نه ورکوو او پر ځای به یې همدا خپل هیکل ورغوو!

د دې تنظیم غړو ته ځکه فریمیسن یا ازاد گِل کاران وایي چې: ددوی په باور همدوی به هیکل سلیماني جوړوي او دوی یې انجینران دي. یهودو ددې هیکل نقشه او یوه کوچنی نمونه له مخکې تیاره جوړه کړې ده، مختلفې کمپنی، سازمانونه او ادارې همدې هدف ته د رسیدو په لار کې شپه او ورځ په کار، هڅو او طرحو جوړولو بوختې دي، خپلو یهودي خلکو ته دا ورتلقینوي چې فلسطین زموږ د پلرونو او نیکونو ځای دی، مدینه منوره او د عربي جزیرې زیاتې برخې زموږ خاورې دي، نو موږ باید خپلو خاورو ته بیرته وروگرزو او دا هیکل جوړ کړو.

د مارتن شورت په وینا: په برتانیا کې په سلگونو زره او په امریکا کې تر درې میلیونونو ماسونیان موجود دي، دوی داسې روزل شوي چې د دوی له جملې څخه به ته له یوه څخه هم وانه ورې چې نوموړی ووایي زه ماسوني یم، نوموړی زیاتوي چې د ماسونیت معنی د شیطان کور ده او دا د شیطان دین ده.[1]

کله چې دوی یو نفر په خپل تنظیم کې داخلوي او خپل رهبر ته یې ورولي نو یې یوه وحشتناکه منظره ورته چمتو کړې وي، سترگې یې تړل شوې وي، کله چې سترگې پرې خلاصې کړي، نو یوه تیاره کوټه وي، هرې خواته د انسانانو کوپړی او هډوکي پراته وي، بدشکله انسانانو تورې او نیزې همده ته نیولې وي، ویره اچونکې کالي یې اغوستې وي، دا هرڅه ددې لپاره کوي چې د نوموړي په زړه کې رعب او ډار واچوي، تر څو تل د دوی مطیع واوسي بیا همدلته تعهدونه ترې اخلي داسې چې: خپل دین به پریږدي او د شیطان عبادت به پیلوي، همدا رنگه به ټول قوت د دجال د راتلو استقبال ته پکار اچوي، خپل ټول واک به موږ ته سپاري، که چیرې دې لدې حرکت څخه د وتو اراده وکړه دا پرې چې ته وینې د شا له طرفه بدې غاړه کې در اچول کیږي او پخپله به د خپل ځان قاتل یې، که دې د ماسونیت له رازونو یو راز هم افشا کړ نو د ماسونیت د قانون پر اساس بدې سر له تنې جدا کیږي. ددې هر څه له منلو وروسته او په دې طریقه یې خپل تنظیم کې داخلوي.

دوی په نړۍ کې د لوړې پایې خلک پخپل تنظیم او حرکت کې داخلوي لکه رئیسان، وزیران، د مؤسیساتو او کمپنیو مالکین او داسې نور چې د دوی په واسطه په اسانۍ هدف ترلاسه کولای شي، کله چې یو څوک نور ددوی د استفادې وړ نه وي بیایې په یوه نه یوه بهانه وژني، لکه ټکر، د زهرو په واسطه، زندان، له طیارې راغورځول، په شرابو یې وژل او داسې نورې طریقې ترڅو ددوی رازونه او اسرار افشاء نشي.

دخپلو اهدافو د تحقق لپاره له داسې نومونو او رمزونو استفاده کوي چې هرڅوک پرې نه پوهیږي؛ چې له جملې څخه یې یو هم یوه سترگه ده چې د دجال په معنی ده، او دوی له پیړیو پیړیو یې راتگ ته منتظر دي.

د ماسونیت اهداف:

1. د ټولو دینونو نړول: دوي پدې هڅه کې دي چې د انسان او الله تعالی تر منځ رابطه له منځه یوسي او بشریت د الحاد په ناولي گرداب کې غرق کړي !
2. نا مشروع او حرامې اړیکې مباح گڼل او عامول: د ماسونیت یو له اهدافو څخه داده چې د انسانیت او حیوانیت تر منځ فرق له منځه لاړ شي، د نامشروع او حرامو اړیکو د عاملو په پار یې زرگونه سایټونه، اشخاص او کمپنۍ په کار بوختې دي تر څو د خلکو اخلاق فاسد، فحشا عامه او یوه داسې ټولنه رامنځ ته کړي چې هلته د خور، مور، ښځې او محرم فرق پکې نه وي موجود.؛ خلک دې ته تشویقوي ترڅو له خپلو محارمو سره ناوړه اړیکې جوړې او د زنا تر سرحده ورسیږي. دیته زمینه مساعدوي تر څو ځوانان او پیغلې په فحشاء کې مبتلا شي؛ د ښځې او میړه تر منځ اختلافونه راپاروي د boy friend او girl friend له لارې.
3. د اختلافاتو تخم شیندل: دوه ملتونه د مختلفو نومونو او شعارنو لاندې یو د بل په مقابل کې راپاڅوي، کله یو حمایه کوي او دا بل پرې کمزوری کوي او بیا همداسې برعکس په یو هېواد کې لړه کې د اکثریت پر ضد راپاروي، حمایه

[1] قناة الجزیرة، سری للغایة: کیف بدأت الماسونیة و ما اهدافها؟!

کوي يې او د ځانګړې جغرافيې ورکولو وعدې ورسره کوي، چې دا لوبه سلګونه کلونه په اسلامي ممالکو کې روانه ده او د خپل خوښې اشخاص يې واک ته رسولي.

4. جګړې : د نړۍ د اسلحو ټولې کمپنۍ د همدوې يهودو او د يهودو تر لاس لاندې اشخاصو په ملکيت کې دي، ددې اسلحو د بازار موندنې لپاره ضرور ده چې جګړو ته زمين سازي وکړي او اسلامي نړۍ ددې اسلحو د خرڅلاو او استعمال لپاره بهترين بازار او لابراتوار دی!
5. کوښښ کوي چې په رسنيو واکمن وي او د خپل ځان په نفع يې د يوې خطرناکې وسلې په توګه استعمال کړي.
6. تدريجي نسل وژنه: د مسلمانانو تر منځ داسې دواګانې توزيع کوي چې د زيږون مخه پرې ونيسي !
7. ښځه د يوې حربې په توګه استعمالول.

د ماسونيت عقايد:

1. اسونيان په الله تعالی"جل جلاله" په رسولانو او اسماني کتابونو کافران دي.
2. غيبيات نه مني.
3. د هدف تر لاسه کولو لپاره هره وسيله جايز ګڼي لکه د ښځې استعمال، رشوت، وژل او داسې نور.

ماسونيت سراسر يهوديت دی، د صهيونيزم اکثريت مشران ماسونيان دي.

په صليبي جګړو کې د مسلمانانو پر خلاف د عيسويانو مرستندويان او د لښکر پوځيان پاتې شوي دي.

دکتور حسان حلاق د لبنان د پوهنتون استاد وايي: د برتانيې سفير په استانبول کې خپل خارجه وزارت ته په استول شوي راپور کې په تفصيل سره ويلي وه چې: عثماني خلافت هم همدې ماسونيانو، صهيونيستانو د اتحاد او ترقي د حرکت په توسط کمزوری او ونړاوه؛ د يهودو، دونمه يهودو چې په ښکاره يې ځانونه مسلمانان ګڼل او په پټه يهود وه، صهيونيستانو، ماسونيانو او د اتحاد او ترقي ګوند تر منځ ډيرې ژورې اړيکې وې، او ټولې طرحې او پلانونه چې اتحاد او ترقي تنظيم عملي کولې د همدې ماسونيانو وې او د سلطان عبدالحميد الثاني رحمه الله د استعفاء تر شا هم همدوی وه.

د کفر د تيارو لښکرې که هر څو د مکر، فريب او دسيسو جالونه وغځوي الله تعالی يې شنډوي؛ تاريخ شاهد دی چې د باطل مانۍ هر ځل د خپل غرور په وزن نسکورې شوي، او د حق هغه سپېڅلی څراغ چې د وحی له آسمانه بل شوی، د طوفانونو په څپو کې لا روښانه ځلېدلی دی؛ الله تعالی فرمايي:

وَمَكَرُوا وَمَكَرَ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ (سورة آل عمران:٥٤)

او هغوی چلونه جوړ کړل او الله پټ تدبير وکړ او الله له ټولو تدبير کوونکو نه غوره دی.

نو د مؤمن زړه بايد د دښمن له ويرې او قوت څخه نه، بلکې د خپل رب په وعده ډاډمن وي، الله تعالی د خپل دين د ساتنې لپاره په هره زمانه کې داسې رجال پيدا کړي چې زړونه يې د يقين په رڼا ژوندي، ارادې يې د غرونو په څېر ټينګې، او قدمونه يې د حق پر لار ثابت وي، د حق کاروان کله هم بې لارښوده نه دی پاتې شوی؛ هر عصر خپل مجاهد، خپل عالم، خپل داعي، او خپل وفادار ساتونکی زېږولی دی، څو نړۍ ته وښيي چې د الله تعالی دين د انسانانو په پرېښودو نه ورکيږي، بلکې د رب العالمين په نصرت تلپاتې او بريالی پاتې کېږي.

مأخذونه

پروتکل های بزرگان صهيون

استاد مولوي عبدالهادي مجاهد

قناة الجزيرة

****

په بخاري کې د خيبر د غزا اړوند روايت کې راغلي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د خيبر په غزا کې حضرت علي رضي الله ته بيرغ ورکړ او ورته يې فرمايل:

«په خورا اطمينان مخکې لاړ شه تر څو د هغوی ساحې ته داخل شې، بيا هغوی اسلام ته دعوت کړه او له هغو حقوقو يې خبر کړه چې د اسلام په رڼا کې د الله تعالی له لوري د دوی په غاړو پرېوځي. سوګند په الله که الله تعالی ستا په واسطه يو سړي ته لار وښايي، نو دا درته له سرو اوښانو څخه ډېره غوره ده.»



نوې نړۍ زېږي او زوړ نظام مري!

معاذ ابراهيم زى

د نړۍ حالات په دومره تېزۍ بدلېږي چې د انساني تاريخ په اوږدو کې يې بېلګه نه تر سترګو کېږي. د سهار کيسه تر ماښامه زړېږي او د نن ماښام سبا سهار داسې ښکاري لکه پخوانۍ افسانه. نړۍ بدلېږي او په ډېرې چټکۍ بدلېږي. خو د دې ټولو بدلونونو په منځ کې يوه خبره ثابته ده. د باطل د ماتې او د حق د بريا پرېکړه، چې د ازل له پيله يا تر هغه مخکې ليکل شوې وه. نړۍ په خپلو سترګو ګوري چې يو ستر بدلون رامنځته کېدونکی دی. څوک د شام خاورې ته ګوري، څوک د فرات سيند اوبه اندازه کوي. د باب المندب تنګې دواړو غاړو ته د وينې توېيدو نښې ښکاري. د سند او هند په ځمکو کې فساد خپل اوج ته رسېدلی؛ يو لور ته د الهي قانون پر ځای د باطلو قوانينو نافذول او هغه د حق په نوم وړاندې کول دي او بل لور ته ښکاره کفر، بت پرستي او شرک دی.

په لږې لوېديځ کې امريکا د پخوا په پرتله لا زياته سرکښه شوې او د «أنا ربکم الأعلى» په غرور خپلو ګاونډيو هېوادونو ته ننوتې ده. هغه امريکا چې ځان د سولې، انصاف، عدل او مساوات ملاتړې او د بشري حقونو اتله بولي، د وينزويلا د ولسمشر کور ته د شپې په تياره کې ننوزي، هغه او د هغه ښځه نيسي، تشدد پرې کوي او بې شرمۍ لا دا ده چې د مادورو ښځه له وهلو ټکولو وروسته يوې تش په نامه امريکايي محکمې ته وړاندې کوي. په غزه کې د روان انساني تاريخ تر ټولو ستر قتل عام د درولو لپاره چې هره پرېکړه د ملګرو ملتونو له لارې وړاندې کېږي، امريکا يې ويټو کوي. دا نړيوال زبرځواک د غزې په نوم د سولې کميټه جوړوي، چې د نړۍ لوی لوی غله پکې شاملوي او بيا له همدې کسانو د غړيتوب په بدل کې يو ميليارد ډالر هم غواړي. امريکا ښکاره غواړي پر ګرينلنډ قبضه وکړي او د هغه معدني شتمنۍ تر خپل تصرف لاندې راولي. آيا زموږ له منځه داسې څوک شته چې د دې ټولو پېښو شاهد نه وي؟

همدغه امريکا او د همدې امريکا ستر زبرځواک ټرمپ ته، له ټولو دغو نړيوالو کړنو وروسته، د پاکستان شهباز شريف (د عاصم منير په اجازه)، د اماراتو ابن زايد، د سعودي ابن سلمان، د قطر تميم، د مصر سيسي، د اردن عبدالله او د ترکيې اردوغان د سولې غوښتونکی، د سولې ټينګونکی او د سولې ساتونکی وايي. ريښتينی پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي:

سَيَأْتِي عَلَى النَّاسِ سَنَوَاتٌ
خَدَّاعَاتُ يُصَدَّقُ فِيهَا الْكَاذِبُ
وَيُكَذَّبُ فِيهَا الصَّادِقُ وَيُؤْتَمَنُ
فِيهَا الْخَائِنُ وَيُخَوَّنُ فِيهَا الْأَمِينُ
وَيَنْطِقُ فِيهَا الرُّوَيْبِضَةُ قِيلَ وَمَا
الرُّوَيْبِضَةُ قَالَ الرَّجُلُ التَّافِهُ
يتكلم فِي أَمْرِ الْعَامَّةِ " (سنن ابن ماجة)

«پر خلکو به داسې فريب کونکي کلونه راشي چې دروغجن به رښتينی په کې ګڼل کېږي او رښتينی به په کې دروغجن بلل کېږي، خائن به باوري وګڼل شي او باوري به خائن وبلل شي او رويبضه به د خلکو په عامو چارو کې خبرې کوي. وويل شول: رويبضه څوک دی؟ ويې فرمايل: هغه سپک او بې قدره سړی چې د عامو خلکو په چارو کې خبرې کوي.»

لږ فکر وکړئ! ايا دا نبوي وينا له ټرمپ څخه نيولې د هغه تر پيروانو او غلامانو پورې پر ټولو نه پلې کېږي؟ ايا تاريخ کله تر ټرمپ او د هغه تر ملاتړو لکه شهباز شريف، تميم، ابن زايد او نورو هم ټيټ او سپک خلک ليدلي دي؟ ايا کله داسې نااهله او سپک اشخاص د نړۍ د واک پر څوکۍ کېنستلي وو؟

هره بدي يو حد لري او تر څو چې هغه بدي خپل وروستي حد ته ونه رسېږي، د هغې د زوال بهير نه پيلېږي. د نړۍ په بدلېدونکو حالاتو د پوهېدو لپاره نه د بقراط غوندې

لوی عقل ته اړتیا ده او نه د جمشید جام ته اقبالِ لاهوري وايي:

شفق نہیں مغربی افق پر یہ جوئے خوں ہے، یہ جوئے خوں ہے!

طلوع فردا کا منتظر رو کہ روش و امروز ہے فسانہ

وہ فکر گستاخ جس نے عریاں کیا ہے فطرت کی طاقتوں کو

اس کی بے تاب بجلیوں سے خطر میں ہے اس کا آشیانہ

«دا چې د لوېدیځ پر افق ښکاري، دا سور شفق نه دی، د وینو سیلاب دی!

د سبا سهار انتظار وکړه، ځکه پرون او نن یوازې کیسې ګرځېدلې دي

هغه سرغړاند فکر چې د طبیعت ځواکونه یې لوڅ کړي دي

د هغه له بې صبره برېښناوو سره يې خپل ځاله هم په خطر کې ده.»

نړۍ بدلېږي، له زاړه نړیوال نظام وروسته راتلونکی نوی نړیوال نظام ډېر ژر د سقوط پر لور روان دی. که څوک دا نوی تمدن ونه نړوي، بیابه هم دا فاسد تمدن د خپل ګډوډ جوړښت د وزن له امله پخپله را لوېږي. خو په دې ټولو حالاتو کې دوې مهمې پوښتنې شته! موږ د مسلمانانو په توګه د الله له لوري په عبادت مکلف یو او په همدې عبادت کې د روژې، لمانځه او زکات تر څنګ د جهاد او د نبوي منهج پر بنسټ د خلافت د اقامت پابند هم یو. یعنې موږ مکلف یو چې د شرعي طریقې له مخې له نړۍ څخه باطل له منځه یوسو او حق غالب کړو. نو د نړۍ په دغو بدلېدونکو حالاتو کې موږ مسلمانان څه کوو؟

دوهم دا چې د باطل نظام، په ځانګړې ډول امریکا او د هغې د ملاتړو له زوال وروسته، موږ مسلمانان چې الله موږ ته د «کنتم خير أمة أخرجت للناس» مقام راکړی، د نړۍ د مشرتابه لپاره څه چمتووالی لرو؟ ایا موږ خپل ځان او راتلونکو نسلونو ته هغه تعلیم، روزنه، فکر او مهارت ورکوو چې راتلونکی یې له موږ څخه غوښتنه کوي؟

له دې پوښتنو وروسته ریښتینې حقیقت دا دی چې موږ ټول په فردي توګه څه کوو؟ که باطل ماتېږي او حق بریالی کېږي، نو پوښتنه دا ده چې لیکوال او لوستونکی هر یو په خپل ځای د الله په لار کې د دې فرض د ترسره کولو لپاره څه کوي؟ زمانه د اقبال لاهوري په وینا موږ ته غږ راکوي او موږ ته وايي:

ہر ایک سے آشنا ہوں لیکن جدا جدا رسم و راہ میری

کسی کا راکب، کسی کا مرکب، کسی کو عبرت کا تازیانہ

نہ تھا اگر تو شریک محفل، قصور میرا ہے یا کہ تیرا

مرا طریقہ نہیں کہ رکھ لوں کسی کی خاطر مئے شبانہ

«زه له هر چا سره بلد یم، خو لار مې له هر چا بېله ده

ځینې خلک زما د هڅو وسیله دي، ځینې مې د زده کړې او عبرت له پاره مثالونه دي

که ته په مجلس کې راسره شریک نه وې، دا زما ګناه ده که ستا؟

زما طریقه نه ده چې د چا لپاره د شپې شراب وساتم»

****

یوه ورځ حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه خپلو ناستو کسانو ته وویل: هیلې وکړئ. یوه سړي وویل: زما هیله دا ده چې دا کور له سرو زرو ډک وای او ما دا ټول سره زر د الله په لار کې لګولي وای. بیا حضرت عمر رضي الله عنه وفرمایل: هیلې وکړئ. بل سړي وویل: زما هیله دا ده چې دا کور له ملغلرو، زبرجدو او قیمتي جواهرو ډک وای، تر څو د الله تعالی په لار کې مې لګولي او صدقه کړې وای. بیا حضرت عمر رضي الله عنه فرمایل: هیلې وکړئ. خلکو وویل: اې امیر المؤمنینه! موږ نه پوهېږو څه هیله وکړو؟

نو حضرت عمر رضي الله عنه وفرمایل: «زما هیله دا ده چې دا کور د ابو عبیده بن الجراح، معاذ بن جبل، سالم د ابو حذیفه آزاد شوي مریي او حذیفه بن الیمان رضي الله عنهم په څېر سړیو ډک وای. (تر څو مې له هغوی څخه د دین په چارو کې استفاده کړې وای)»

(فضائل الصحابه، جلد ۲، مخ ۷۴۰، اثر نمبر ۱۲۸۰)



د علماوو غوښې مسمومې دي

مولوي سعد طارق

څو ورځې وړاندې د علم او دعوت لوی خدمتگار، د تقوی او اخلاص نمونه، زینة المحدثین شیخ القران والحدیث حضرت مولانا محمد ادریس ترنگزی رحمه الله په داسې حال کې چې د پېښور یوې مدرسې «جامعه نعمانیې» ته د حدیثو د تدریس له پاره روان و، د زمانې د بد نامه، نامرده او نامراده ډلې داعش له خوا په بې رحمانه برید کې د شهادت لوړ مقام ته ورسېد. د هغه رحمه الله رحلت یوازې د هغه د کورنۍ یا تر هغه پورې د یوې محدودې حلقې ضایعه نه ده، بلکې د علمي فضا او دیني چاپېریال لپاره ستره خلا ده. الله تعالی دې د هغه شهادت قبول کړي، درجات دې یې لوړ کړي، قبر دې یې له رحمت او نور څخه ډک کړي او د هغه ټول علمي، دعوتي او اصلاحي خدمات دې د قیامت په ورځ د هغه لپاره د نجات وسیله وگرځوي. الله تعالی دې د هغه کورنۍ، شاگردانو او مینه والو ته صبر جمیل او اجر عظیم ورکړي. انا لله و انا الیه راجعون.

له ټولنې څخه د داسې علماوو او صالحینو کوچېدل باید په موږ کې دا احساس پیدا کړي، چې د علمي میراث قدر وپېژنو. کله چې علماء له نړۍ څخه ځي، دا عادي تگ نه وي، بلکې د علم یو باب هم ورسره تړل کېږي او د هدایت یوه ډیوه هم ورسره خاموشه کېږي. حضرت عبدالله بن عباس رضی الله ددې آیت مبارکه په تفسیر کې فرمايي:

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا نَأۡتِي ٱلۡأَرۡضَ نَنقُصُهَا مِنۡ أَطۡرَافِهَاۚ وَٱللَّهُ يَحۡكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكۡمِهِۦۚ وَهُوَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ (الرعد:۴۱)

«د دنیا خرابي په دې کې ده، چې فقهاء، علماء او اهل الخیر خلک یې ورڅخه وفات شي، مجاهد رحمه الله هم همداسې فرمايي، چې له دې څخه مراد دا دی، چې علماء یې وفات شي.»[1]

د اسلامي امت تر ټولو لوی امتیاز دا دی چې دا امت یوازې د کتاب امت نه دی، بلکې د علم، فهم، روایت او امانت امت هم دی. الله تعالی چې خپل وروستی دین او شریعت نازل کړ، نو د هغه د حفاظت لپاره یې داسې خلک پیدا کړل چې د نبوت تر چتر لاندې وروزل شول، مستقیما یې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له مبارکې سینې څخه سینو ته علوم انتقال شوي وو، د وحی له سرچینې یې علم اخیستی و، له همدې امله یې د نسلونو تر منځ د هدایت دا مشعل ژوندی وساته. همدا خلک د امت د علماوو هغه طبقه وگرځېده، چې د انبیاوو د میراث ساتنه یې وکړه. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

فَضْلُ العَالِمِ عَلَى العَابِدِ، كَفَضْلِ القَمَرِ عَلَى سَائِرِ الكَوَاكِبِ، إِنَّ العُلَمَاءَ وَرَثَةُ الأَنْبِيَاءِ، إِنَّ الأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَارًا ◌َلَا دِرْهَمًا إِنَّمَا وَرَّثُوا العِلْمَ، فَمَنْ أَخَذَ بِهِ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ.[2]

«د عالم فضیلت پر عابد داسې دی، لکه د سپوږمۍ فضیلت پر ټولو ستورو باندې او بېشکه علماء د انبیاوو وارثان دي او بېشکه انبیاوو هیڅ دینار او درهم د میراث په توگه نه دی پرېښی، بلکې هغوی علم په میراث پرېښی دی، نو چا چې هغه تر لاسه کړ، خورا لویه برخه یې تر لاسه کړه.»

---

[1] وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فِي رِوَايَةٍ: خَرَابُهَا بِمَوْتِ فُقَهَائِهَا وَعُلَمَائِهَا وَأَهْلِ الْخَيْرِ مِنْهَا. وكَذَا قَالَ مُجَاهِدٌ أَيْضًا: هُوَ مَوْتُ الْعُلَمَاءِ. تفسیر ابن کثیر ت سلامة (4/ 472)

[2] سنن الترمذي حديث رقم (2682)

ترڅو چې زموږ په زړونو کې د دین عظمت ژوندی وي، د دین له نښو، شعائرو او د علم له حاملینو سره به ادب کوو، ځکه علماء د الله او د هغه د رسول د کلام ترجماني کوي. هغوی خلکو ته د قرآن کریم تفسیر بیانوي، د سنتو حکمت تشریح کوي، د حلال او حرام تر منځ فرق روښانه کوي او د فتنو په تیاره کې د امت لپاره د بصیرت څراغونه بلوي. د هغوی مقام د دې په خاطر نه دی لوړ، چې له خطا څخه پاک دي، بلکې ځکه لوړ دی، چې خپل عمرونه یې د دین د فهم او خدمت لپاره وقف کړي دي.

د اسلامي تاریخ مطالعه دا حقیقت ښکاره کوي چې هر کله په امت کې د علماوو احترام کم شوی، د امت فکري توازن هم ګډوډ شوی دی. هغه ټولنې چې د علم پر ځای احساساتو ته تسلیم شوې، ډېر ژر د افراط، تعصب او بې لارۍ ښکار شوې دي. ځکه عام انسان خو نه شي کولی چې یوازې د ظاهري مطالعې په وسیله د دین ژور فهم ترلاسه کړي. د قرآن عظیم الشان د الفاظو تر شا حکمت، د احادیثو تر شا اصول، د فقهي اختلاف تر شا اسباب او د امت د تعامل تر شا علمي بنیادونه هغه څه دي، چې کلونه کلونه زحمت او ژور بصیرت غواړي. له همدې امله اسلام د اهل علم لوري ته د رجوع کولو حکم کړی دی. الله تعالی فرمایي:

فَسْـَٔلُوٓا أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ (سورة النحل:٤٣)

«نو که تاسې په خپله نه پوهېږئ، د علم له خاوندانو پوښتنه وکړئ»

خو د علماوو احترام باید د شخصیت پرستۍ بڼه هم وانخلي. ځینې خلک داسې حد ته رسېږي، چې د خپلې خوښې د علماوو هره خبره د قطعي حق په توګه اخلي، د هغوی هر اختلاف د ایمان او کفر مسئله ګرځوي او د هغوی په نوم د امت تر منځ نفرتونه خپروي. دا فکر د اسلام له روح سره موافق نه دی. د اسلام سترو ائمه کرامو، محدثین عظامو او فقهاوو په خپل منځ کې اختلاف سره کړی دی، خو اختلاف یې د ادب، تواضع او انصاف په چوکاټ کې و. هغوی د یو بل خطا ته د اجتهاد په سترګه کتل، نه د خیانت او بددینۍ په نظر. همدا د اسلامي تمدن ښکلا وه چې علمي اختلاف یې د ټکر او دښمنۍ پر ځای د امت د فکري پراخوالي سبب ګرځاوه.

له بلې خوا نن سبا ځینې خلک د آزاد فکرۍ او عقل پرستۍ تر نوم لاندې د علماوو سپکاوی کوي، نیتونه یې تر سوال لاندې راولي او د دیني علم ارزښت کموي. په ځانګړي ډول د معاصرې زمانې د رسنیو او ټولنیزو شبکو له پراخېدو وروسته هر څوک ځان د دین قاضي ګڼي. څوک چې یو څه معلومات ولولي، څو محدود کتابونه مطالعه کړي یا څو خبرې واوري، داسې ګمان کوي چې د سلګونو کلونو علمي میراث یې درک کړی دی. له همدې ځایه د استهزاء، تحقیر او بې ادبۍ فضا پیدا کېږي چې د امت فکري وحدت کمزوری کوي. حقیقت دا دی چې دیني علم یوازې معلومات نه دي. معلومات هر څوک راټولولی شي، خو علم د فهم، تقوی، تدبر او بصیرت نوم دی.

په دې زمانه کې نو تر ټولو ډېره اړتیا اعتدال ته ده او اعتدال دا نه دی چې حق او باطل سره ګډ شي او نه هم دا دی چې هره خبره په مصلحت توجیه شي؛ بلکې اعتدال دا دی چې انسان د انصاف له سترګو نظر وکړي، دلیل ته غاړه کېږدي او احساسات د علم تابع کړي. که کوم عالم حق وایي، باید ومنل شي او که خطا ورڅخه کېږي، نو اصلاح دې په ادب او انصاف سره وشي. که له کوم ثقه عالم څخه یوه غلطي وشي، نو هیڅکله باید د هغه قدر د هغې غلطي په وجه کم نه شي، دا غلطي د هغه قدر هیڅکله نه شي کمولای، بلکې احترام او قدر کول یې بیا هم واجب دی، خو په هغه مسئله کې چې غلطي ورڅخه صادره شوې ده، باید پیروي یې هم ونه شي، ځکه حق ددې ډېر حقدار دی، چې پیروي یې وشي او که اړتیا پېښه شي، نو په هغه صورت کې بیا د حق بیانول ضروري دي. که څه هم د علمي نقد او شخصي توهین تر منځ لوی فرق شته، خو نن ورځ ډېر خلک په دې فرق نه پوهېږي او یا یې د حسد او عناد له امله قصدا نه لحاظ نه کوي. د اسلام تعلیم انسان ته دا دی، چې حق د اشخاصو په وسیله مه پېژنه، بلکې اشخاص د حق په تله وتله. نه هر مشهور انسان د حق معیار دی او نه هر مخالف انسان د باطل علامت دی. د انصاف تقاضا دا ده چې د هر چا خبره د قرآن، سنت، د امت اصولو او د سلفو د فهم په رڼا کې وکتل شي. د علماوو تر منځ اختلاف ته هم باید د رحمت او علمي تنوع په سترګه وکتل شي، تر هغه چې د ادب او اخلاص په چوکاټ کې وي. ضرر هغه

وخت پیدا کېږي چې اختلاف د تعصب او د شخصیتونو د جګړې بڼه واخلي.

نن امت له دوو لویو افراطونو سره مخ دی، یو طرف ته غلو او بل طرف ته استخفاف دی. یو لوری علماء له بشري حدودو پورته وړي او بل لوری یې تر عادي خلکو هم ښکته ګڼي. حال دا چې د اسلام لاره د توازن، ادب او انصاف لاره ده. عالم محترم دی، خو معصوم نه دی؛ او که خطا ورڅخه وشي، اصلاح یې په ادب کېږي، په سپکاوي او تحقیر سره نه کېږي.

دا چې په افغانستان کې د الله تعالی تر رفضل وروسته د علماوو، مجاهدینو او عامو مسلمانانو په قربانیو یو اسلامي نظام قائم شوی دی، نو دا خاوره تر ټولو ډېره ددې لائقه ده، چې د ټولې نړۍ د ټولو علماوو قدر په کې وشي، هم په واقعي ژوند کې او هم په ټولنیزو رسنیو کې، برابره خبره ده، که هغه علماء له موږ سره موافق وي، که مخالف، پرته له هغوی چې علماوو یې په ګمراهي باندې تصریح کړې وي، ځکه د امت بقا یوازې په احساساتو نه، بلکې په علم، حکمت او انصاف کې ده. نو که موږ د خپلو علماوو قدر ژوندی وساتی، د ادب روح مو پیاوړی کړ او د اعتدال لاره مو خپله کړه، نو الله تعالی به راته د هدایت لارې پرانیزي او د فتنو په تیارو کې به راته د بصیرت څراغونه روښانه وساتي او که له دې امورو سره بې پروا شو، د علماء کرامو پر وړاندې همداسې تونده ژبه وکاروو، لکه نن سبا چې د شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس رحمه الله په شان کې وکارېده او یا د شیخ الاسلام مفتي محمد تقي عثماني صاحب حفظه الله په اړه اوس هم کارول کېږي، په داسې حال کې چې مفتي تقي عثماني صاحب نه یوازې په عجم کې بلکې په عربي نړۍ کې هم یو د قدر وړ او عالم شخصیت دی، خلک یې احترام کوي، اسلامي، فقهي او علمي خدمتونه یې بې ساري بلل کېږي، د دې ډول لایقو دیني شخصیتونو احترام یو لازمي کار دی او د دوی پر وړاندې د هر لفظ کارول باید چې له ادب او احترام ډک وي، کنه نو هسې نه چې د هغه خلکو په ډله کې حساب شو، چې لاسونه یې د علماوو په وینو سره د، د علماوو غوښې مسمومې دي او څوک چې یې پر وړاندې له سختې ژبې کار اخلي، الله تعالی یې تر مرګ مخکې زړه وژني.

او د حدیث مبارکه مفهوم دی، چې څوک د یو چا په شان کې یوازې د «أق» کلمه ووایي، د «أقتل» یعني «ویې وژنه» کلمه پوره نه کړي، هم د مسلمان په قتل کې له قاتل سره شریک دی، چې په داسې حال کې به نوزموږ نه په دنیا کې څه خیر پاتې شي او نه به هم آخرت ته کومه توښه یوسو. اعاذنا الله من ذالک.

له الله تعالی څخه دعاء کوو، چې موږ ته په ربښتیني معنی د علماء کرامو د ادب کولو توفیق را نصیب کړي، موږ د هغوی خادمان جوړ کړي، له هغوی سره د معتدل چلند توفیق را کړي او د علم، عالم او شریعت له ګستاخي او بې ادبي څخه مو وساتي.

و ما ذالک علی الله بعزیز

****

د مصر پاچا مقوقس ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم لیک

بسم الله الرحمن الرحیم

د الله د رسول محمد له لوري د قبطیانو مشر او پاچا مقوقس ته!

سلام د پر هغوی وي چې لارښوونه مني، له دې وروسته:

زه تاسې ته د اسلام په لور بلنه درکوم، اسلام راوړه روغ به پاتې شې، مسلمان شه الله تعالی به دې اجر دوه ځل درکړي او که شا دې واړوله نو د قبطیانو ګناه هم ستا پر غاړه ده.

ای د کتاب خاوندانو راځئ هغه خبره ومنو چې زموږ او ستاسو دواړو دینونه یې غواړي، هغه دا چې بې له الله تعالی څخه به د بل چا عبادت نه کوو، هېڅ شی به ورسره نه شریکوو، موږ او تاسې به ځینې ځینې نور له بې له الله تعالی څخه په باداری نه نیسو، که مخ یې واړوه نو ورته ووایئ: «شاهدان اوسئ چې مونږ مسلمانان یو!»

(الرحیق المختوم)

په شام کې د جهاد راتلونکی ۲

استاد ابو اسامه عبدالعزیز حلاق

د بت شکن اداري یادونه

په شام کې د جهاد راتلونکی په نوم لیکنه د عالم او مجاهد ابو اسامه عبدالعزیز حلاق سره د النازعات اداري د یوې مصاحبې لیکل شوې بڼه ده، چې پکې یې ځینې واقعیتونو ته اشاره کړې ده، نه یوازې د شام بلکې د نورې نړۍ مسلمانانو ته هم پکې نصیحتونه او پندونه شته دي، په دې لیکنه کې هڅه شوې څو د شام او په ټوله کې د ټول امت اسلامي مشران وهڅوي چې د خپلو مسلمانو ورونو او مجاهدینو سره ریښتیني وه اوسي، د کفارو او نورو سیکولر هېوادونو له غیږې څخه لرې وه اوسي او پکې یې نورو ډېرو ګټورو خبرو ته هم اشاره کړې ده، د بت شکن اداري دا لیکنه په پښتو ژباړلې ده او له خپلو لوستونکو څخه هیله لري چې له افراط او تفریط، جذبي او احساساتو څخه لرې او تېرو تاریخي واقعیتونو ته په کتلو سره دا لیکنه په سړه سینه ولولي، مونږ له هېچا سره هېڅ ډول شخصي دوښمني نلرو، نو چې هر څه وي یوازینۍ هیله به مو دا وي چې د امت خیر پکې نغښتی وي او په واسطه یې وکولای شو د جهاد پاکه لاره همداسې پاکه وساتو او په دې لاره کې د بهېدونکو وینو سره له خیانت څخه خلک راوګرځوو.

د مرکې مدیر:

اوس نو په دې اړه خپل نظر راکړئ چې دلته له نژدې راتلونکو خطرونو څخه د خلاصون او د هغوی د مقابلې لپاره له نوې شامي اداري اوسنی توان څومره دی؟

استاد عبدالعزیز الحلاق:

زما ګرانه وروره! په الله قسم، زما په نظر دا پوښتنه له هغو پوښتنو څخه ده چې ځواب ورکول یې ډېر سخت دي، ځکه دا له هغو مسئلو څخه ده چې ذهن ناارامه کوي او صحنې ډېرې ورسره مختلفې کېږي. ځکه زه وینم چې د نوې شامي اداري مسئولانو، ډېرو هغو مشرانو چې د انقلاب نبښې وې، د جهادي ډلو پخوانیو منتظمینو او د انقلابي شخړو تنظیموونکو، ډېر خندونه لا ژور کړي وو او ډېرې داسې کندې یې ایستلې وې چې له دې یو له بل سره تړلو خطرونو سره د مقابلې توان له منځه وړي. الله دې هغوی وبښي، هغوی د الله له لارې پرته په انقلابي، فکري او عملي لارو د بدلون په راوستلو کې برخه واخیسته، حال دا چې هغوی ټول د آزادۍ، عدالت او له ظلم څخه د خلاصون هیله لرله او اوس یې هم لري. خو ډېرو یې د انقلاب په مهم پړاو کې دا هېر کړل چې د آزادۍ حقیقت، مرکز او د تاج ملغلره دا ده چې موږ ټول د الله بندګان شو.

زموږ ډېرو انقلابي مجاهدینو ورونو دا هېر کړي چې د انقلاب او جهاد تر ټولو لوی مقصد، تر توان پورې په اسلامي شریعت عمل کولو سره د الله رضا حاصلول دي او له همدې امله موږ د انقلاب په کلونو کې ولیدل چې هغوی د دین د قائمولو لپاره ګمراه کوونکې لارې غوره کولې. په الله قسم! تاسې له کله راهیسې له مسلمانانو سره جګړه، د هغوی وینه تویول او د هغوی وژل او پرې برلاسي کېدل د الله د رضا او د هغه د دین د قائمولو شرعي وسیله ګرځولې ده؟

زموږ انقلابي ورونو ولې ځانونه یوازې د بریا او ماتې تر منځ په دوو لارو کې محدود کړل؟

دا د انقلابیانو تر منځ پخوانۍ کورنۍ جګړې وې چې راتلونکې کې به هم پاتې شي، چې په پایله کې یې زرګونه مجاهدین شهیدان شول. همدا کورنۍ جګړې د دې تر ټولو لوی خنډ وګرځېدې چې هغوی پر یوه کلمه راټول شي او د هغوی تر منځ په سمه، ټینګه او دوامداره توګه اصلاح ونه شوه. موږ په تاریخ کې داسې کوم انقلاب نه مومو چې پکې وینه تویول سپک ګڼل شوي وي او له ضرورته زیاته جګړه شوې وي او بیا یې په پایله کې دوامداره سوکالي او ټینګه بریا راغلې وي. په نژدې زمانه کې د نوییمې لسیزې په پیل کې د کابل پر فتح او د شوروي اتحاد پر ماتې خلکو ډېره خوشالي کړې وه، امت ډېر جذباتي شوی و، شاعرانو ورته شعرونه ولیکل، ترانه ویونکو ورته ترانې وویلې، ټولې جهادي ډلې پر یوه کلمه راټولې شوې او د مجاهدینو حکومت جوړ شو او هغو ورونو چې له یو بل سره یې دښمني لرله، د کعبې د دروازې مخې ته کلکې لوړې وکړې چې په نېکۍ او تقوا کې به له یو بل سره مرسته کوي او بیا چې په خپلو کې کومه وینه تویونه وشوه، هغه ټولو ولیدله.

زما ګرانه وروره! هره ناحقه توی شوې وینه یو لعنت لري چې نه کوم انقلابي ته د الله د رحمت په پراخوالي کې ځای ورکوي او نه کوم مجاهد ته. د هغې وبال نه په دنیا کې د هغه لمن پرېږدي او نه په آخرت کې، بلکې چېرته چې وي او چېرته چې لاړ شي، دا لعنت خامخا پرې اغېز کوي. په دې اړه زموږ لپاره د رسول الله ﷺ دا حدیث بس دی:

لن يزال المؤمن فِي فُسْحَةٍ مِنْ دِينِهِ مَا لم يصب دمًا حرامًا.[1]

«مؤمن تر هغه وخته د خپل دین په پراخوالي کې وي تر څو چې ناحقه وینه توی نه کړي.»

نو سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما، د دې حدیث د پایلو په درک کولو سره چې خپله یې روایت کړی و، خپل مشهور قول وفرمایه:

إنَّ من ورطات الأمور التي لا مَخْرَجَ لمن أوقع نفسَه فيها سفكَ الدم الحرام بغير حلِّه.[2]

«له هغو تباه کوونکو کارونو څخه چې څوک پکې ځان وغورځوي بیا ترې د خلاصون لار نه وي، یو هم ناحقه وینه تویول دي، هغه چې الله تعالی حرامه کړې ده.»

ماته داسې ښکاري او اصلي علم خو یوازې الله ته دی، چې د شام نوې اداره د دې خطرونو د مقابلې توان نه لري او نه هم په ډېرو چارو کې بریالۍ کېدای شي. دا نه کومه وړاندوینه ده، نه اټکل او نه د غیبو علم، بلکې دا یوه تاریخي مشاهده ده چې زموږ د اسلامي، انقلابي او جهادي تاریخ د ورته او مشابه پېښو د مطالعې په پایله کې رامنځته شوې ده؛ مګر که الله تعالی هغوی په خپل رحمت ونازوي او د خالصې توبې توفیق ورکړي، څو د خلکو حقوق بېرته ور وګرځوي، نو بیا زه هیله لرم چې الله تعالی به هغوی وبښي او هدایت او توفیق به ورکړي. کنه نو د داسې چا لپاره په افق کې د رڼا څرک لیدل او له دې ترږلو ستونزو او زیانونو څخه د وتلو له پاره الهي توفیق حاصلول ډېر سخت دي، ځکه څوک چې د الله د شریعت مخالفت کوي، الله تعالی یې د هماغه په شان ادب کوي او څوک چې غواړي د الله پر تقدیر غالب شي، مغلوبېږي.

د مرکې مدیر:

نو بیا حل څه دی؟ آیا هغوی سپین بیرغونه ورپوي او د صهیوني ـ صلیبي دښمن پر وړاندې وسلې کښېږدي؟

استاد عبدالعزیز الحلاق:

هېڅکله نه او باور وکړئ چې د سپین بیرغ پورته کولو او د دښمن پر وړاندې د وسلو ایښودلو سره هغوی ژوندي پاتې کېدای نه شي. د هغوی لپاره یوازې یوه آفاقي لار شته او هغه دا چې د شریعت مطابق جهاد کوي او خپلې موخې ته ورسېږي. هغوی له دې پرته بله چاره نه لري چې پر ځان د شویو ظلمونو او د الله له بندګانو سره پر ترسره کړو ظلمونو توبه وباسي او الله ته بېرته رجوع وکړي او بیا له الله سره خپل عهد نوی کړي. بیا به هغوی د جهاد د تجارت د بېرته پیلولو لپاره له الله سره بیعت نوی کوي، چې د همدې له لارې به له دردناک عذابه خلاصون ومومي. د جهاد مسئولیتونه او غوښتنې ورځ تر بلې زیاتېږي، که موږ یې خوښوو که نه. موږ باید دا درک کړو چې الله تعالی هغوی آزمویلي دي او د جهاد د غوښتنو په وسیله به یې نور هم وازمویي، ځکه د شام خاوره د سترو جګړو خاوره ده او پر دې خاوره نازل شوي مصیبتونه او د هغې په تقدیر کې د الله لوی حکمتونه دي. ځینو خلکو ګومان کاوه چې د محلي جهاد او نړیوال جهاد تر منځ هېڅ اړیکه او همغږي نشته، خو کله چې هغوی محلي جهاد ته ترجیح ورکړه او الله تعالی هغوی ته د محلي بشاري حکومت د ړنګولو او ماتولو توفیق ورکړ، نو نن په څرګند ډولویني چې نړیوال دیوال په هره مسئله کې له محلي دیوال سره دومره کلک تړلی دی چې هغوی یې هېڅ تصور هم نه درلود. او دا نوی حقیقت به اوس یا په راتلونکي کې، شامي مجاهدین د خپلې خوښې خلاف تر فشار لاندې، نړیوال جهاد ته اړ کړي، نه د اختیار له مخې. خو نن دوی د نړیوال جهاد او نړیوالې مزدورۍ پر دوه لارې ولاړ دي؛ یا به پر خپلو جهادي اصولو او بنسټونو

[1] صحیح البخاري

[2] صحیح البخاري

ثابت قدمه پاتې کېږي او یا به د نړیوال صهیوني ـ صلیبي کمپاین د اجنټانو په توګه او د نصیري حکومت په څېر د صهیوني وجود د سرحدي ساتونکو په حیث، په مانۍ کې خپل پاتې کېدل تضمینوي. او زه د نوي شامي اداري خپلو ورونو ته په مینه او خواخوږۍ نصیحت کوم چې که هر څو د الله تعالی له تقدیر څخه د تېښتې هڅه وکړي او که هر څو د نړیوالې ټولنې او نړیوال نظام پر وړاندې نرمښت اختیار کړي او د هغوی تابع شي، هغوی به يې تر هغه وخته ونه مني څو چې د هغوی د ملت پیروي ونه کړي. لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي:

وَلَنۡ تَرۡضٰى عَنۡكَ الۡيَهُوۡدُ وَلَا النَّصٰرٰى حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمۡ‌ؕ قُلۡ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الۡهُدٰى‌ؕ وَلَٮِٕنِ اتَّبَعۡتَ اَهۡوَآءَهُمۡ بَعۡدَ الَّذِىۡ جَآءَكَ مِنَ الۡعِلۡمِ‌ۙ مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنۡ وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيۡرٍ○(سورة البقرة:۱۲۰)

«یهود او نصارا به تر هغه وخته درڅخه راضي نه شي څو چې ته د هغوی د دین پیروي ونه کړې. ووایه: بېشکه د الله هدایت هماغه رښتینی هدایت دی او که ته د علم له راتلو وروسته بیا هم د هغوی د خواهشاتو پیروي وکړې، نو د الله له عذابه به نه کوم دوست درسره وي او نه کوم مرستندوی.»

دلته موږ په خپلو سترګو د ستر شام د خاورې په بله برخه (یعني فلسطین او غزه) کې د خپلو ورونو، د «کتائب القسام» جهاد وینو، هغوی دا حقیقت درک کړی چې د دوی د جهاد محلي ماډل ورو ورو هغه دېوال ته نږدې کېږي چې هغه له نړیوال جهاد څخه بېلوي. په حقیقت کې نن هغوی له فلسطین څخه بهر مسلمان ځوانان هڅوي چې د هېواد دننه او بهر صهیونیستان او د هغوی متحدین په نښه کړي او په دې توګه يې نړیوال جهاد ته را پاروي، لکه څنګه چې د مصري سرتېري محمد صلاح، د اردن د ماهر الجازي او د امریکايي مراکشي قاضي عبدالعزیز په عملیاتو کې ولیدل شول. نو لازمه ده چې د شام د جهاد اهل هم له ځان سره محاسبه وکړي او په هره کچه خپله تګلاره بیا و ارزوي.

د مرکې مدیر:

تاسې د نړیوال جهاد او محلي جهاد د دوو لارو په اړه خبرې وکړې، دا دواړه لارې د شام په انقلاب کې د سترو فکري او تحریکي شخړو او اختلافاتو سبب شوې. رښتیا دا دي چې ما نه غوښتل دا بحث زموږ خبرو ته راکش کړم، خو کوم حقیقت چې تاسې بیان کړ، هغه د بحث، څېړنې او فکر لپاره ډېر مهم ځای لري. د حق، علم او انصاف د معیارونو په نظر کې نیولو سره، تاسې څه وینئ؟ آیا د شام خلک اوس د دې توان لري چې له نړۍ سره وجنګېږي او د نړیوال جهاد ډګر ته داخل شي، لکه څنګه چې د القاعده د نظریاتو پلویان يې ویني؟

استاد عبدالعزیز الحلاق:

زما ګرانه وروره! باور وکړه چې د شام دښمنان هماغه کسان دي چې د خپلو ورځنیو پارونو، ګورونو، د شام د خاورې د نیولو، د هغې د شتمنیو د غلا کولو او د هغې د پوځي او ستراتیژیکو وړتیاوو پر ضد د یرغل له لارې پرې فشار راوړي. که داسې نه وي، نو ته راته ویلای شې چې د عزتمندو شامي خلکو د سپکاوي او د دوی د نوې اداري او حکومت د تحقیر د مخنیوي حل لاره څه ده، هغه چې اوس يې د ورځني معمول بڼه خپله کړې ده؟

د مرکې مدیر:

ښايي د شام د اوسني حالت مناسب حل دا وي چې د مشهورو سیاسي لارو له لارې د خبرو اترو او ډیپلوماټیکو مذاکراتو مېز ته ولاړ شي؟

استاد عبدالعزیز الحلاق:

شامي خلک له یوې لسیزې څخه زیاته موده کېږي چې پاڅون کوي او په آستانه او نورو ځایونو کې د خبرو اترو او مذاکراتو پر مېز ناست دي، خو آیا هغوی د دې نړیوال صهیوني ـ صلیبي کمپاین د اجنټ (بشار) پر ضد د خپلو هیلو او د بشري حقونو د غوښتنو په ترلاسه کولو کې حتی یو ګام هم مخکې تللي دي؟

یقینا شامیانو له دغو بې ګټې وسیلو څخه هېڅ هم ترلاسه نه کړل، او که هغوی باور درلودای چې له دغو لارو به څه تر لاسه کړي، نو د نصیري حکومت او د هغه د متحدینو پر ضد به يې وسلې نه پورته کولې. زما په اند موږ پر دې ټکي سره متفق شوي یو او باید دا بحث همدلته پای ته ورسوو، خو داسې ښکاري چې زموږ ترمنځ فکري واټن پراخ دی.

د مرکې مدير:

نه، دا دومره پراخ نه دی. هو، موږ په دې خبره متفق یو چې د پخواني محلي نصيري حکومت په اړه چې د الله شکر دی نسکور کړل شو دا خبره سمه وه، خو زما پوښتنه دا ده چې د شام خلک به، له خپلې کمزورۍ او وېش سره، د نړيوالې ټولنې او نړيوال نظام مقابله څنګه وکړي، هغه چې لا هم د شام د خاورې پر ځينو برخو قبضه لري؟

په داسې حال کې چې موږ اوس وينو چې هغوی او د سيمې او نړۍ نور هېوادونه د نوې شامي رهبرۍ د محلي جهاد د خپلولو او له القاعده څخه د خپلو ريښو د پرېکولو له امله تود هرکلی کوي.

استاد عبدالعزيز الحلاق:

زه له تاسې سره په دغو ټکو کې سخت اختلاف لرم. د سيمې هېوادونو او نړيوالې ټولنې د شام د نوې رهبرۍ هرکلی د القاعده له تنظيم څخه د بېلتون له امله نه دی کړی او نه به يې وکړي، بلکې هغوی ځکه هرکلی کړی چې ګومان کوي نوې شامي رهبري د دين له اصولو او شرعي قواعدو څخه لېرې کېدو او د خپلو ديني، اخلاقي او انقلابي اصولو د پرېښودو پر لاره روانه ده. له همدې امله نن دمشق ته راتلونکي پلاوي يوازې له تشويقونو، ګواښونو او لارښوونو سره راځي. کله ناکله هغوی ګازره وراندې کوي او بيا په بل وخت کې يې په لښته وهي. نوې رهبري اوس له يوې وېروونکې نړيوالې غلا سره مخ ده، تر څو هغوی رام او تيټ کړل شي او دې ته اړ کړل شي چې د نړۍ د نړيوال کلب شرطونه ومني او نړيوالې دايرې ته داخله شي. که هغوی په دې کې بريالي نه شي، نو موږ به د هغوی پر ضد يوه ښکاره جګړه ووينو، هغه چې پر شامي خلکو به خپل غاښونه همېشه ښکاره ساتي. که زه د نوې رهبرۍ ورونو ته کوم نصيحت وکړم، هغه دا دی چې د الله پر کتاب او د هغه د رسول ﷺ پر سنتو ټينګ ولاړ پاتې شي او پر خپلو ايماني اصولو او بنسټونو ثابت قدمه واوسي.

هر هغه ګام چې نوې اداره فکر کوي په هغه سره لوېديځ ته دوکه ورکوي، په حقيقت کې په هغه سره خپل ځان، خپل ولس، خپله امت او خپل نېک سپاهيان غولوي. هغوی بايد پر دې يقين ولري چې انسان په فطري ډول د خپلو وهمونو او خوبونو د ساتلو شوق لري او له واقعي حقايقو څخه تېښته کوي. هېڅ فرق نه کوي چې هغوی د خپلو شرعي او انقلابي اصولو په پرېښودو سره څومره د نړيوال منل کېدو هيله لري، په پای کې به له نړيوالې ټولنې څخه هېڅ خير ترلاسه نه کړي. دلته د افغانستان اسلامي امارت په مشرۍ د دوی ورونه موجود دي، چې د افغانستان له فتحې او د افغان خاورې له بشپړې آزادۍ درې کاله وروسته هم په نړيواله کچه هېڅ هرکلی ترې ونه شو، خو په خپل چاپېريال کې په پراخه توګه هرکلی ترې وشو او عام قبوليت يې ترلاسه کړ. هو! د ايمان د خيمې په هر ځای کې ترې هرکلی وشو. او که د شام نوې رهبري پوه شي، نو همدا يې زرينه او حقيقي سرمايه ده، ځکه مسلمان دولت د کمزورو مسلمانانو او د هغوی د دعاوو په برکت بريا ترلاسه کوي، لکه څنګه چې په صحيح حديث کې بيان شوي دي.

د مرکې مدير:

محترم ابو اسامه! راځئ په واقعيت پسنده ډول خبرې وکړو، تر هغه چې موږ د القاعده د نظرياتو حامل پاتې شو، نړيواله ټولنه به موږ ته د واک او اختيار د نيولو اجازه رانه کړي او ښايي تاسې وينئ چې اوس په شام کې د القاعده له غړو سره څه روان دي. په داسې حال کې چې د دوی مجاهدين پرله پسې په نښه کېږي، حتی د هغوی د «حراس الدين» تنظيم د انحلال له اعلان وروسته هم. په دغو حالاتو کې تاسې څه فکر کوئ؟ آيا د شام خلک کولای شي د القاعده د منهج له لارې د سترو قدرتونو مقابله وکړي؟

استاد عبدالعزيز الحلاق:

ستاسې دا وړانديز ډېر عجيب دی. که موږ د خپلو اشغالګرو دښمنانو انتظار کاوه چې هغوی به موږ ته د واک د نيولو، د اختيار د کارولو او د هېواد د کنټرول اجازه راکړي، نو بيا مو له پيله وسله ولې پورته کړه؟ او په دې مبارک جهادي انقلاب کې مو لسګونه زره شهيدان ولې وړاندې کړل؟ او که رښتيا هم موږ دا انتظار درلود چې صهيوني ـ صليبي اشغالګر به موږ ته اجازه راکړي او د واک د نيولو پروانه به راکړي، نو بيا خو بايد ديارلس کاله مخکې مو خپل دين او اسلام پرېيښی وای!

د دې مسئلې د حقيقت د درک لپاره دې خبرې ته پام وکړئ چې نن د «حراس الدين» په نوم د تنظيم غړي، د هغه د انحلال له اعلان وروسته هم په نښه کېږي، ځکه صهيوني ـ صليبي لوېديځ ته دا درک شته چې هغوی لا هم د خپل دين پر اصولو او د اسلام پر بنسټونو ولاړ دي او له دغو

اصولو څخه له هیڅ یوه نه اوړي. صهیوني ـ صلیبي دښمن به پر دې ځمکه هغه مجاهد پرېنږدي چې پر خپل دین او د هغه پر لویو اصولو ټینګ ولاړ وي، که له هر تنظیم سره تړاو ولري، بلکې هغه ورسره لوبې کوي، ناز ورکوي، تر دې چې رام یې کړي او د خپل فریب په جال کې یې راګیر کړي. که څه هم تاسې فکر کوئ چې له القاعده بېلتون به مجاهدین د صهیوني ـ صلیبي عذاب څخه وژغوري، خو موږ ټولو ولیدل چې صهیوني ـ صلیبي لوېدیځ هغه شوک هم په نښه کړ چې د بېلتون د پرېکړې اجازه یې ورکړې وه، یعني شیخ ابو الخیر شهید رحمه الله. نو راځئ له دغو فریب ورکوونکو مغالطو څخه ځانونه وساتو.

صهیوني ـ صلیبي لوېدیځ اوس د شام مجاهدین په دې ازموینه کې ازمویي چې د اسلامي ترهګرۍ پر ضد مقابله وکړي او موږ هیله لرو چې د شام مجاهدین په دې امتحان کې ناکام شي. زما ګرانه وروره! ته باید په دې پوه شې چې د شام دښمنان به مجاهدینو ته هېڅکله اجازه ورنه کړي چې د شام پر خاوره حقیقي او بشپړ واک ترلاسه کړي او له دې پرته نو یوازې د وینو سمندرونه دي. شوقي هم دا حقیقت په خپل شعر کې داسې بیان کړی دی:

وللحريةِ الحَمْرَاءِ بَابٌ
بِكُلِّ يَدٍ مُضَرَّجَةٍ يُدَقُ

د آزادۍ دروازه په وینو سره
ده، چې په وینو لړلي لاسونه
یې ټکولای شي.

د اسلام دښمنان به اهلِ اسلام ته نه حقیقي واک ورکړي، نه حقیقي آزادي او نه هم واقعي ملي او وطني خپلواکي؛ بلکې هغوی به یوازې هغه وخت، د خپلې خوښې خلاف، د مسلمانانو پر وړاندې سر ټیټ کړي چې شامي مجاهدین وکولای شي هغوی د سیاسي، نظامي او اقتصادي سپېڅلې جګړې په داسې ډنډ کې راګیر کړي چې ستړي یې کړي او خپله اراده پرې تحمیل کړي، لکه څنګه چې زموږ ورونو په افغانستان کې ورسره وکړل. هماغه وخت به دښمن د مجاهدینو تر اغېز لاندې راشي او د مجبورۍ له امله به ورته غاړه کېنږدي، ځکه چې د خپلو سیمه ییزو او نړیوالو ګټو ساتلو ته اړ وي او دا به یې دې ته مجبور کړي چې له مجاهدینو سره د مساوات پر بنسټ تعامل وکړي. دا هغه وخت رامنځته کېږي چې مجاهدین په ډګر کې د دښمن پر وړاندې خپلې وړتیاوې، ځواک، خپل حقوق او د اسلام دفاع ثابته کړي، خپل وقار وساتي او خپلې آزادۍ او خپلواکۍ ته ټینګ پاتې شي او شامي مجاهدین دا ستره وړتیا لري چې دغه مطلوب قوت ترلاسه کړي. هغوی کولای شي له خپلو جغرافیایي او سیاسي ظرفیتونو څخه د خپلو ګټو لپاره استفاده وکړي، پرته له دې چې په خپلو اصولو کې بې کنټروله نرمښت او امتیازات ورکړي؛ او یا دې بیا اعلان وکړي چې د خپل هېواد، نظام او خپل اسلامي هویت پرېښودو ته تیار دي. که نه، نو موږ به یوازې خپل کمزوري زړونه غولوو، زاړه خیالي وهمونه به څټو او خپل ولس او اتلان به د تباهۍ کندې ته ټېل وهو.

زما ګرانه وروره! ستا د خبرو له انداز څخه داسې احساس کوم چې ته د القاعده تنظیم او د اسلامي امارت د نظریې او د نړۍ پر صهیوني ـ صلیبي قبضې د مقابلې د هغوی وړتیاوې کمې ګڼې، حال دا چې ته د فکري او منهجي اړخونو له مخې د اوسني شامي تجربې په لټه کې یې. زه غواړم پر دې لږ تبصره وکړم:

موږ ولې د اوسني شامي تجربې هغې بریا ته ګورو چې دمشق یې تر خپل کنټرول لاندې راوست، حال دا چې موږ د هغې انحراف، فساد، ظلم، جګړې او تدریجي بدلونونه په خپلو سترګو لیدلي دي، او بیا هم خپل ځوانان د افغانستان اسلامي امارت له تجربې څخه لرې ساتو؟

زما مقصد دا نه دی چې د افغانستان تجربې بیا تکرار شي، ځکه دغه تجربې د هر میدان، هرې سیمې او هر هېواد د پېچلو حالاتو د اختلاف له امله عینا نه شي تکرارېدای؛ بلکې زما مقصد دا دی چې له دغو تجربو، د دښمن سره د تعامل، د اسلوبونو او لارو چارو او د سیاست، اداري او حکومتدارۍ په ډګر کې د اهلِ اسلام له منهج څخه استفاده وشي.

هو، د شام اوسنی تجربه کېدای شي یوه بریالۍ انقلابي نمونه وي چې تقلید یې وشي، خو زما یقین دا دی چې د دې تجربې تقلید یوازې هغو خلکو ته مناسب دی چې د واک، شوکې او اقتدار غوښتونکي وي. ښایي که ته د «مایلز کوپلینډ» کتاب « The Game of Nations» ولولې (که څه هم له نیمګړتیاوو خالي نه دی، خو له ګټې یې انکار نه شي کېدای) نو ته به هغه مقصد ته ورسېږې چې زه یې بیانول غواړم.

موږ ولې د خپلو اوسنیو بحرانونو په اړه له واقعیت پالنې څخه تېښته کوو؟ پر واقعیت

ولاړ پاتې کېدل او له وهم، دوکې او تشو هيلو څخه ځان ساتل زموږ د ګډ مصلحت غوښتنه ده. خوبونه، وهمونه او شعارونه موږ ډېر غولولي او زموږ د اوسنيو ستونزو د منطقي حل په اړه مو بېلارې کوي؛ نو ځکه موږ ته پکار ده چې پر نېغه لار ولاړ شو او د شيطان له لارو، بېلابېلو طريقو او د هغه له دننيو او بهرنيو دروازو څخه ځانونه وساتو، لکه څنګه چې په سنن نسائي کې راغلي دي:

خَطَّ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطًّا، فَقَالَ: ((هَذَا سَبِيلُ اللَّهِ)) ، ثُمَّ خَطَّ خُطُوطًا عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ فَقَالَ: ((وَهَذِهِ سُبُلٌ، عَلَى كُلِّ سَبِيلٍ مِنْهَا شَيْطَانٌ يَدْعُو إِلَيْهِ)) ، ثُمَّ تَلَا { وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيْلِهٖ ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ(الأنعام:۱۵۳)

«رسول الله ﷺ يوه کرښه راکش کړه، بيا يې د هغې ښي او چپ لوري ته نورې کرښې راکش کړې، وروسته يې وفرمايل: «دا د الله نېغه لار ده، او دا نورې لارې دي چې پر هرې يوې يې شيطان ناست دی او خلک ورته رابولي.» بيا يې دا آيت تلاوت کړ:

«او دا زما نېغه لار ده، نو همدا تعقيب کړئ، او په نورو لارو مه ځئ، ګنې هغه به مو د الله له لارې جلا کړي.»»

صهيوني ـ صليبي لوېديځ زموږ په زمانه کې د شيطان له مظاهرو څخه يو مظهر دی، او همدا وجه ده چې هغه د ابليس لعين هغه تګلاره تعقيبوي چې زموږ د نيکه حضرت آدم عليه السلام د غولولو لپاره يې کارولې وه. د دې تګلارې درې بنسټونه دي:

وسوسه:

﴿فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطٰنُ﴾

«شيطان د دواړو په زړونو کې وسوسه واچوله.»

قسمونه خوړل او باور ورکول:

﴿وَقَاسَمَهُمَآ اِنِّيْ لَكُمَا لَمِنَ النّٰصِحِيْنَ﴾

«او قسم يې ورته وخوړ چې بېشکه زه ستاسې خيرخواه يم.»

دوکه کول:

﴿فَدَلّٰىهُمَا بِغُرُوْرٍ﴾

«نو په دوکه يې دواړه وغولول.»

فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطٰنُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وٗرِيَ عَنْهُمَا مِنْ سَوْاٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهٰىكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَا مَلَكَيْنِ اَوْ تَكُوْنَا مِنَ الْخٰلِدِيْنَ ۝20 وَقَاسَمَهُمَآ اِنِّيْ لَكُمَا لَمِنَ النّٰصِحِيْنَ ۝21 فَدَلّٰىهُمَا بِغُرُوْرٍ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ وَنَادٰىهُمَا رَبُّهُمَآ اَلَمْ اَنْهَكُمَا عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَاَقُلْ لَّكُمَآ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ۝22

«بيا شيطان دواړو ته وسوسه واچوله څو د هغوی هغه شرمځايونه چې ترې پټ وو، يو بل ته ښکاره کړي، او ورته ويې ويل: ستاسې رب يوازې ځکه له دې ونې منع کړي ياست چې هسې نه فرښتې شئ يا تلپاتې ژوند ومومئ. بيا يې ورته قسمونه وخوړل چې زه رښتيا ستاسې خيرخواه يم. په دې ډول يې دواړه په دوکه راکوز کړل. کله چې دواړو د هغې ونې خوند وڅاکه، نو شرمځايونه يې يو بل ته ښکاره شول او د جنت پاڼې يې پر ځان نښلول پيل کړل. بيا رب ورته غږ وکړ: آيا ما تاسې له دې ونې نه وئ منع کړي؟ او آيا ما نه وو ويلي چې شيطان ستاسې ښکاره دښمن دی؟»

هوښيار انسان هغه دی چې پر نېغه لار روان وي او د رب العالمين د شريعت مطابق حکومت وکړي. موږ له الله تعالی څخه مرسته، استقامت او توفيق غواړو، او الله تعالی ښه پوهېږي.

د مرکې مدير:

محترم استاده! له تا سره په خبرو اترو کې زموږ د لومړۍ برخې وخت پای ته ورسېدی او يوازې پنځه دقيقې وخت له ما سره شته،، نو مناسبه به دا وي، چې ته د شام د جهاد په اړه د خپلو انديښنو څرګندونه وکړه او خبرې

پای ته ورسوه، موږ به له تاسره په دوهم قسط کې د شته پوښتنو او موضوعاتو په اړه خبرې وکړو، ان شاء الله.

د شام په منظر نامه کې ستا منطقي اندېښنې څه دي؟

استاذ عبدالعزيز الحلاق:

حقيقت دا ده چې زه د شام د اوسني قيادت او شامي ولس په اړه له هماغه شي وېرېږم، له کوم شي څخه چې زموږ نبي ﷺ پر خپل امت وېرېده. لکه څنګه چې په بزار، طبراني، شهاب قضاعي او نورو کتابونو کې په حسن سند روايت شوی:

عن عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ الْمُزَنِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قال: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ:«إِنِّي أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي مِنْ ثَلَاثٍ: مِنْ زَلَّةِ عَالِمٍ، وَمِنْ هَوًى مُتَّبَعٍ، وَمِنْ حُكْمٍ جَائِرٍ رواية: «إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي مِن بَعْدِي أَعْمَالًا ثَلَاثَةً..»

حضرت عمرو بن عوف مزني رضي الله عنه وايي: ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل چې فرمايل يې: «زه پر خپل امت له دريو شيانو وېرېږم: د عالم لغزش، د نفس د غوښتنو پيروي او د ظالم حاکم حکومت.»

او په بل روايت کې راغلي: «له ما وروسته چې پر خپل امت تر ټولو ډېر له کومو اعمالو وېرېږم، هغه درې دي...»

او په صحيح مسلم کې راغلي دي:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ، وَإِنَّ اللهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا، فَيَنْظُرُ كَيْفَ تَعْمَلُونَ، فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ، فَإِنَّ أَوَّلَ فِتْنَةِ بَنِي إِسْرَائِيلَ كَانَتْ فِي النِّسَاءِ.

له حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي ﷺ وفرمايل: «بېشکه دنيا ډېره خوږه او شنه ده، او الله تعالی تاسې پکې خپل ځايناستي ګرځوي، څو وګوري چې تاسې څنګه عمل کوئ. نو له دنيا څخه ځان وساتئ او له ښځو څخه هم ځان وساتئ، ځکه د بني اسرائيلو لومړنۍ فتنه د ښځو په (معامله) کې وه.»

او په صحيح مسلم کې راغلي دي:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: « أَخْوَفُ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ مَا يُخْرِجُ اللهُ لَكُمْ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا» قَالُوا: وَمَا زَهْرَةُ الدُّنْيَا؟ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: «بَرَكَاتُ الْأَرْضِ» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، وَهَلْ يَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ؟ قَالَ: لَا يَأْتِي الْخَيْرُ إِلَّا بِالْخَيْرِ، لَا يَأْتِي الْخَيْرُ إِلَّا بِالْخَيْرِ، لَا يَأْتِي الْخَيْرُ إِلَّا بِالْخَيْرِ.»

له حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «پر تاسې چې له کوم شي څخه تر ټولو ډېر وېرېږم هغه د دنيا هغه ښايست او زينت دی چې الله تعالی به يې درته راوباسي.» صحابه کرامو رضي الله عنهم وپوښتل: «ای د الله رسوله ﷺ! د دنيا ښايست او زينت څه شی دی؟» هغه ﷺ وفرمايل: «د ځمکې برکتونه.» هغوی وويل: «ای د الله رسوله ﷺ! آيا خير هم د شر سبب کېدای شي؟» هغه ﷺ وفرمايل: «خير له خير پرته بل څه نه راولي، خير له خير پرته بل څه نه راولي، خير له خير پرته بل څه نه راولي.»

او په صحيح بخاري کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

فَوَاللَّهِ لاَ الفَقْرَ أَخْشَى عَلَيْكُمْ، وَلَكِنْ أَخَشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُبْسَطَ عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا كَمَا بُسِطَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، فَتَنَافَسُوهَا كَمَا تَنَافَسُوهَا وَتُهْلِكَكُمْ كَمَا أَهْلَكَتْهُم

«په الله قسم! زه پر تاسې له فقر او بېوزلۍ نه وېرېږم، بلکې زه پر تاسې له دې

وپرېږم چې دنیا به پر تاسې
هم هغسې پراخه کړل شي
لکه له تاسې څخه پر
مخکېنیو خلکو چې پراخه
کړل شوې وه، بیا به تاسې
هم د هغې لپاره یو له بل
سره سیالي کوئ لکه هغوی
چې کوله، او هغه به تاسې
هم هغسې غافل کړي لکه
هغوی یې چې غافل کړي
وو.»

ستر عالم او لوی شیخ ابو قتاده فلسطیني حفظه الله یوه کوچنۍ رساله لیکلې ده چې نوم یې دی: «ورقة في البعث الحضاري وبيئته» (د تمدني راژوندي کېدو او د هغه د چاپېریال په اړه یوه مقاله).

هغه په دې رساله کې د دې ستر حدیث ډېره ښه شرحه کړې ده. دا یوه ارزښتمنه رساله ده چې د دې دور خلک یې باید په دې بې ثباته پړاو کې ولولي.

زما ګرانه وروره! په دې کې هېڅ شک نشته چې زموږ نبي ﷺ له کوم شي څخه وېره لرله، شام ډېر پخوا او دوه میاشتې وړاندې (یعنې د مرکې پر مهال) د دمشق د آزادۍ پر وخت موږ هغې مرحلې ته رسېدلي وو او نن موږ ډېر فکري، شرعي او جهادي مشران وینو چې خوشحال دي، جشنونه نیسي او هماغه څه (اکثره په طنزیه لهجه کې) وایي او زمزمه کوي چې امیر احمد شوقي د مصطفی کمال اتاترک د ملاتړ او ستاینې پر مهال ویلي وو:

اللہ أكبر كم في الفتح من عَجَبِ
يَا «أَحْمَدَ الشَّرْعِ» جَدِدْ أَحْمَدَ العَرَبِ

حَذَوْتَ حَذْوَ صَلاَحِ الدِّينِ فِي
فيه القِتَالُ بِلاَ شَرْعِ وَلاَ أَدَبِ

الله اکبر! په دې فتح کې څومره
عجایب دي
اې «احمد الشرع» د عربو نوې
احمده!
تا د صلاح الدین د مثال پیروي
کړې ده،
په جګړه کې دې نه د شریعت خیال
وساتی او نه د اخلاقو او ادب

بیا وروسته له دې چې امت دوکه وخوړه، خلکو په مصطفی کمال اتاترک کې د ارتداد، کفر او زندقې نښې ولیدلې. زما ګرانه وروره! زه هیله لرم چې موږ دا خبره ډېره لرې ونه ګڼو، ځکه نن موږ په هغه زمانه کې یو چې زموږ ګران نبي ﷺ یې خبر راکړی و.

له حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

يَكُونُ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ فِتَنٌ كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا وَيُمْسِي مُؤْمِنًا، وَيَبِيعُ أَقْوَامٌ دِينَهُمْ بِعَرَضِ الدُّنْيَا.[3]

«له قیامت څخه مخکې به داسې فتنې راشي لکه د تورې شپې تیارې ټوټې. په هغو کې به سړی سهار مؤمن وي او ماښام به کافر شي او ماښام به مؤمن وي او سهار به کافر شي. ځینې خلک به د دنیا د لږ مال او سامان په بدل کې خپل دین خرڅ کړي.»

د اندلس تاریخ زموږ لپاره دا ښېښه ساتلې ده چې د مجاهدینو ډېرو امیرانو او مشرانو په پیل کې د قسطلیې (هسپانیې) د واکمنانو خوشامد وکړ، بیا یې ښکاره ارتداد اختیار کړ او په ښکاره ډول د الله له دین څخه ووتل. نه یوازې دا، بلکې عیسویت یې ومانه، صلیبونه یې واغوستل او د غرناطې او قرطبې په کلیساوو کې یې بپتسمه واخیسته، حال دا چې تر دې وړاندې هغوی د توحید او جهاد له امامانو او د شهادت له غوښتونکو څخه شمېرل کېدل.

موږ له الله تعالی څخه د هغه د احسان، لطف، کرم او رحمت په وسیله دعا غواړو چې پر اهلِ شام رحم وکړي. موږ له الله تعالی څخه غوښتنه کوو چې پر موږ او په شام کې زموږ پر خلکو خپل لطف او کرم وکړي او د دین په قائمولو او د رب العالمین د شریعت په نافذولو سره زموږ خوبونه پوره کړي، اسلامي هیلې نامراده نه کړي، او موږ او زموږ امت، چې د دې مبارک جهاد مرسته او ملاتړ یې کړی، ناامیده نه کړي.

[3] صحیح البخاري

زه خپلو علماوو او مشایخو ته وصیت کوم چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر فرضِ عین په ښه توګه ترسره کوي، نصیحت، لارښوونه، احتساب او رهنمایي ته دوام ورکړي او دا په یاد ولري چې پر موږ، پر واکمن، پر حکومت او پر ولس، بلکې پر ټولو د علم او علماوو شرعي سرپرستي شته. نو هغوی باید دا دیني او اسماني سرپرستي ژوندۍ وساتي، څو موږ يې سبا د شوقي د ژړا او ماتم په څېر ژړاوې او فریادونه کوونکي ونه وینو.

هغه په ژړا او فریاد سره وايي، حال دا چې قوم هم ورسره ژاړي:

بَكَتِ الصَّلاةُ وَتِلْكَ فِتْنَةٌ عابث
بالشرع عربيد القضـــــاء وقاح

أفتى خُزَعيلَةً وَقَالَ ضَلالَةً
وأتى بكفر في البِلادِ بَواحِ

إِنَّ الغُرور سقى الرئيس براحه
كيف احتيالك في صريع الـراح

نَقَلَ الشرائع والعَقَائِدَ وَالقُرى
هُمْ أَطلقوا يَدَهُ كَقَيْصَرَ فِيهُمُ

والناس نقل كتائِب في الساح
حَتَّى تَناوَلَ كُلَّ غَيرِ مُبـــــاح

غرته طاعات الجموع وَدَولَةٌ
وَجَدَ السَوادُ لَهــا هـــوى المرتاح

فَلَتَسمَعُنَّ بِكُلِّ أَرضٍ دَاعِيــــــــا
يدعو إِلى الكَذّابِ أَو لِسَجاحِ

وَلَتَشهَدُنَّ بِكُلِّ أَرضٍ فِتنَةً
فيها يُباع الدينُ بَيعَ سَماح

يفتى على ذَهَبِ الْمُعِزّ وَسَيفِهِ
وهوى النفوس وحقدها الملحــاح

«لمونځ ژړا ته اړ شوی او دا داسې فتنه ده چې له شریعت سره لوبې کوي، د قضا او عدالت سپکاوی کوي او له بې حیایۍ ډکه ده.

درباري ملا فتوا ورکړه، د ګمراهۍ خبرې يې وکړې او په هېواد کې يې ښکاره کفر خپور کړ.

غرور واکمن مست او مغرور کړ، نو ته ووایه، له هغه چا سره چې د نشې له امله لېونۍ وي، څنګه چل او فریب کولی شې؟

هغه د شریعت، عقایدو او ښارونو اصول بدل کړل، او داسې ازاد شو لکه قیصر چې په دوی کې وي.

خلک يې د لښکرو په شان ساحلونو ته روان کړل، تر دې چې هر ناروا شی روا وبلل شو او استعمالېده.

د خلکو اطاعت او د دولت ځواک هغه دوکه کړ او ساده ولس هم هغه خپل محبوب وګاڼه.

ته به په هره سیمه کې یو بلونکی ووینې چې د کوم دروغجن نبي یا سجاح لوري ته بلنه کوي.

او ته به په هره سیمه کې فتنې ووینې، چې هلته دین په ښکاره توګه پلورل کېږي.

نن سبا فتوا د سرو زرو، تورو، د نفس د غوښتنو او په زړونو کې د پټو کینو پر بنسټ ورکول کېږي.»

د مرکې مدیر:

محترم استاد عبدالعزیز الحلاق! الله دې ستاسې په ژوند کې برکت واچوي او اسلام او مسلمانانو ته دې ستاسې له علم او تجربې څخه ګټه ورسوي. حقیقت دا دی چې له تاسې سره دا مکالمه ډېره ګټوره، خوندوره او له فکري لحاظه ژوره وه او زما هیله دا ده چې د شام د جهاد د راتلونکي په اړه لا نور هم پراخ بحث وشي. خو ان شاء الله د دې لړۍ په راتلونکې برخه کې به بیا ستاسې له حضور څخه استفاده وکړو او تر راتلونکې لیدنې او مکالمې پورې موږ له الله تعالی څخه دعا غواړو چې موږ، تاسې او ټولو مسلمانانو ته هدایت او سمه لار نصیب کړي او زموږ د امت او د شام د مسلمان ولس لپاره د خیر فیصلې وکړي، داسې خیر چې په هغه کې د اطاعت کوونکو عزت وي، د کفر او شرک د لارو سپکاوی وي، نافرمانانو ته هدایت نصیب شي، او ټولې ستاینې یوازې د الله رب العالمین لپاره دي.

****

تصویر: د کابل ښار په څو واټونو کې نصب شوي تجارتي اعلانونه

موږ هم عجبه خلک یو...

مسجد ته له تلو مخکې خپله ډوډۍ له صهیونستانو سره د تړلې پیپسي پر مټ تیروو او د خپل دسترخوان ښایست مو همدا صهیونستي تولیدات دي خو په مسجد کې بیا د صهیونستانو د زوال دعاګانې کوو.



په افریقا کې د جهادي مسیر ګړندی بهیر!

حسیب الله افغان

د یویشتمې پیړۍ په سر کې د سپټمبر د یولسمې عملیاتو د تاریخ بڼه بدله کړه، د حق او باطل صفونه یې سره جلا کړل او نړیوال کفر یې د جګړې عملي میدان ته راکاږل؛ له دې عملیاتو څخه را وروسته صلیبیانو د یو کوچني خو صادق ټولي چې دنیا یې د اخرت په مقابل او خپل ځانونه پخپل رب پلورلي وه پر وړاندې عالمي اشر وکړ؛ اورونه بل شول، جګړې پیل شوې، اسمان د B52 او ډرون له شوره ډک شو؛ او زندانونه له هغو کسانو څخه مالامال شول چې د خپلو خاورو څخه یې د پردیو د یرغل د خاتمې په پار متې رانغاړلې وې او ظالم ته یې نه ویلي وو.

د غرب مخالف په هر فرد پسې غرونه وپلټل شول، غارونه پسې وسوځول شول او د نړۍ تر ټولو پیاوړي پوځونه یې د له منځه وړلو لپاره راووتل؛لسیزې تېرې شوې د اسلام دښمنانو فکر کړی وه چې هر څه مو پای ته ورسول، ریښې مو یې وچې کړلې ، رهبري یې ختمه ده او اغیز یې له منځ تللی؛ خو تاریخ تل د خاموشیو تر شا پټ رازونه لري؛ لکه د صحرا تر شګو لاندې چې اور پټ وي، همداسې ځینې فکرونه د ظاهري خاموشۍ تر شا ژوندي پاتې کېږي او کله چې زمانه مناسبه شي، بیا د طوفان په څېر

را پورته شي؛ ددې کاروان کیسه هم هوبهو همداسې ده؛ له هغوی چې پرون زندانونه ډک وه، د الله تعالی په دې پراخه ځمکه کې یې د یوې ګوټې هومره ځای هم د اوسېدو لپاره نلرلو او یوازې د مرګ مستحقین بلل کېدل؛ نن بیا راپورته شوي دي د خپل رب په نصرت د یو داسې لښکر یونوال دي چې په شرق او غرب کې د اسلام لپاره پورته شوي دي. دا چې په وروستیو کې د افریقا له دښتو څخه د اسلامي او جهادي ډلو د تحرکاتو خبرونه راځي، چې په ځانګړې توګه یې مونږ د نصرة الاسلام والمسلمین ډله یادولای شو هغه چې څه وخت مخکې یې د مالي هېواد کې ستر بریدونه وکړل، نو له ډېرو خلکو سره دا پوښتنه مطرح کیږي چې دا ډله څوک ده؟

۲۰۱۷م کال په غربي افریقا کې چې مرکزیت یې د مالي هېواد وه څلورو سترو جهادي حرکتونو چې انصار الدین، کتائب ماسینا او المرابطون یې لوی حرکتونه وو، اتحاد وکړ او نصرة الاسلام والمسلمین په نوم یې د یوې ځانګې په بڼه د الشیخ أیاد آغ غالي تر قیادت او رهبرۍ لاندې را څرګند شول، نصرت الإسلام والمسلمین له مالي څخه تر بورکینا فاسو، نیجر، توګو، بنین او حتی شمالي نایجریا پورې خپل پراخ نفوذ

غځولای او لاهم د غځېدو په حال کې ده؛ همداراز په لوېدیځ مالي، په ځانګړې ډول د کایس په سیمه کې یې حضور پیاوړی کړی چې د سرو زرو مهمه سیمه ده.

دا وسلواله جهادي ډله له عوامو سره د نرمۍ لارې چارې کاروي، له محلي مشرانو سره تړونونه کوي، د اسلام احکام یې پخپلو نیول شوو ساحو کې پلي کړي، د ښځو حجاب او د نارینه او ښځو جلاوالی یې راوستی، خپل تبلیغاتي پیغامونه په بېلابېلو ژبو خپروي.

نن ورځ د نصرة الإسلام والمسلمین غورځنګ د ساحل تر ټولو با نفوذه او د ملت تر منځ منل شوی حرکت دی چې د خپل برم د اعادې هیلې یې ور پورې تړلې دي، له ۲۰۱۷ کال راهیسې تر ننه شیخ ایاد اغ غالي د نصرة الاسلام والمسلمین (JNIM) جهادي حرکت رهبري په غاړه لري.

څو هفتې مخکې په یوه پوځي بدلون او تندریز برید کې چې د تېرې لسیزې تر ټولو پراخ بلل کېږي، د نصرة الإسلام والمسلمین (JNIM) ابطالو د ازواد د آزادۍ غښتونکو له جبهې (FLA) سره په همغږۍ د مالي هېواد په بېلابېلو سیمو کې بې ساری

هممهاله بریدونه ترسره کړل، چې له امله یې د شمال مهم ښارونو ونیول او د مالي رژیم او د هغوی د روسي متحدینو په صفوفو کې څرګند سقوط رامنځته شو.

دا عملیات چې د اپرېل په ۲۵مه پیل شول له شماله تر منځنۍ او جنوبي برخو وغځېدل، پدې ترڅ کې د پلازمېنې باماکو او شاوخوا سیمو کې پر مهمو پوځي مرکزونو بریدونه وشول، چې پکې موټر بمونه، بې‌پیلوټه الوتکې (ډرونونه) او حتی هغه استشهادي، چریکي او نفوذي مجاهدین هم شامل وو چې د پوځ په جامو کې نفوذ کړی وه، د دغو بریدونو له امله د دفاع وزیر "سادیو کامارا" ووژل شو، د استخباراتو مشر "مودیبو کوني" سخت ټپي شو او راپورونه ښیي چې د پوځي شورا مشر اسیمي ګویتا هم د برید هدف ګرځېدلی وه، په شمال کې مجاهدین وتوانېدل چې د هېواد د منځ او شمال ترمنځ مهم اکمالاتي لارې پرې کړي، او هغه پوځي اډې یې کلابندې کړې چې مالي او روسي ځواکونه پکې مېشت وه، وروسته یې د ځینو اډو د پرېښودو لپاره خبرې پیل کړې، چې دا د جګړې په ډګر کې د ځواک د توازن د بدلون ښکاره نښه ده؛د دې بې مخینې بریدونو تر ټولو مهم هدفونهد مالي د ولسمشر آسیمي ګویتا استوګنځای، د دفاع وزیر سادیو کامارا دفتر، د باماکو په پلازمېنه کې د مودیبو کیتا نړیوال هوایي ډګر او د کاتي ښار پوځي اډې وې؛ له دې سره هممهاله، د اسلام لښکر د موبتي ښار د بشپړې فتح اعلان او همدارنګه یې په سېفاري او ګاو کې د پوځ ډېری مرکزونو د فتح اعلان وکړ، سربېره پر دې چې د "ازواد د آزادۍ جبهې" سره په ګډو عملیاتو کې یې د کیدال ښار هم فتح کړ.

د جماعت نصرت الاسلتم والمسلمین ویاند ابوحذیفة البمباري پخپل ویډیویي پیغام کې ددې معرکو اړوند وایي: د نصرة الاسلام والمسلمین حرکت په ډېر ویاړ او درناوي سره د مجاهدینو د ځواکونو زړورتیا، مېړانه، چټکتیا او ټینګه اراده ستایي، چې د اپرېل په ۲۵مه نېټه یې په ټولو جبهاتو کې په ځواک او دقت بریدونه ترسره کړل، د دوی زړورتیا او د الله په لاره کې قرباني به د مالي هیواد د ازادۍ لپاره په تاریخ کې د یو ښېلګې په توګه پاتې شي موږ خپلو هغو شـهیدانو ته دعا کوو چې ددې سپېڅلې معرکې په ډګرونو کې شـهیدان شول هغه زمریان چې خپلې وینې یې د خپل هدف لپاره ورکړې، له الله تعالی څخه غواړو چې هغوی د جنت په لوړو درجو کې ومني، قبرونه یې روښانه کړي، کورنیو ته یې صبر او اجر ورکړي او زموږ ټپیان وروڼه ژر روغ کړي څو بېرته د جهاد میدانونو ته راستانه شي.

د الله په فضل او رحمت سره دا ټول عملیـات په څرګند او پرېکنده بریالیتوب سره پای ته ورسېدل د بریدونو دقت، د مجـاهدینو ترمنځ بشپړ همغږي، د دښمن سخته ماتې او هغه درانه زیانونه چې د نظام ځواکونو ته اوښتي، یو ځل بیا ښیي چې زموږ ځواکونه په ډګر کې بشپړ برلاسی لري او حاکم نظام ډېر کمزوری او ناسم دی، موږ غواړو ځینې مهم ټکي په څرګند ډول بیان کړو:

د نصرة الاسلام والمسلمین مجاهدینو د «کیدال» ښار د فتح عملیات په بریالیتوب سره ترسره کړل چې دا کار د «ازواد د ازادۍ جبهې له ملګرو سره په نږدې همکارۍ کې ترسره شول.

همدارنګه هغه هممهاله او سخت بریدونه چې په غاو، سیفاري او کاتي ولایتونو کې ترسره شول او همدارنګه د باماکو د هوایي ډګر شاوخوا او په جنوبي سیمو کې پر مهمو ځایونو بریدونه ټول زموږ د مجاهدینو له لوري ترسره شوي دي.

د دې پوځي رژیم د ظالمانه واکمنۍ په وړاندې، چې مالي یې ګډوډۍ او ذلت ته ټېل وهلې، موږ د مالي ولس ټولو مهمو قشرونو ته جدي او عاجل غږ کوو: اوس د حقیقت وخت دی باید مالي د سقوط له کندې وژغورل شي موږ ټولو ربښتینو وطنپالو ته بلنه ورکوو چې سره یو موټی شي: سیاسي ګوندونه، ملي پوځ، دیني مشران، دودیز مشران او د ټولنې ټول قشرونه، څو د الله کلمه لوړه شي او مالي خپلواکي او عزت بېرته ترلاسه کړي.

دا اړینه ده چې د دې پوځي رژیم واکمني د ټولو مشروع لارو له لارې پای ته ورسول شي، خو موږ خبرداری هم ورکوو چې یوازې د طاغوتي نظام نسکورول بسنه نه کوي بلکې باید د داسې ګډوډۍ مخه هم ونیول شي چې هېواد په بشپړ سقوط کې ښکېلوي، موږ د یوه سوله ییز، مسؤل او هر اړخیز انتقال غوښتنه کوو، چې بنسټیز هدف یې د یو نوي مالی جوړول وي او د اسلامي شریعت پلي کول یې له مهمو لومړیتوبونو څخه وي، دا یو دروند، خو ګډ او مقدس

مسؤلیت دی چې مالي یې نور انتظار نشي کولی. ویاند حفظه الله همدارنګه د طاغوتي رژیم د تسلیم شویو پوځیانو هرکلی وکړ او نور یې هم راوبلل تر څو خپل ځانونه له هلاکته وژغوري.

ابو حذیفه الانصاري په پای کې وویل چې زموږ عملیات به په پلازمېنه باماکو او د کاتي په سیمو کې دوام وکړي او ادعا یې وکړه چې دا معرکه د اسلام د تحکیم، د کمزورو او مظلومو خلکو د ملاتړ لپاره را روانه ده.

د مالي پوځ د ناکامۍ لاملونه د محاصرې په ماتولو کې؛ جغرافیایي ستونزې او چریکي جګړه ده؛ د محاصرې سیمې پراخې او نیمه وچې دي، چې ډېر فرعي سړکونه پکې د دولت تر کنټرول لاندې نه دي، نو څارنه او خوندي کول یې ډېر ستونزمن دي، د پوځ حرکتونه ورو او د اټکل وړ دي، خو برعکس، دا سیمې لکه تنګې لارې او ځنګلي سیمې مجاهدینو لپاره مناسب چاپېریال برابروي چې په اسانه د موټرسایکلونو له لارې تګ راتګ وکړي.

د نصرة الاسلام والمسـلمین مجاهدینو د منظم پوځ برعکس د جګړې په جریان کې یوه واحده مرکزي قومانده کوچنیو کوچنیو دلګیو ته منتقل کړې، چې د نیمه خپلواکو کوچنیو ډلو په بڼه کار کوي، دا سیستم دوی ته دا توان ورکوي چې ژر د حالاتو سره عیاره شي او پرته له دې چې ډېرې سرچینې مصرف کړي خپل نفوذ پراخوي، دا د دوی تر ټولو لوی قوت او د مالي دولت تر ټولو لوی ضعف بلل کېږي.

مخالف لوري ته روسي ځواکونه د د ویجاړۍ او وحشت سیاست کاروي له تسالیت څخه د وتلو پر مهال د اوبو مهمې سرچینې ویجاړې کړې، تر څو د بېرته ستنېدونکو اوسېدونکو د ژوند شرایط خراب کړي؛ د بې ګناه وګړو وژنې او د مخورو اشخاصو اختطاف او ترور یې روزمره چارې ګرزیدلي، د جګړې په میدانونو کې له عوامو څخه د ډال استفاده کوي او له ژوند سره یې لوبې کوي، کورونه یې د دفاع مورچلونه ګرزولي.

د دې معرکې ځانګړتیا بیا په دې کې ده چې پدې وروستیو کلونو کې د ازواد د ازادۍ غوښتونکو ځواکونو او د نصرة الإسلام والمسلمین مجاهدینو تر منځ بې‌ساری میداني او هر اړخیزه همغږي او اتحاد رامنځته شوی ده، د ازواد حرکت له مجاهدینو سره د شریعت په تطبیق او ټولو اصولو ته په غاړه ایښودو اتحاد کړی او د یو اسلامي شرعي نظام په تحکیم رضا شوي دي،

ازواد د ازادۍ جبهې عمومي منشي بلال اغ الشریف دا خبره رد کړه چې ګواکې ازوادي خوځښتونه سیکولر دي او ټینګار یې وکړ چې موږ هېڅکله سیکولریزم نه دی منلی، بلکې اسلام یې اساسي مرجع ده،

هغه څرګنده کړه چې د ازواد ټولنه یوه دینداره ټولنه ده او اسلام پکې بشپړ او متوازن دین دی، چې د منځلاریتوب پر بنسټ ولاړ دی، او همدا لاره د ازواد د ازادۍ جبهه (FLA) تر نن ورځې تعقیبوي.

ددې دواړو متحدینو ترمنځ یو تکتیکي ائتلاف جوړ شوی، چې دوی ته یې دا توان ورکړی تر څو هم مهاله بریدونه ترسره کړي؛ هغه بریدونه چې د مالي له لرې شمال څخه را پیل او د پلازمېنې تر شاوخوا سیمو پورې په فاتحانه ډول راورسیدل.

دا فتوحات او سوبې ناڅاپي نه وې، بلکې د یو ستراتیژیک پلان، اعداد او تفکر زیږنده وه چې کلونه یې په بر کې نیولي، چې له ۲۰۲۴ کال راهیسې یې بڼه اخیستل پیل کړي وو؛ د نصرة الاسلام والمسلمین وسلوالو لومړی د حکومتي ځواکونو د اقتصادي ځواک پر کمزورتیا تمرکز وکړ، په ځانګړې توګه د تیلو هغه کاروانونه چې له سینګال او عاج ساحلونو راتلل مرکز ته نه پرېښودل کیدل او خپل هدف یې ګرزول، دې وضعیت د سلګونو د تېلو ټانکرونو د ویجاړېدو، د بیو د لوړېدو او د ګڼو پټرولو پمپونو د تړل کېدو لامل شو، چې په پایله کې یې د دولت لوژستیکي وړتیا فلج او د پراخ برید پر وړاندې یې احتیاطي ځواک کمزوری شو.

همداراز، پر ګاو او تمبکتو ښارونو د بریدونو بهیر لنډمهاله درول شوی، څو سیمه ییزو مشرانو او منځګړو ته فرصت ورکړل شي چې د حکومتي او روسي ځواکونو د سوله ییز وتلو زمینه برابره کړي او د جګړې مخه ونیسي، دا هر څه په داسې حال کې دي چې د روسي ځواکونو هوایي عملیات او بې‌هدفه بمبارۍ ونه توانېدې د جګړې توازن بدل کړي.

تر دې مهاله د مالي مرکز باماکو د اسلامپالو تر شدیدې محاصرې لاندې ده، ستر ستر ښارونه او ایالتونه د دوی لاسونو ته لویدلي، امریکا د خپل سفارت ویستلو فکرونو کې

ډوبه ده، د فرانسې زور اوبه شوی، روسان خپلې قرارګاوې تخلیه کوي او شیبه پر شیبه د اسلام پر خاوره د اسلام توغونه وزرونه رپوري.

بل خوا په شرقي افریقا کې د حرکة الشباب المجاهدین چې په شرقي افریقا کې القاعدې څانګه ده او په مربوطه شاوخوا هېوادونو کې په جهاد بوخت دي له یو کال څخه زیات وخت راهیسې یې په صومال کې خپل نفوذ پراخ کړی.



د الشباب وسلوالو د تېر کال په فبروری کې د رمضان المبارک عملیاتو په نوم پراخ پوځي عملیات پیل کړل او له هغه وخت راهیسې یې پرله پسې پرمختګ کړی دی، دوی د جنوبي او مرکزي صومالیا پراخې سیمې فتح کړې دي؛ اوس مهال الشباب مجاهدین د هېواد شاوخوا ۳۰ سلنه خاوره تر خپل کنټرول لاندې لري.

په مرکزي صومالیا کې د موکوکوري، تاردو او بُک آکابلې ترمنځ د یوه مهم ستراتیژیک مثلث په جوړولو سره، الشباب د څو کلونو وروسته د لومړي ځل لپاره خپل شمالي او جنوبي نفوذ لرونکې مفتوحه سیمې سره ونښلولې، دې کار دوی ته دا توان ورکړی چې د حکومتي ځواکونو اکمالاتي لارې او شریانونه پرې کړي. الشباب د پلازمېنې موګادیشو شاوخوا سیمو ته هم رسېدلي دي، چیرې چې دوی له ښار څخه د ۴۰ تر ۵۰ کیلومتره واټن کې څو کلي او مهمې سیمې نیولې دي، اوس دوی دا وړتیا لري چې مهمې لویې لارې ګډوډې کړي او له چاودېدونکو موادو ډک موټرونه (VBIED) په اسانۍ سره د ښار تر مرکز پورې د عملیاتو لپاره ورسوي. د ۲۰۲۵ کال په وروستیو کې، د الشباب استشهادي تعرویضي مجاهدینو په موګادیشو کې د ملي استخباراتو او امنیت اداري (National Intelligence and Security Agency – NISA) پر دفتر برید وکړ، دې برید وښوده چې مجاهدین د فدرالي حکومت تر ټولو خوندي تاسیسات هم په نښه کولای شي.

په موګادیشو کې حکومتي ځواکونه وروسته له هغه لا کمزوري شول چې د سعودي عربستان تر فشار لاندې د متحده عربي اماراتو پوځي روزونکي له صومالیا څخه ووتل، ریاض د خپلې مالي مرستې څخه د فشار د وسیلې په توګه کار واخیست او له موګادیشو یې وغوښتل چې له ابوظبۍ سره خپلې اړیکې پرې کړي.

د روان کال د جنورۍ په ۱۲مه، د صومال حکومت له متحده عربي اماراتو سره د امنیتي، دفاعي او سمندري همکارۍ ټول تړونونه لغوه کړل، دا پرېکړه پر فدرالي ادارو او ټولو سیمه‌ییزو ادارو نافذه وه او پکې د ګوردن پوځي کمپ او همدارنګه د بربېره، بوصاصو او کسمایو په بندرونو کې د اماراتي فعالیتونو د سمدستي بندولو امر شوی وه.

مجاهدین د افریقا له شرقه تر غربه اوس مهال پراخ حضور لري، سترې سترې ساحې یې په واک او په لسګونو زره روزل شوي افراد ورسره په پوځي برخه کې په کار بوخت دي.

****



حصار او ابتکار؛

د طـــوفـــان زيـــږنـــده

ډاکټر محمد طنين

په معاصره نړۍ کې د قدرت تله د زور پر اوږو ولاړه ده، هغه ملتونه د بقا حق ترلاسه کولای شي چې د هوښیارۍ تر څنګ یې د قوت ژبه هم زده کړې وي، پر دنیا د ځنګل قانون واکمن دی چې بې دفاع خلک پکې د ښکار حیثیت لري، لکه لابراتوار استفاده ترې کیږي او خپلې ازموینې د بې وزلو پر غوښو او هډونو کوي. هغه ولس چې د علم، صنعت، اقتصاد او دفاع قوت سره یو ځای کړي، د زمانې په هره مقطع کې لکه غر ولاړ وي؛ طوفانونه یې نه شي متزلزل کولای او د دښمن سترګې یې د ځواک پر وړاندې ټیټیږي، خو بې اعداده ملت د وچ لرګي په څېر دی چې هره لمبه یې په اسانۍ ایرې کوي؛ دنیا تل د چمتو انسان درناوی کوي، ځکه د بقا حق هماغه څوک ګټي چې د خپل دین، خپل ژوند، خپل عزت او خپلې خاورې د ساتنې توان ولري.

هغه امت چې د زمانې د طوفانونو په منځ کې بې له ځواک، بې له صنعت، او بې له دفاعي چمتووالي ژوند کوي، د تاریخ پر څپو د وچې پاڼې حیثیت لري، هر باد یې هرې خواته وړي او هر زورور یې د ارادې او عزت پر برخلیک لوبې کوي؛ حربي صنعت یوازې د وسلو جوړولو نوم نه دی، بلکې د بقا، خپلواکۍ، او د ملت د عزت د ساتنې هغه ژور سنګر دی چې تر شا یې د ولسونو راتلونکی خوندي کیږي؛

کله چې د یو هېواد په کارخانو کې فولاد ویلې کیږي، له اوسپنو لمبې پورته کیږي، د علم او تخنیک عقلونه پکې راټول وي او د دفاع او تعروض د پیاوړتیا لپاره پکې متې رانغاړل شوې وي، نو په حقیقت کې دلته د غلامۍ زنځیرونه ماتیږي.

د غزې کیسه هم همداسې وه؛ هلته چې یرغلګرو صهیونیستانو په میلیونونه مسلمانان چې لوږه فیصدي یې ښځې، ماشومان او بوډاګان وه د 350km مربع په اوږدوالی یو سرخلاصي زندان کې محاصره کړل. د غزې په نوم دې محاصره زندان ته تلونکی او ترې راتلونکی هر فرد او وسیله د غاصبینو تر ډیجیټل څار لاندې وو. زرګونه د عربو د نفتو څاګانې نه توانېدې چې په غزه کې یو شمع بله کړي، مګر همدې څاګانو د غاصبینو تیاره ښارونه لکه ورځ داسې ځلول، د مسلمانانو میلیونونه جریبه ځمکې او کروندې چې په سوډان او مصر کې دي، نه توانېدې چې د غزې یو وږی ماشوم ته یوه مړۍ ډوډۍ ورکړي؛ خو د سبزیو او میوو کاروانونه، پاکې او تازه، میوې به یې تل‌ابیب ته استول کیدې؛

په یوې کوچنۍ ټوټه ځمکه کې، چې نیل، فرات، دجله، د اردن سیند او د یرموک سیند پرې را تاو شوي دي، د امت غوره اولادونه له لوږې او تندې سره لاس او ګریوان وه/دي؛ د دې نه تسخیریدونکې خاورې څو صادقین رجال را پورته شول او د یرغل د دې زنځیرونو د ماتولو هوډ یې وکړ، په رب متعال یې توکل وکړ، په نصرت یې پوره متیقن او یو ابتکارانه پیل یې وکړ دا د حربي صنعت پیلامه وه.

تر 2013م کال پورې په غزه کې د راکټ د یوې مرمۍ قیمت تر پنځه زره ډالرو پورې ورسیده، د غاصبو صهیونیستانو لخوا د یو پلان په اساس دا مرمۍ هم واخیستل او ضایع کړای شوې، غزه محاصره او تر شدید امنیتي څار لاندې راغله؛ کانکریټي دیوال یې ترې راتاو کړ، مصر د رفح په سرحد ستر دیوال را چاپیر کړ؛ او پاتې ساحه یې د سمندر اوبو د عبور مخه نیولې وه؛ هیڅ د نظامي توکو د را واردولو مجال نه موندل کېده، بلاخره مجاهدین دې پایلې ته ورسېدل چې پخپله لاس په کار شي.

تیرې، مچلغوزې، غولکې او لرګي د فلسطیني مسلمانانو د مبارزې لومړني توکي وه، د القسام مجاهدینو خپل حربي صنعت

له صفر څخه پیل کړ، لومړی یې د چریکي او استشهادي عملیاتو لپاره د چاودیدونکو توکو، ریموټ کنټرول بمونو او فشاري بمونو په جوړولو پیل وکړ؛ لومړیو کې دوی د اوبو له پایپونو څخه استفاده کوله، د وخت په تیریدو سره دا صنعت ورځ په ورځ پیاوړی کیده تر دې چې الیاسین_105 مرمۍ ته ورسیده؛ تر حصار لاندې غزه کې د قسام حربي صنعت د معاصر تاریخ یو له تر ټولو سري او کامیابو ابتکاراتو څخه وه؛ د قسام د انجینرۍ ټیم پام په لومړی ځل غزه او د غزې په سمندر کې د تېرو جګړو د

سترو_سترو ناچاوده توغندیو او بمونو پاتې شونو طرف ته واوښت؛ لومړی یې مکمل تشخیص کړل، بیا یې په منظم ډول خپلو تونلونو او لابراتوارونو ته را انتقال کړل، تر پروسس وروسته یې بارود ترې راوویستل، اوسپنې یې بیا له سره صیقل کړې او داد متعال رب د ښکاره نصرت نښه وه چې په مفته یې خپلې لښکرې له یو داسې نعمته برخمنې کړې؛ چې د تاریخ مسیر یې بدل کړ.

مجاهدین همداسې پر مخ روان وه د لرې ویشتونکو توغندیو له جملې یې په اوایلو کې د ابراهیم المقادمة په نوم M75 توغندي جوړ کړ چې 75 کیلو متره فاصله یې ویشتله. بیا د احمد الجعبري په نوم j80 توغندی جوړ کړای شو چې 80 کیلومتره فاصله ویشتلو وړتیا لري او لومړی ځل یې پر مټ د احمدالجعبري د شهادت د انتقام په تکل تل ابیب پرې وویشت. په 2014م کال کې د الرینتیسي په نوم توغندی چې R_160 کیلو متره فاصله ویشتلی شي جوړ کړ. اتلانو په 2021م کال کې د یحی عیاش په نوم تر ټولو پرمختللی توغندی جوړ کړ چې 250 کیلو متره فاصله ویشتلی شي او د سیف القدس په معرکه کې یې لومړی ځل پر اشغالي سیمو استعمال کړ.

کتائب القسام اتلان د خپل حربي صنعت د پیاوړتیا په برخه کې د زغزوالو وسایطو ضد وسلې د صاروخ الکورنیټ، قذیفة الیاسین او د الوتکو ضد توغندی د SAM_7 په نوم جوړ کړي دي. قذیفة الیاسین_105 د طوفان الأقصی په مبارکو عملیاتو کې د قسام یو له تر ټولو اغیزمنو اسلحو څخه ثابته شوه، د میرکافا نوي نسلونه یې ختم کړل او یرغلګر دېته مجبور شول چې خپل پخواني او له کاره لوېدلي ټانګونه د جګړې لومړیو کرښو ته را وړاندې کړي. د کتائب القسام ابطالو په 2014م کال ددرې ډوله ډرون طیارو د A1B،A1A او A1C په نوم د جوړلو اعلان وکړ.

اتلانو کلونه مخکې د طوفان الأقصی له مبارکو عملیاتو څخه په خانیونس او رفح کې داسې د اعداد مراکز جوړ کړي وه چې د اسرائیلو له میرکافا ټانګونو، کانکریټي دیوالونو، پر اډو د بریدونو، د راکټ ویشتلو، د پاراګلایډر استعمال او د دښمن



ارتباطي وسايلو د له منځه وړلو عملي درس او تدريب خپلو مجاهدينو ته ورکول کېده.

پداسې حال کې چې اسرائيلو پر هيڅ هم نه وه خبر او فکر يې کاوه چې نور حماس جګړې ته ليوالتيا نه لري او خپل عادي ژوند ته راګرځيدلي. کتائب القسام د اکتوبر د 7 په سهار 5000 توغندي په څو دقيقو کې پر اشغالي سيمو ور وه اورول؛ چې دوست او دښمن يې دواړه هک حيران کړ. کله چې صهيونيستي رژيم د ټول غرب په ملتيا د لسګونو زرو لښکرو په واسطه پر غزه يرغل وکړ؛ اسرائيلي جنرالانو فکر کاوه چې په يوه اونۍ کې به د غزې جهادي مقاومت له منځه وړي مګر د (115) ورځو له تېريدو وروسته چې د امت جراره ژبه الملثم ابوعبيدة په ژوندۍ بڼه امت ته وينا کوله د اشغالګرو د (1200) ټانګونه او ځمکني جنګي وسايلو د له منځه وړلو مسؤليت يې په غاړه واخيست، په زرګونو فوځيان يې وژل شوي وښودل، لسګونه زره زخميان، ړانده او په رواني ناروغيو اخته شويو څخه يې تر ننه شفاخانې او صحي مراکز ډک پاتې دي.

غزة کې يرغلګر له يو داسې نه تصور کيدونکي مقاومت سره مخ شول چې نړۍ ورته هک حيرانه ده. شهيد محمد زکي حمد تقبله الله د طوفان الأقصی د عملياتو د يو کال له تېريدو وروسته په بيت حانون کې د مجاهدينو د چمتووالي چې نوموړی يې رهبر هم وه په اړه پخپل کتاب تحت راية الطوفان خندق خباب چې د جګړې په جريان کې يې تر ځمکې لاندې غزة کې ليکلای ده چې د نوموړي له شهادت وروسته نشر شو کې ليکي:

موږ به د الله تعالی په فضل او نصرت، په هغو لارو او پرانيستې سيمو او هغه کورونو کې چې د دښمن د استفادې او تګ احتمال به يې زيات وه، چاوديدونکي توکي نصبول، دې کار اونۍ او حتی مياشتو ته اړتيا لرله، ځکه چې خبره يو يا دوه چاوديدونکو توکو پورې محدوده نه وه، بلکې تر شاوخوا دوه سوه توکو پورې به مخکې له دې چې دښمن دې سيمې او د کمين ساحې ته داخل کړو به مو ځای پر ځای کول، د هر چاودېدونکي توکي لپاره به مو پر لاسونو ځمکه کيندله او ځای پر ځای کاوه به مو، بيا به مو يې د لين مسير جوړاوه چې هغه هم د لښتي په شان کيندنې ته اړتيا لرله، همدوره يې کفايت نه کاوه بلکې د لينونو او ماين له کار کولو به مو هم ځان مطمئن کاوه چې کوم ځای کې خو به لين شکېدلای نه وي، لوڅ نه وي، يا غلط تړل شوی نه وي نو د برق د جريان ازمايښت پکې شرط وه؟!



موږ دا ټول چاوديدونکي توکي، بارود او مرمۍ له کومه ځايه ترلاسه کولې؟

موږ د طوفان الأقصی د مبارکو عملياتو له يو کار تېريدو وروسته د مهماتو له کمبود او خالي کېدو سره مخ شوو، دغه شمېر چاودېدونکي مواد جوړول، د جوړولو ورکشاپونو او ډېر علم او هڅې ته ضرورت لري، چې دا هر څه پدې جنګي حالت او تونلونو کې محال وه، مګر کله چې الله تعالی په خپلو بندګانو باندې پرانيستل کوي نو هغه يې حيرانوي.

يو ګروپ زموږ د خپلو مجاهدينو ملګرو څخه مأمور کړل شول او دا مسؤليت ورکړل شو چې د دښمن پاتې شوني راغونډ کړي لکه پر عامو غزه والو او موږ يې چې کوم بمونه راغورځولي وه د دې پاتې شوني او هغه نه چاوديدلې مرمۍ د هغو په راټولولو يې پيل وکړ، ځينو يې بيخي ډېر درووند وزن درلود، ملګرو به د دښمن دا پاتې شونې راټولولې دا مو يو ځای کې را غونډ کړل چې له دښمنه يې ډېره کمه فاصله درلودله، دا ځای د يوې فابريکې په څېر برابر شو چې د نه چاودېدلو توکو څخه د چاودېدونکو موادو تيارول او د توکو د قالبونو جوړول پکې کېدل، موږ همدارنګه د بمبار شويو کورونو څخه د اوسپنې اوږدې اوږې ميلې راټولولې او د لاسي قينچی په وسيله به مو دا ميلې پرې کړلې دا به مو له يو سانتي متر څخه په کم اوږدوالي قطع کولې تر څو د شږو په توګه په نويو جوړ شويو

چاودېدونکو توکو کې يې وکاروو او دا به مو د چاودېدونکو موادو سره ګډول.

ټول دا کارونه د ماشينونو په واسطه نه بلکې پخپلو لاسونو مو کول يعنې د لاسي هڅو محصول وه!

ته کولای شې د دې سخت کار تصور وکړې او د دې ټولو مرحلو وروسته به مو توکي تياريدل، نصبول به مو او هغه زموږ کمبود به يې پوره کاوه!

د دې لاسي او سيارې فابريکې چارې داسې وې چې هر مجاهد به سهار وختي خپلې دندې ته تيارېده: لومړي مجاهد به يو د اوسپنې لوی سطل پرېکاوه، دوهم به دغه سطل د پرېکولو له ځايه د جوړونې تر ځايه انتقالاوه، دریيم مجاهد به د چاودېدونکو موادو د پخولو او تعقيب مسوول وه، څلورم به د قالبونو برابرولو ته کتل، پنځم به د برق چمتو کولو مسؤل وه او همداسې د هر ملګري مجاهد وظيفه معلومه وه او هر ترکيب به چې جوړ شو موږ به يوه نمونه ترې اخيسته او نږدې په سرحدي سيمه کې به مو يې ازموينه کوله، د نقص او ښه توب معلومولو لپاره، بيا به يا منل کېده او يا به رديده او بل فورمول به مو په کار اچولو!

آيا څوک باور کولی شي چې د دښمن ټولو کامرو او ټکنالوژۍ سره_سره هم د دې کار څخه بې خبره وه؟!

هو، د الله تعالی حفاظت او پالنه تر هر څه لوړه او غوره ده!

د جګړې اوږدوالي پر مجاهدينو يوه صدمه وارده کړه چې هغه د هر مجاهد د چاودېدونکو توکو د زده کړې سره نا اشنايي وه؛ اکثريت زموږ ملګري مخکې له جګړې له چاودېدونکو توکو سره نه وه بلد، دا يو ځانګړی تخصص دی چې ځانګړي اشخاص ورته روزل شوي وه، خو حالاتو موږ مجبور کړو چې خپل ټول او اکثريت ملګري دې برخې ته داخل کړو؛ او د طوفان الأقصی د عملياتو يو کال بعد چې اوج مرحله کې وه مو د چاودېدونکو توکو انجينرۍ ډلې منځ ته راوړې؛ او ټول مجاهدين مو په همدې حالت کې وروزل.

صهيو_صليبي نړۍ نن د عربي نړۍ د ميليونونو مجهزو پوځونو څخه د مچ د وزر هومره هم د ويرې احساس نکوي، مګر د حماس له اسلحو په ويره کې دي؛ خوبونه يې ورته تبنتولي ،د مقاومت خالي سلاح کول د ټرمپ د صفقة القرن معاهدې په اولوياتو کې شامل دي؛ د نتنياهو د خبرو سرټکی وي، د اسرائيل الکبرای د جوړېدو پلان لپاره يې تر ټولو ستر خنډ بولي، دوی پدې طريقه غواړي چې مسلمانان لومړی بې اسلحې او بيا يې لکه پسونه ذبح کړي چې دا بريالی تجربه يې په بوسنيا کې پر مسلمانانو ازمويلې ده.

هغه ملتونه چې غواړي د نړۍ پر سياسي افق يې د ځواکمنو ملتونو تر څنګ بيرغونه د قوت په باد ورپېږي، دا مقام د تصادف له لارې نشي تر لاسه کولای؛ بلکې د دې عظمت تر شا به د لسيزو سترې شپې، د پوهنتونونو خاموش لابراتوارونو، د فولادو لمبو او د هغو ذهنونو نه سترې کېدونکې مبارزې ته اوړه ورکوي چې د سبا واکمنې د علم او صنعت په ژبه تعبيروي؛

پر دې به ځان پوهوي چې د نړۍ د بقا قانون د رحم پر بنسټ نه، بلکې د قوت پر تله چلېږي؛ نو ځکه به د خپلو ملتونو تر ټولو تيز او ځيرک عقلونه د حربي صنعت سنګرونو ته رابولي، چې همدلته د فکر له عمقه توغندي وزېږوي، د محاسباتو له کرښو جنګي الوتکې پورته کړي او د تخنيک له جالونو داسې دفاعي کلاوې جوړې کړي چې د نړۍ د سياست مسير بدل کړي.

هغه وخت موږ بيرته خپل برم ته د ستندو وړتيا په ځانونو کې پيدا کولای شو؛ چې د حربي صنعت په ژبه خبرې وکولای شو او د قدرت په لاسليک پرېکړې وکړو؛ د سمندرونو له تلونو نيولې د فضا تر تيارو پورې خپل نفوذ وغځوو، نړۍ د هغو خلکو ده چې د سبا د طوفان غږ له لرې اوري او د راتلونکې جګړې لپاره نن خپل سنګرونه جوړوي؛ ځکه تاريخ تل د چمتو ملتونو په لاس ليکل شوی، نه د غافلو قومونو په اوښکو.

اسلحې جوړې کړئ، ذخيره يې کړئ، د استفادې مهارتونه يې زده کړئ، راتلونکی زموږ او د اسلامي امت دی، نو چمتو شئ!

مأخذونه:

١- د أقصی قضيه او د حماس مبارزه.

٢- تحت راية الطوفان خندق خباب.

٣- الناطق العسکري شهيد ابوعبيدة حذيفة الکحلوت تقبله الله

۴- ما خفي اعظم، الجزيره

****

د شهید

ملا اختر محمد منصور

امیر المؤمنین

د اسلامي امارت فرهنګي کمیسون

د افغانستان اسلامي امارت چې په معاصر دور کې په نړیواله کچه د کفر او استبداد پرخلاف د جهاد او مبارزې یو مستحکم سنګر بلل کیږي تأسیسي قائدین یې لله الحمد په موهوبوي شکل د رهبرۍ او مشرتابه له فوق العاده صلاحیتونو او مهارتونو څخه برخمن وي.

خپله د افغانستان د اسلامي امارت مؤسس مرحوم ملامحمد عمر (مجاهد) رحمه الله د قیادي صلاحیتونو یوه ژوندي مجموعه وه. نوموړي وکړای شول د نړیوال کفر سره د مقابلې په ډګر کې د مسلمانانو د قیادت او رهبرۍ صلاحیتونه په عملي ډول ځینو هغو مجاهدینوته تلقین کړي چې له ده سره په دې لاره کې د الله تعالی د نظام د حاکمیت لپاره ملګري ول.

د نوموړي په قیادت کې عمري جهادي مدرسې ډیر داسې اشخاص تربیه اوروزلي چې هر یو یې دمسلمانانو د قیادت او د عصر په تر ټولو حساسو شرائطو کې د جهادي قیادت پوره ورتیا او صلاحیت لري.

په فکري او جهادي نهضتونو کې هسې هم تر شخصیاتو زیات محوري رول د مذهبي اساساتو وي، هلته هرڅه د جهادي اوفکري انګیزې له مخې تنظیم وي. قرآني ارشادات او د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم او خلفاء راشدینو کارنامې د نهضت د لارویانو اساسي تګلاره وي .

د دغو بابصیرته شخصیتونو او د عُمري مدرسې د متانت لرونکو شاګردانو له جملې څخه یو هم د اسلامي امارت دوهم ټاکل شوی زعیم شهید أمیرالمؤمنین ملا اختر محمد (منصور) تقبله الله و چې په عملي ډول یې د اسلامي امارت د قیادت چارې د عالیقدر امیر المؤمنین په حیات کې پیل کړې او د هغه د وفات تر اعلان وروسته د اسلامي امارت د اهل الحل والعقد معتبرو اشخاصو، علماء کرامو ، جهادي مخورو او نورو ملي شخصیتونو لخوا د اسلامي امارت د نوي زعیم په حیث وټاکل شو او بیا یې د شهادت تر شیبې په پوره ایمانداري، متانت او میړانه ددغه ستر کاروان د رهبرۍ درنه وظیفه ترسره کړه.

په لاندې کرښو کې د نوموړي ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه کوو هیله ده چې راسره ویې لولئ.

زوکړه یې

شهید ملا اختر محمد منصورد الحاج محمدجان زوی، په ۱۳۴۷هش ـ ۱۹۶۸ م کال د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ په بند تیمور کلي کې زیږیدلی دی.

داچې د نوموړي کورنۍ د خپلې سیمې په کچه یوه متدینه اوعلم دوسته کورنۍ وه او جناب والد صاحب یې یو علم خوښوونکی شخصیت و، نو د جناب منصور صاحب د سالمې روزنې لپاره یې هغه ته لومړنی انتخاب د دیني زده کړو ترلاسه کول و.

زده کړې یې :

شهید منصور صاحب په اوه کلنۍ کې د خپل والد صاحب په لارښونه د خپلې سیمې ابتدایي مکتب او دخپل کلي مسجدکې ددیني زدکړوشعبې ته شامل کړای شو، داچې پر نوموړي باندې له ماشومتوب څخه د پوهې، ذکاوت او بصیرت علامې ښکاره وې نو د خپل پلار ترڅنګ د استادانو لخوا هم تر خاصې روزنې او پالنې لاندې ونیول شو.

څرنګه چې د نوموړي کورنۍ د هجرت په مهال د بلوچستان اروند په ګردي ځنګل کمپ کې اوسیده نو دیني زده کړې یې څه موده همدلته او بیا د پنج پای په سیمه کې ترسره کړې. له هغه وروسته کوټې ښار ته لاړ څه وخت په کوټه او وروسته یې د

عبدالله خان کراس په سیمه کې په یوه مدرسه کې دیني کتابونه ولوستل. وروسته نوموړی د دیني علومو په تلاش پیښبور ته لاړ او هلته یې په کچه ګړۍ او نورو سیمو کې دینی درسونه وویل او وړه دوره یې د پیښبور د جلوزو په کمپ کې ولوسته.

هغه مهال چې نوموړی په دیني زده کړو بوخت و د افغانستان سیاسي واک د کمونستانو لاس ته ولوید او افغان مجاهد ولس د هغوی پرخلاف اسلامي پاڅون وکړ.

جهاد او سیاسي مبارزه یې :

په کال ۱۹۷۸م کې په افغانستان باندې د شوروي اشغالګرو تر تیري وروسته افغان مجاهد ولس د هغوی پرخلاف اسلامي مقاومت پیل کړ .جناب منصور صاحب چې هغه مهال اتلس کلن و د یوه تکړه او باشهامته ځوان په توګه دیوه غیرتي مجاهد په حیث یې په شعوري ډول له خپل دین او هیواد څخه د دفاع په غرض د یرغلګرو شورویانو او داخلي کمونستانو په خلاف د وسله وال جهاد لاره ونیوله.نوموړی به د کال په اوږدو کې کله په دیني درسونو بوخت و او چې سبقونه به خلاص شول نو به یې د جهادي جبهو پر خوا مخه کړه.

نوموړی په کال ۱۹۸۵ م کې د جهادي فعالیت لپاره د کندهار ولایت د مشهور جهادي قومندان شهید قاري عزیزالله جبهه دخپل جهادي سنګر په حیث غوره او د پنجوایي ولسوالۍ په پاشمول سیمه کې یې د افغانستان په کچه د مشهور جهادي شخصیت الحاج ملامحمد حسن اخندخوک چې داسلامي امارت په واکمنۍ کې درياست الوزرا مرستیال و تر سرپرستي لاندې د شوروي اشغالګرو او داخلي کمونستانو پر خلاف جهادي فعالیت ته دوام ورکړ،د شهیدقاري عزیزالله جبهه دجهادي شخصیت مرحوم مولوي محمدنبي محمدي د حرکت انقلاب اسلامي په تنظیم پوري ملحق وه چې دقاري صاحب تر شهادت وروسته یې دقومندان ملا حاجي محمد اخند په مشرۍ د جهادي شخصیت مولوي محمد یونس خالص په اسلامي حزب کې رسمیت ترلاسه کړ .

محترم منصور صاحب په کندهار کې د شوروي اشغالګرو او د هغوی د داخلي ملاترو پر خلاف په ډیرو پوځي عملیاتو کې فعاله برخه لرلې اویو ځلې په کال ۱۹۸۷ م کې دکندهارولایت د ژړۍ ولسوالۍ دسنځرۍ په سیمه کې دروسانو په یوه ستراتیژیک مرکز باندي دمخامخ عملیاتو په ترڅ کې په داسې ډول زخمي شو چې بدن یې دیارلس ځایه خوږ و خو الله تعالی ورته شفاورکړه ،دوهم ځل بیا د۱۹۹۷ م کال دمی په میاشت کي داسلامي امارت په واکمنۍ کې د مزار شریف په هوايي ډګر کې زخمي شو او په هغه زخمي حالت کې د مخالفینو لخوا اسیر هم شو.

د طالبانو په اسلامي تحریک کې یې تأسیسي رول

په کال ۱۹۹۲ م په افغانستان کې د کمونستي نظام تر سقوط او د اخلي جګړو پیلیدو وروسته جناب منصور صاحب د خپلې جبهې د نورو مخلصو مجاهدینو په څير وسله پر ځمکه کیښودله او د واک پرسر دپیل کړل شوي ناروا جګړې په تداوم کې یې د هیڅا پلوي و نه کړه.

منصور صاحب چې دا مهال یو نوم وتی مجاهد او د مجاهدینو په منځ کې له ښه شهرت نه برخمن و د یادې سیمې د نورو جهادي شخصیتونو او نظامي قومندانانو لکه مرحوم ملامحمد رباني ، شهید ملامحمد آخند،او شهید ملا بورجان په څير د خپل عادي ژوند په غوره کولو سره له هرډول تنظیمي فعالیتونو څخه لاس په سر او په ځینو علمي او تربیوي فعالیتونو مصروف شو.

په کال ۱۴۱۵ هجري قمري کال کې چې د امیر المؤمنین ملامحمد عمر مجاهد لخوا د طالبانو اسلامي تحریک تأسیس شو، شهید منصور صاحب دغه مهال په پیښبور کې د جلوزو کمپ د هجرت کلي په امینیه مدرسه کې له شیخ الحدیث مولوي شهاب الدین دلاور صاحب او مشهور مدرس مرحوم سید قریش بابا سره سبقونه ویل او ورسره د جنوب غرب حوزې نور هم ډیر طالبان ملګري همدرسه وو. کله چې دوی له راډیوګانو د طالبانو د تحریک د تأسیس خبره واوریده نو تر خپل منځ یې مشوره وکړه چې ددې نوي تحریک د حقیقت معلومولو لپاره باید څو کسان کندهار ته ولیږي. دوی خپله دوه ملګري ملا محمد قاسم اخند او ملا عبدالسلام محبور کندهار ته راولیږل. هغوی د اسلامي تحریک له مشر او چارواکو سره ولیدل او له پوره اطمینان او قناعت وروسته یې خپلو د مدرسې ملګرو ته حال راوړ چې دا واقعا د طالبانو او مجاهدینو تحریک دی.له دې سره ملا اختر محمد منصور او نور ملګري

يې را روان شول، په کومه شپه چې دوی بولدک ته راورسېدل طالبانو دتخته پول سيمه نيولې وه او د کندهار پر خوا روان ول.

په بولدک ملا اختر محمد منصور او ورسره ملګرو طالبانو خپل منځي غونډه وکړه تر څو خپل مشر وټاکي په دې طالبانو کې ډېر داسې کسان و چې وروسته په اسلامي امارت کې يې ستر ستر خدمتونه وکړل لکه د نظامي کميسيون اوسنی مشر صدر محمد ابراهيم،د هلمند ولايت برحال والي ملا عبدالمنان اخند،د کندهار د هوايي ډګر پخوانی مسؤل ملا محمد قاسم اخند،د شينډنډ د ميدان پخوانی مسؤل ملاعبدالسلام محبور، د هلمند پخوانی والي ملا محمد نعيم اخند، د زابل پخوانی والي مولوي مطيع الله صاحب ، شهيد مولوي احمد جان او نور ډېر مجاهدين او مسؤلين. له سلا مشورو وروسته دوی د خپلو ملګرو له منځه ملا اختر محمد منصور صاحب د خپل مشر په حيث انتخاب کړ او بيا دوی ټولو د هغه تر مشرۍ لاندې په اسلامي تحريک کې شموليت وکړ او خدمت يې پيل کړ. نوموړي د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال لاندې وظائف او مسؤليتونه ترسره کړل.

۱ـ دکندهار ښار له نيولو وروسته نوموړی د کندهار د هوايي ډګر د مسؤل په حيث وټاکل شو.

۲ـ د طالبانو په لاس د کندهار ولايت تر نيول کيدو وروسته په کندهار کې د هوايي ځواکونو او هوايي مدافعې مسؤليت ورته وسپارل شو.

۳ـ په کال ۱۹۹۶م کې د پلازمينې کابل ترنيولو وروسته د هوايي چلندواوسياحت وزير وټاکل شو .

۴ـ له وزارت سره هم مهاله دمرحوم اميرالمومنين د ځانګړي هدايت او حکم پر اساس د دفاع وزارت مربوط د هوايي مدافعې عمومي قومنداني مسؤليت هم ورته وسپارل شو.

د افغانستان د هوايي چلند او توريزم وزارت په ساحه کې يې يو زيات شمير عمراني او رغنيز فعاليتونه تر سره کړي چې په مختصر ډول يې د ځينو تذکر کوو:

هغه مهال چې کابل ښار د اسلامي امارت تر ولکې لاندې راغی په دې ښارکې د هوانوردي وزارت تأسيسات او مربوط ملکيتونه د داخلي جګړو له کبله سخت متضرر شوي ول.دا هغه مهال و چې اسلامي امارت له سختو اقتصادي ستونزو او نړيوالو محدوديتونو سره مخ و خو منصور صاحب په هماغو نامناسبو اقتصادي شرائطو کې لومړی د کابل بين المللي هوايي ډګر او د هغه اړوند تأسيسات ټول له سره ورغول او بيايې د آريانا افغان نړيواله هوايي کرښه د کورنيو او بهرنيو الوتنو لپاره په نړيوال سټنډرډ برابره مجهز ه کړه.

د هغه په تعقيب د کندهار، هرات ، ننګرهار، مزار شريف او کندز ولايت هوايي ډګرونه د هرډول ملکي او پوځي الوتنو لپاره اماده او په پرمختلليو وسائلو مجهز کړل دغه راز يې دافغانستان په دننه کې د شپې او ورځې لپاره د داخلي الوتنو سهولت برابر او له کلونو ځنډ وروسته يې په لومړي ځل په زرګونو افغاني حاجيانوته د اريانا افغان هوايي کرښې له لارې حج ته د تللو زمينه مساعده کړه.

محترم ملا اختر محمد منصور چې د اسلامي امارت د ټولې واکمنۍ پرمهال د هوايي چلند وزير و د خپل وزارت پرمهال يې دافغانستان د ملکي هوايي چلند وزارت داحياء او پرمخ بيولو په لاره کې ډيرې هلې ځلې وکړې چې غواړو د مشت نمونه خروار په توګه يې دلته مختصر يادښت وکړو.

جناب منصورصاحب دملکي هوايي چلندد ښې رهنمايي اودنړۍ دنورو هيوادونود ترانزيټ پروازونوچې دافغانستان له فضانه به تيريدل په خاطر د (ويست دستګاه) دافغانستان په بين المللي مشهوروهوايي ډګرونو لکه کابل، کندهار، ننګرهار، مزاراوهرات کې ځا ی پر ځای کړه چې اوس يې هم ليدونکي شاهدان دي، اوهغه مهال يې په ميليونونو امريکايې ډالر دبهرنيو الوتکوله تيريدو نه دټکس په ډول دافغانستان بوديجې ته را تلل چې تر اوسه دوام لري. د هغه مهال د افغانستان د هوانوردۍ وزارت اوهوايې مدافعې د يوه راپور له مخې د منصور صاحب د وزارت پرمهال خوا و شا ۴۴ بيلابيلې ترانسپورتي الوتکې او جنګي چورلکې چې د جګړو پرمهال زيانمنې شوې او له الوتنې لويدلې وې له سره ترميم او په ملکي هوايي چلند او هوايي ځواک کې د استفادې وروګرځولې چې لنډ تفصيل يې په لاندې ډول دی .

ــــ هغه ۴۴ مختلف النوع الوتکې چې د منصور صاحب د وزارت پرمهال له سره ترمیم او رغول شوي عبارت دي:ترانسپورټي الوتکې:

دری این ۱۲ – څلور این۳۲ – دوه این ۲٦

جنګي الوتکې

اته جیت میګ۲۱ – دری جیت سوM420 – پنځه جیت سو۲۲

هلیکوپټر:

شپږ می ۸ – اته می۳۵ – پنځه ایل ۳۹

له دي علاوه د ملکي ترانسپورټ اړوند یوه روسي ساخته ۴۱ ډوله او یوه این۲۴ او د اریانا افغان هوایي شرکت امریکایي بوینګ الوتکې هم په خپل وخت کی په بهرنیو هیوادونوکي ترمیم اود استفادې وړ وګرځیدې. دغه راز یې ۵روسي ساخته ترانسپورټي الوتکي په ازادبازارکې خریداري او د افغانستان هوایي خدماتو ته وسپارلې .

په دې یوشمیرترمیم شویو اوخریداري شویوالوتکو سربیره هغه مهال افغانستان نورې هم په لسګونو روغې جنګي، ترانسپورټي الوتکې او چورلکې درلودې چې د یوه بشپړ هوایي ځواک رول یې درلود او د فعالیت بڼه بیلګه یې په کندز او ځینو نورو لرې پرتو سیمو کې دمجاهدینو دمحاصره ځواکونواو مختلفو لرې پرتومقدموجبهو او جنګي خطونوته دوام داره اکمال او هوایي مرسته بللای شواوهم دهیواد لویو ښارونو او له هیواده بهرته په منظم ډول دمسافر وړونکو الوتکو الوتنې جاري وې. خو دامریکایانو په یرغل او دهوایي ډګرونو په بمباریو سره دغه ملي شتمنې په یومخیز ډول تباه او له منځه ولاړه

محترم ملا اخترمحمد منصور د اسلامي امارت د واکمنې په مهال د جنرال مالک د غدارۍ له کبله په شمال کې څه باندي شپږ میاشتې بندي شو خو وروسته د الله تعالی په فضل هغه وخت بیرته ژوندی راخلاص شوچې جنرال مالک د جنرال دوستم په بیرته را څرګندیدوسره له فاریابه وتښتیده اوله بندیخانو څخه یې بندیانو ته د وتلو زمینه مساعده شوه .

د امریکایانو د یرغل په خلاف وسله وال مقاومت

په ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر په اوومه نیټه په افغانستان باندې د امریکا تر یرغل وروسته محترم منصور صاحب د هغوی په خلاف مسلح جهاد پیل کړ.

د امریکا په ضد د نوموړي د جهاد یو د یاد وړ مرحله د کندهار د هوایي ډګر په شاوخوا کې د امریکایي بمبار په مقابل کې مقاومت او د امریکا له ګوډاګیانو سره مخامخ جنګونه دي چې اوږده موده یې دوام وکړ.د یادونې وړ ده چې امریکایانو خپل لومړنی یرغل او بمبار هم د کندهار له هوایي ډګر څخه پیل کړ. په لومړي ځل یې د هوایي ډګر په ساحه کې د پیچور په نوم د مدافع هوایي دستګاه وویشتله وروسته یې د مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمرمجاهد کور دغه راز د هوایي ډګر رادار، څغاست لیکه او د هوایي ډګر په ساحه کې د شهید منصور صاحب کور او په خاص ډول دده د اوسیدلو اطاق یې په نښه کړ. خو دا چې هلته څوک موجود نه ول چاته تلفات ونه رسیدل.

وروسته چې د پلازمینې کابل په شمول له ډیر ولایاتو څخه مجاهدینو عقب نشیني وکړه د کندهار په ولایت کې تر یوې میاشتې پورې بیا هم مقاومت روان و. په دې مهال د ګل اغا شیرزي په مشرۍ د امریکا ګوډاګیانو د ارغسان د پله له خوا مسلسلې حملې کولې او دامریکایي الوتکو بمبار هم روان و منصور او ملګرو یې تر وروستۍ شیبې پورې مقاومت وکړ او بیا بیا یې ددښمن تعرضونه په شا وتمبول.

منصور صاحب دغه مهال چې د امریکایانو سخت بمبار روان و تر هغه وخته چې د اسلامي امارت مشرانو له کندهار ښار څخه د وتلو پریکړه کوله همیشه دمیدان په شاوخوا کې اوسیده او ددښمن په خلاف یې مقاومت ته ادامه ورکوله.مولوي مطیع الله صاحب وایي دغه وخت ورته د امریکایانو او ګل اغا شیرزي لخوا یو چا خط راووړ چې منصور صاحب ته یې په کې لیکلي وچې: نور راشه تسلیم شه، سر به دې په امن وي او کنه زموږ زور نلرې او له شکست سره به مخامخ شې. منصور صاحب د دښمن استازي ته وویل چې ورشه ورته ووایه چې څه زور لرئ ټول وکاروئ، زما د تسلیمۍ فکر مه کوئ او نه به هم کله تسلیم شم.خپل وس کوئ او خپل وس به کوم.

مولوي مطیع الله وایي منصور صاحب د کندهار په دفاعي خط کې تر وروستۍ شیبې د مقاومت اراده درلوده یو وخت ورته یوه ملګري وویل چې له میدان څخه به

مهمات او درنې مرمۍ دریګ او میوند خواته انتقال کړو. ده ورته وویل چې له هغه ځایه یې بیا نه شو راوړلی تر څو چې یو همدلته به یې مصرفوو.

ملا عزیز الرحمن هم د منصور صاحب اړوند د همدې وخت یوه خاطره ذکر کوي او وایي: په همدې سخت وخت کې چې د افغانستان ډیرې سیمې داسلامي امارت له واکه وتلې وې او یوازې کندهار ښار پاته و او سخت بمبار هم شروع وو یوه ورځ ورسره له ترنک پله تر ښار پورې په موټر کې ملګری وم نو یې همدا مذاکره کوله چې: حالات ډیر سخت دي، خو باید زموږ عزم متزلزل نه کړي،دا د الله تعالی تقدیر دی چې کله سرې پاچا وي او کله بیا ګدا شي.دا هر څه د بندګانو دازمویلو لپاره کیږي نو موږ باید خپله عقیده او عزم ونه بایلو او له دین سره خپل تعهد وساتو.

خو کله چې د اسلامي امارت مجاهدینو له کندهار ښار څخه د وتلو پریکړه وکړه منصور صاحب هم په هماغه وروستۍ ورځ له کندهار ښار څخه ووت او د میوند ولسوالۍ بند تیمور ته لاړ او د امریکایي یرغل په خلاف یې له سره د جهادي مقاومت د تداوم هڅې پیل کړې.

د محترم منصور صاحب په جهادي ژوند کې د امریکا په ضد د جهاد مرحله د ده لپاره له سختو آزمایښتونو او چیلنجونو ډکه دوره وه .دغه وخت نوموړي ته د مرحوم امیر المؤمنین لخوا د اسلامي امارت د رهبري شورى پر عضویت سربیره د کندهار ولایت جهادي مسؤلیت هم وسپارل شو.

دا مهال د کندهار ولایت د افغانستان د نورو ولایتونو په څیر د امریکایانو خلاف جهاد کې یو تکړه ، او ماهر جهادي مسؤل ته اړتیالرله ؛ ځکه امریکایانو د ټول جنوب لویدیځ زون په سطحه جنګي پلانونه له همدې ولایت څخه د مجاهدینو په خلاف طرح کول او همدا لامل و چې تر هلمند وروسته د ټول زون په کچه په کندهار ولایت کې زیات شمیر امریکایي، کاناډایي او نور بهرني یرغلګر ځای پرځای او تر بګرام وروسته لویه مرکزي اډه یې هم د کندهار ولایت په هوایي ډګرکې فعاله کړه.

خومنصور صاحب دخپل جهادي بصیرت له مخې په کندهار ولایت کې د ټولو موجودو خارجي یرغلګرو پرخلاف داسې جهادي پلانونه طرح کړل چې د هغوی د وخت مشهور پوځي جنرالان او نظامي ماهرین یې له مخنیوي او مقابلې څخه عاجز ول.

په کال ۲۰۰۳ م او ۲۰۰۸ م کې د کندهار ولایت د مرکز ي محبس د مجاهدینو په لاس دوه ځلې په حیرانوونکې توګه ماتیدل چې له مخې یې په دواړه ځلي مجموعا تر یونیم زر زیات اسیر مجاهدین د دښمن له اسارت څخه راخلاص کړای شول هم د منصور صاحب د مسؤلیت په مهال تر سره شول.دغه راز د کندهار ښار ته څیرمه سیمو سربیره په جنوبي او شمالي ولسوالیو کې د جهادي قیام پیل او اطرافي سیمو ددښمن له واکه ایستل،په کندهار ښار کې د چریکي ښاري جګړې تداوم،د دښمن په مراکزو د سترو استشهادي عملیاتو ترسره کیدل او ډیرې نورې جهادي کارنامې هغه څه دي چې د شهید منصور صاحب د مسؤلیت په مهال یې په کندهار ولایت کې صورت موندلی.

د اسلامي امارت د نائب په توګه

چې کله په۲۰۰۷ م کال کې داسلامي امارت پخوانی مرستیال الحاج ملا عبیدالله اخند د پاکستاني حکومت لخوا اسیر شونومرحوم عالیقدرامیرالمؤمنین رحمه الله ، ملا اختر محمد منصورداسلامي امارت له بل مرستیال محترم ملا برادراخند سره داسلامي امارت ددوهم مرستیال په حیث وټاکه او دا هدایت یې هم ورته وکړ چې کندهار ډیر مهم دی دهغه ولایت مشرتوب به هم نه پریږدي او دواړه دندي به پرمخ وړي.

په کال ۲۰۱۰ میلادي کې هغه مهال چې د اسلامي امارت یو مرستیال الحاج ملاعبید الله اخند د پاکستاني ځواکونو په اسارت کې شهید او بل مرستیال یې ملاعبدالغني برادر د امریکایي او پاکستاني مشترکو قواوو لخوا په پاکستان کې اسیر کړای شو امیر المؤ منین ملامحمد عمر (مجاهد) محترم منصور صاحب د اسلامي امارت د مرستیال او د امارت د ټولو چارو د عمومي مسؤل په توګه وټاکه .

دا هغه مهال و چې د اوباما لخوا افغانستان ته ۳۰۰۰۰ نوي اضافي ځواکونه را لیږل شوي او په افغانستان کې جهادي مقاومت له سترو ننګونو سره مخ و .ځکه د یرغلګرو تر یولک زیات په تر ټولو پرمخ تللیو وسلو مجهز خارجي ځواکونه د سلګونه زره داخلي پوځیانو ترڅنګ له مجاهدینو سره د هیواد په ګوټ ګوټ کې په جګړو ښکیل ول.

له یوې خوا د نهایت حساسو امنیتي شرائطو له وجې د مقاومت د پوځي رهبري لپاره د اسلامي امارت امیر ملامحمد عمر (مجاهد) راڅرګندیدل ناشونی کار ګڼل کیده له بلې خوا په جهادي جبهه کې د پوځي او اداري قیادت تشه هغه څه ول چې دمقاومت پله یې په بشپړه توګه د دښمن په لور درنوله.



په مجاهدینو باندې پر پوځي فشار سربیره د دښمن لخوا نور سیاسي او تبلیغاتي فشارونو هم ډیر زیات شوي او د مقاومت په سنګرو کې یې ډیر شمیر جهادي چارواکي په شهادت رسیدلي ول اوګڼ شمیر مشران مسؤلین اسیران ول .

په دغسي یو حساس وضعیت کې د مرحوم امیر المؤمنین ملامحمد عمر (مجاهد) لخوا د صلیبي یرغلګرو په وړاندې د مجاهدینودسمبالښت مسؤلیت د محترم منصور صاحب په غاړه ور واچول شو. محترم منصور صاحب عملا وکړای شول چې دالله تعالی په نصرت اودرهبري شورئ په مرسته د مقاومت په تر تولو حساسو شیبو کې هغه په داسې ډول رهبري کړي چې مجاهدین په هیڅ ډول د عملي قیادت تشه احساس نه کړي .

هماغه و چې ۲۰۱۰م کال په افغانستان کې د صلیبي ځواکونو لپاره د هغوی په خپل اعتراف تر تولو خونړی کال ثابت او مجاهدینو وکړای شول تر بل هروخت په همدي کال کې ډیر موثر او کاري ګوزارونه پر دښمن ترسره او په ترڅ کې یې خپله د دښمن په اعتراف ۷۷۰ تنه خارجي یرغلګر و وژني.

همدا راز مجاهدینو د منصورصاحب په قیادت کې وکړای شول چې له دښمن نه ډیري پراخي سیمي فتحه او منظمه اسلامي اداره پکې رامنځ ته کړي .

د امیر المؤمنین ملامحمدعمر (مجاهد) تر وفات وروسته

د ۱۳۹۲ هجري شمسي کال د ثور د میاشتې په څلورمه نیته چې کله امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد وفات شو نو داسلامي امارت د رهبري شورئ یو شمیر غړیو، جیدوعلماء کرامو ، په تیرو دوولسو کلنو کې د مرحوم ملا محمدعمر (مجاهد) د ځانګړي قاصداو د نوموړي دائمي ملګروکوم چې د وفات تر وخته له نوموړي سره یوځای اوسیدل ټولو له منصور صاحب سره بیعت وکړ او نوموړی یې د اسلامي امارت د امیر په حیث تعین کړ

دا چې ۲۰۱۳ کال د صلیبي اشغالګرو او له هغو سره مقاومت کوونکو مجاهدینو ترمنځ د مقابلې او زور آزمویلو وروستی کال و نو د اسلامي امارت د رهبري شورا مهمو قیادي اعضاوو اویوشمیرشیوخو علماءکرامو دا پریکړه وکړه چې اوس مهال د امریکاپه مشرئ د صلیبي اشغال د زور ازمو یلو وروستی شیبې دي او ۲۰۱۴م برخلیک ټاکونکی کال چې اشغال ګرو د خپلو ځواکونو د پرشاتګ لپاره د وروستي کال په حیث تعین کړی په مخ کې دی نو د جهادي مصلحت او علماء کرامو د موافقې له مخې به دا غوره وي چې د مرحوم امیرالمؤ منین د وفات خبره دې له همدغو محدودوکسانو پرته بل چاته ښکاره نشي .

هماغه و چې دا اساسي راز په ډیر خارق العادته ډول د خاص جهادي مصلحت پر اساس د ۲۰۱۵ کال د جولای د میاشتې تر ۳۰ نیټې پوري پټ وساتل شو.

د اسلامي امارت د منتخب امیر په توګه

کله چې د ۱۴۳٦ هجري قمري کال د شوال المکرم میاشتې په ۱۴ نیټه چې د ۲۰۱۵ میلادي کال د جولای د میاشتې له ۳۰ نیټې

سره سمون خوري د اسلامي امارت د رهبري شورى له لوري د مرحوم اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله وفات رسما اعلان شو.

منصور صاحب د مجاهدينو د لانښه اطمنان په خاطر د رهبري شورى غړواوعلماء کرامو ته د خپل برخليک او د نوي زعيم د ټاکلوپه اړه اختيار ورکړ او داخبره يې ورته وکړه چې تاسو چې کوم شخص د زعيم په حيث غوره کوئ زما پرې خوښه او موافقه ده .

هماغه و چې د افغانستان د اسلامي امارت د رهبري شورى اعضاوو، د مشائخو او مخورو علماء کرامو په ګډون يوې غونډې چې د اهل الحل و العقد له اعتبار څخه برخمن ول د محترم منصور صاحب له حضور اوموجوديت پرته تر اوږدو بحثونو ، مصلحت سنجولو او مشورو وروسته نوموړى د اسلامي امارت د نوي امير په حيث وټاکه .

د اسلامي امارت د امير په توګه د محترم ملا اختر محمد (منصور) له ټاکل کيدو سره سم د اسلامي امارت د رهبري شورا غړيو، داسلامي امارت دټولو کميسونونو مشرانو د قضاء او محاکمو عمومي مسؤلينو نظامي قومندانانو او د افغانستان د ۳۴ ولايتونو جهادي مسؤلينو، د نظامي کميسيونونو مشرانو، د هيواد علمي،ملي ، جهادي، سياسي او فرهنګي شخصيتونو او د اسلامي امارت ټولو وسله والو ځواکونو او ملکي چاروواکو په يوه غږ د اسلامي امارت له نوي امير منصور صاحب سره بيعت اعلان کړ. دغو ټولو پوځي او ملکي لوريو او د هيواد ملي شخصيتونو خپل بيعتونه په صوتي او کتابتي بڼه د افغانستان د اسلامي امارت نشراتي څانګې ته وليږل چې وروسته د هغوى لخوا د اسلامي امارت په مرکزي ويب پاڼي الاماره ويب سايټ کې هم نشر شول.

د نوي امير په توګه تقرر يې د شريعت له نظره

علماء کرام او اسلامي سياست پوهان په اسلام کې د زعيم دانتخاب لپاره تر ټولو سمه او غوره لاره د شورى يا اهل الحل والعقد لخوا څخه ټاکنه بولي د اهل الحل والعقد اطلاق په هغه ټولي کيږي چې په علم، تجربې او هوښيارۍ لرونکو اشخاصو باندې مشتمل وي او معمولا د يوې شورى اطلاقورباندې کيدلى شي.

د خلفاء راشدينو د ټاکل کيدو له بيلابيلو طريقو څخه په عمومي استنباط د شورى له لارې د زعيم ټاکلوته درى مرحلې معلومې شوي دي،چې لومړۍ دترشيح مرحله ، دوهمه د انتخاب او دريمه د بيعت مرحله ده. ترشيح يا د مشرۍ لپاره نوماند کيدل به خپله د هغه کس لخوا څخه نه وي ځوک چې زعيم ټاکل کيږي ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

> إنا والله لا نولي هذا العمل أحدا سأله , أو أحدا حرص عليه (متفق عليه) (اخرجه البخاري (۷۱۴۹) ومسلم (۱۷۳۳)
>
> ژباړه : په والله چې موږ به هغه څوک په دې(د مشرۍ په کار) ونه ټاکو کوم چې خپله يې غواړي او يا يې حرص لري.

نو ترشيح به د بل چا لخوا يا د يوه تن وي لکه عمرفاروق رضى الله عنه چې د ابوبکر صديق رضى الله عنه لاس ونيو او د زعامت لپاره يې وړانديز کړاو بيا صحابه کرامو د امام په حيث انتخاب کړ او يا به د ډيرو کسانو وي لکه عمرفاروق رضى الله عنه چې له شهادت وړاندې شو صحابه د خلافت لپاره ونومول او د هغو له منځه حضرت عثمان رضى الله عنه وټاکل شو.

ملا اختر محمد منصور صاحب هيڅکله ځان په خپله د مشرۍ لپاره نه دى نوماند کړى، بلکې نوموړى په لومړنۍ غونډه کې هم د مشرۍ لپاره د يوازيني کانديد په حيث د شورا لخوا نوماند شو او په دوهمه غونډه کې يې هم صراحتا شورى ته وويل چې زه د مشرۍ غوښتونکى نه يم بلکې د يوه مأمور په حيث خدمت مې زړه غواړي، خو شورى نوموړى د زعامت د يوازيني وړ کس په حيث نوماند کړ، وروسته له اوږدو بحثونو نوموړى د همدې شورى لخوا چې په علماء کرامو،شيوخو او د اسلامي امارت د رهبري شورى په غړو مشتمله وه چې ټول د علم او جهادي تجربې خاوندان دي لخوا د زعيم په حيث انتخاب او ورپسې لومړى د شورى غړو ورسره بيعت وکړ او وروسته نورو مسئولينواو عامو مجاهدينو او مؤمنينو ورسره د بيعت لړۍ پيل کړه.

په دې توګه ويلى شو چې د نوموړي انتخاب په بشپړه شرعي طريقه ترسره شو چې له همدې امله د هيواد له ساره او اوږده څخه په نورو لکونوانسانانو سربيره سلګونو

د قرآن او احاديثو مشائخو د نومورې زعامت قبول کړ ، شرعي يې وباله او بيعتونه يې ورسره وکړل.

د شخصیت په اړه یې

د افغانستان د اسلامي امارت دوهم زعيم اميرالمؤمنين ملا اخترمحمد (منصور) د اسلامي امارت په تأسيسي غړيو کې يو خورا مدبر، مؤثر او مسلط شخصيت ګڼل کيدو.نومورى په موهوبوي شکل د قيادت او رهبرى له ځانګړو مشخصاتو څخه برخمن و .تقوى، اخلاص، جهادي بصيرت، سياسي درايت او د کارونو په عملي کولو کې اداري نظم او جرأت يې کاري مشخصات و .

شهيد ملا اخترمحمد منصور صاحب د اسلامي امارت د اړونده جهادي فعاليتونو په تعقيب او تنفيذ کې د خپل جهادي رهنما مرحوم ملامحمد عمر (مجاهد) نقش قدم روان و، د جهادي اهدافو تحقق، له خارجي اشغال څخه د هيواد خپلواکي او په هغه کې د شرعي نظام ټينګښت يې د جهاد او مبارزي اساسي هدف و، د(وامرهم شورى بينهم) په اساس په کارونو کې د ملګرو سالمې مشورې په غورسره اوريدل، اهل کار کسانوته مسؤليت سپارل او تر مسؤليت سپارلو وروسته ورباندې پوره اعتماد کول،مسؤلو کسانوته تل پر ولس باندې د ترحم او خواخوږي سپارښتنه کول د نومورې ښکاره مشخصات و .

پردې خبره يې ډير ترکيز درلود(چې اسلامي امارت دټولو افغانانو ګډ کوردہ نو همداسي بايد ټول خپل ځان پکي ووينې)

د شهيدمنصور صاحب د شخصيت په اړه دده نږدې ملګري وايي چې نومورى متواضع، مخلص او جرأتمن شخصيت و. له بيت المال سره يې احتياط کاوو. ساده ژوند يې خوښ و. د نومورې ملګرى ملا عبدالباقي اخند وايي چې د امارت د واکمنۍ په وخت چې وزير و ليدلى يې دى چې تر ولاياتو پورې به يې د لين په عادي موټرو کې سفر کاوو. نومورى وايي په شل کلنه ملګرتيا کې يې د منصور صاحب کومه بده خبره او تر خه وينا نه په ياديږي. له خپلو تحت الامر کسانو سره يې د يوه ملګري په حيث چلند کاوو.

ملا نور احمد اغا چې د منصور صاحب له نږدې کسانو څخه و وايي چې منصور صاحب ډير متوکل سړى و او سره له دې چې ډير خطرات ورته متوجه نومورى به هميشه پيدا کيدلاى شواى. دده په خبره د معاونيت او امارت په ټوله موده کې يوازې دوه ورځې داسې شوي چې له مجاهدينو سره د منصور صاحب رابطه پرې شوي وي او د احتياط په خاطر يې ځان غائب کړى وي. نور به هر وخت د ځانګړو استازو په توسط له ده سره د مجاهدينو رابطه کيدلاى شواى او لازم هدايات يې ورکولاى شواى.

د شهيد منصور صاحب زوى ملافتح الله وايي چې منصور صاحب ورته هميشه په علم او استعداد لوړولو باندې تاکيد کاوو او ويل به يې چې د ښه خدمت لپاره لومړى ښه استعداد ضرور دى او د هر ديني خدمت لپاره د علم زده کړه شرط بلل کيږي.نومورى وايي چې منصور صاحب له شهادت نه يوه نيمه مياشت مخکې يوه ورځ وويل چې د ژوند تر ټولو ستر ارمان مې پاک او مخلصانه شهادت دى.

فکري او مذهبي ليد لورى يې

محترم ملا اختر محمد منصور په مذهبي لحاظ د اهل سنت والجماعت پلوى او د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله د مذهب مقلد و .د وخت او زمان د سياسي جرياناتو په نزاکت ښه بلد و.

له نومورې سره د مخامخ کيدو پرمهال سړي د ده سنجيده ګي، وقار او متانت ښه درک کولاى شواى، سادګي او بي تکلفي يې د ژوند ځانګړې مشخصه وه .

د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم او خلفاء راشدينو د سيرت له مطالعې سره يې خاصه دلچسپي درلوده، هميشه يې له خپلو ټولو جهادي او اداري بوختياووسره سره رسنى په ډير دقت تعقيبولې، جهادي ليکوالانو او د امارت فرهنګي اونشراتي کارکوونکوته يې د هغوى په نشراتي فعاليتونو کې خاصې مشورې او ځانګړې توصيې ورکولې .

شهادت يې

بالاخره د حق د لارې دغه مخلص او فداکار مجاهد چې د اسلامي امارت د زعيم په حيث د ټاکل کيدو يې لا کال نه و پوره شوى د امريکا د بي پيلوټه الوتکې په بريد کې د شهادت لوړ مقام ته ورسيد چې د نومورې د شهادت او نوي زعيم د ټاکل کيدو اعلان د اسلامي امارت لخوا په لاندې اعلاميه سره وشو.

څو خبرې او يادونې

بت شکن یوه خپلواکه، اسلامي، فکري او دعوتي اداره ده چې د هېڅ نماينده ګي نه کوي.

زموږ په خپرونو کې د ديني، سياسي او جهادي شخصيتونو ليکنې شته، چې د هر چا نوم ورسره ذکر شوی دی او د امت د ښېګنې لپاره نشر شوې دي.

د دې مجلې او زموږ د نورو خپرونو د نشر حق د هر مسلمان لپاره محفوظ دی.

زموږ د آدرسونو له لارې د خپلو ليکنو د نشر، انتقاد، پيشنهاد، مرستې او اصلاح لپاره کولای شئ زموږ سره په رابطه کې شئ!

ايمېل (Email) آدرس:

tamas@butshikan.com

ټلګرام آدرس:

tamas_butshikan

بت شکن اداره

سرونه پاته دي!

هاشمي

تانه به يې ځار کړو لا د ځار سرونه پاته دي
خدايه ستا په لار کې، ستا د لار سرونه پاته دي

کفره! ته به ستړی شې، خو مونږ به په خندا درځو
دلته د هدف د انتظار سرونه پاته دي

مونږ د استشهاد بلبلان، مونږ به ځو گلونو ته
زاغه! تاته تل د وچ چنار سرونه پاته دي

اې د آزادۍ ناوې! بدرنگه چېرته مه اوسه
ستا د غاړې هار ته، د سينگار سرونه پاته دي

مونږ د سپين بيرغ لپاره، ځو تر سپين بيرغ لاندې
کله به مو بېل کړي، شته د کار سرونه پاته دي

اې قربانۍ! تاته مو ساتلي ډېر سرونه دي
يو د "هاشمي" او نور بسيار سرونه پاته دي



بېشکه چې په دین باندې ټینګېدل او استقامت یوازې د الله تعالی او د هغه د دین له دښمنانو سره په جهاد کولو تر لاسه کېږي؛ له همدې امله الله تعالی د خپلو دښمنانو پر ضد جهاد فرض کړی او تر قیامته پورې یې باقي ساتلی دی. نو د جهاد اصلي هدف دا دی چې د الله تعالی حکم د هغه پر بندګانو او د هغه په ځمکه عملي شي.
او دا چې جهاد په خپل ذات کې ښه نه دی؛ ځکه په ظاهر کې د الله د بندګانو ځورول او د هغوی د سیمو ورانول دي، چې دا په خپله ښه والی نه لري؛ بلکې جهاد ځکه ښه ګرځېدلی چې د کافر د شر او فساد مخه نیسي، ځکه کافر د الله تعالی او مسلمانانو دښمن دی، نو جهاد د دې لپاره مشروع شوی چې کافران له منځه ولاړ شي، د حق او مؤمنانو عزت لوړ شي او د الله تعالی کلمه اوچته شي، لکه څنګه چې د اصول الفقه په کتابونو کې د دې ذکر شوی دی. نو که جهاد د کفر د شر او فساد له موجودیت سره سره پای ته ورسېږي (او د کفر له ماتې وروسته د شریعت تطبیق نه وي) بیا به یوازې وراني او عذاب وي او په هغه کې هېڅ ښه والی نشته او دا د هوښیار مسلمان کار نه دی.
له همدې امله د اسلامي امارت مجاهدینو ته جایز نه ده چې یوازې د امریکایانو او د هغوی د متحدینو په وتلو سره جهاد پرېږدي؛ ځکه دا د افغانانو د جهاد هدف نه و، بلکې د هغوی هدف دا و چې د الله تعالی قانون د افغانستان د خلکو پر ژوند حاکم شي او هغوی د شریعت تر بیرغ لاندې ژوند وکړي.

امیر المؤمنین شیخ القرآن و الحدیث مولوي

هبة الله آخندزاده حفظه الله

د «امارة الاسلامیة و نظامها» د کتاب له مقدمې څخه

بُت شکن

د فاتح سلطان محمود غزنوي رحمه الله په یاد کې